غورځنګ

اتم کال لوم ګڼه ، پرلپسې (۷۱) ومه ، رمضان المبارک (۱۴۳۵) هـ ق ، جولای (۲۰۱۴) ز کال

کابل کې داشغالګر وجنرالانو وژنو څه په ډاګه کړل؟!

وضعیت کنونی در غزه تاکید بر وحدت و یکپارچگی امت مسلمه دارد

هغه ګوزار چې انګازویې د سپینې ماڼې برجونه ولړزول

په هلمند کې رښتیا څه تېر شول ؟

دافغان مجاهدولس له لوري دغزې مسلمانانو ته ډالۍ !!!

دامارت پیغامونه

حضرت بلال (حبشي) رضي الله عنه

دکابل دبلواکو خپلواکي څه شوه؟

د مورچل ځلې

اتم کال اووم ګڼه، پرلپسې (۷۱) ومه، رمضان المبارک (۱۴۳۵) هـ ق، جولای (۲۰۱۴)

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینۍ خپرونه

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن نروی، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

ګڼه	مطلب	مخ
۱	کابل کې داشغالګرو جنرالانو وژنو	۱
۲	وضعیت کنونی در غزه	۳
۴	هغه ګوزار چې انګازویې د سپینې مانې	٦
۵	دافغان مجاهدولس له لوري	۱۰
۶	د کابل دبلواکو خپلواکي څه شوه؟	۱۲
۷	داسلام غزوات اوسرایا	۱۵
۸	دجهاد فقهي مسایل	۲۱
۹	حضرت بلال (حبشي) رضي الله عنه	۲٤
۱۰	په هلمند کې رښتیا څه تېر شول ؟	۲٦
۱۱	فضایل روزه ی شش روز شوال	۳۱
۱۲	د غزې ناورین د لویدیزې بشرپالنې	۳۵
۱۳	میخواهید شامل رحمت خدا شوید؟	۳۷
۱۴	ددعوت ،ارشاد، جلب اوجذب کمیسیون دجون	٤۲
۱۵	ذبیح الله څو شېبې له خپل ولس سره.....	٤٤
۱۶	شهیدې قافلې	٤۷
۱۷	جنګی جنایتونه	۵۰
۱۸	دامارت پیغامونه	۵۳
۱۹	دمورچل خبرونه	۵٤
۲۰	دمورچل ورمی	۹٦
۲۱	دمورچل البوم	
۲۲	دتلفاتو میاشتنی جدول	

لومړۍ پشتنۍ !میدان وردګ ولایت کې دیرغلګرو سوځول شوي تانکر

دوهمه پشتني دکنر او کاپیسا ولایت انځورونه

سر مقاله

کابل کې داشغالګرو جنرالانو وژنو څه په ډاګه کړل؟!

دیوه څه تکتیکي چوپتیا وروسته کابل کې بیا یوه با درکه افغان عسکر (رفیق الله) دامریکایي او الماني لوړ پوړیو جنرالانو اویوشمیر نورو اشغالګرو په وژنه دوئ ته ددې پیغام ورکړ، چې که هیوادکې پوځي هډې جوړې کړې، شاید هوساژوند ونکړای شي او ددوې غوندې لویې لویې پوځي او سیاسي ککرۍ به یې یوه په بلې پسې راورغړي!.

یوه با احساسه افغان عسکر دکابل دقرغې فرقې په پوځي اکاډمۍ کې پرنیواکګرو ناتاره ډزې وکړي، چې له امله یې دواشنګټن او برکسل برجونه ولړزیدل او دیرغلګرو دغرور څلې یې رانسکورکړل ، واشنګټن پوست ورځپاڼې، (اې بي سي) تلویزیون اونورو لویدیځو رسنیو د پینټاګون او غربي پوځي مقاماتو په قول ویلي ،چې د روان کال دزمري دمیاشتې په (١٦) نیټه د سه شنبه پر ورځ په دغه پوځي اکاډیمۍ کې د یوه افغان سرتېري په ډزو یو لوړپوړی امریکایی (تورن جنرال هارلډ ګرین) ووژل شول او د یوه بل جرمني بریدجنرال په ګډون نژدې (٢١) یوویشت افغان او بهرني پوځیان مړه او ټپیان شول.

دغه برید په داسې مهال کې تر سره شو، چې په همهاله وخت کې د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز کې هم د ولایت په مقام کې دننه پر بهرنیو عسکرو دیو با احساسه پولیس لخوا برید وشو، چې له امله یې یو شمیر امریکایان قتل او ټپیان شول، او نوموړی قهرمان پولیس هم د دښمن په ډزو شهید کړل شو.

تردې وروسته په ارزګان اونورو ولایتونو کې همدا ډول بریدونه ترسره شول اومزدورو عسکروته یې دسر درانده تلفات واړول اوپه یوه بل اتلوال برید کې چې دپروان دبګرام د(نیازیو) په کلې کې دیوې کلیوالې مجاهدې پیغلوټې (نازنین) لخواپه چریز ټوپک دیوه امریکایي یرغلګر ایشتل اوبیا ددې مجاهدې شهادت دیرغلګروپه وړاندې دټول ولس دنفرت او کرکې جوت ثبوت اوپه مقابل یې دداشانې فدایي بریدونو هغه تود بهیر دی ،

چې لا هم به دالړۍ خوراتونده روانه وي او شاید مستقبل دډیرو داسې اتلوالو بریدونو شاهد وي .
داسې اغیزمن بریدونه پداسې مهال کې ترسره کیږي، چې دامریکایانو په طرح اوپلا ن دټولټاکنو افغاني ډرامه هم کومې مثبتې پایلې ته ونه رسیده او داسلامي امارت مدبرانه جهادي تکتیکونو دالله جل جلاله په مرسته سبوتاژ کړه ،

چې له امله یې دامریکایي پوځي هډو د سند دلاسلیکیدو ربړه همداسې ورسره دنامعلوم برخلیک په تروږمۍ کې ګمنامه پرته ده اومعلومه نده چې څه به پیښ شي ،خو دحالاتو له مطالعې او دیرغلګرو له نهیلۍ بریښي، چې نور نو داشغالګرو د شومواميدونو غوټۍ په مړاوي کیدو دي او خوبونه یې بې تعبیره شوي .کابل کې د یرغلګرو په لاس د روزل شوي افغان عسکر لخوا داشغالګرو د دوو سترو پوځي جنرالانو وژنه دوئ ته ددې بارز پیغام ورکوي، چې که هرڅومره دوئ په افغاني عسکرو لوړ لګښتونه وکړي او دخپلو راتلونکیو نامقدسو موخو دترسره کولو لپاره ورته لیوال واوسي، پایله کې به هم دا افغان عسکر دخپل مسلمان ولس په څنګ ودریږي او دیرغلګرو اهداف به پلي کیدو ته نه پریږدي ،شک نشته چې افغانان په اسلام او خاورې میین قام دی اود تاریخ په اوږدو کې تل دداسې دسایسو څخه کامیاب راوتلي دي ،نو انشاءالله تعالی چې ددې امتحانه به هم بریالي راووځي .

داسې سربښندونکې بریدونه که دیوې خوا دیوه ویښ ضمیر خاوند ته پر پیرنګي ښکیلاکګر (مکناټن) دننګیالي (وزیرمحمداکبرخان) دچاړې خرپ یادوي ،نو دبلې خوا ددې وخت پیرنګیانو ته ددې ډاګیز پیغام ورکوي، چې نن هم هر افغان (اکبرخان)(ایوب خان)او (ملا مشک عالم)دی ،نن هم پکې هماغه جهادي جذبه ژوندۍ ده او هماغسې دخونکارو نیواکګرو ککریو رغړیدل خپله دیني وجیبه بولي .

لیرې به نه وي، چې نور داسې ډیر ویښ افغان عسکراو کابل دغلامې اردو په لیکو کې په جهادي هوډ منظم شوي با احساسه زلمیان داسې غاصبو جنرالانو او د دوئ دمزدورانو ککرۍ خاورې کړي او دخپلو سرونو په نذرانواود معصومو وینو په توییدو داسلام اوهیواد دخپلواکۍ ډیوه بله وساتي او نړیوالو اشغالګرو ته دا په اثبات ورسوي، چې ددې هیواد هر بچی ددې هیواد او خپل سپیڅلې دین سره بې کچه مېنه لري او په لاره کې یې د هیڅ راز قربانۍ نه دریغ نه کوي !

وضعیت کنونی در غزه

الیاس عاصم

تاکید بر وحدت و یکپارچگی امت مسلمه دارد

تقریبا یک ماه میشود که مردم مظلوم غزه در فلسطین تحت حملات وحشیانه اسرائیلی های غاصب قرار دارند.

ابتدأ این حملات زمانی آغاز شد که

اسرائیلی ها یک پسر ۱۵ ساله فلسطینی را زنده آتش زدند و بعدا وی را به بسیار وحشت به شهادت رساندند.

در پی این وحشت اسرائیلی ها، به تاریخ ۲۱ ماه جون سال جاری سه نوجوان صهیونیستی ناپدید شدند و اسرائیل بدون کدام دلیل حماس را مسئول این ناپدیدی دانسته بر غزه حملات راکیتی را آغاز نمود.

بخش نظامی حماس(مجاهدین قسام) دست به اخذ انتقام زدند و چند راکیت را به سوی اسرائیل شلیک نمودند.

اسرائیل در عکس العمل به شلیک راکت ها تمام کرانه غزه را تحت حملات هوای و زمینی قرار

داد و ۲۲ روز میشود که حملات وحشیانه خود را بر مردم ملکي، تأسیسات ملکی و اهداف ملکی در غزه ادامه میدهند.

راپورها میرسانند که تا کنون ۱۷۵۰تن از مردم ملکی اعم از کودکان، خانمان وبزرگ سالان به شهادت رسیده اند، بیشتر از ۹ هزار تن مجروح گردیده اند، به شمول دستگاه مهم برق درغزه و چند مرکز تربیوی مربوط به ملل متحد هزاران تأسیسات ملکی ویران شده و از استفاده باز مانده اند.

درمقابل مجاهدین قسام نیز بیشتر از ۱۷۰۰ راکیت را بر تلابیب مرکز اسرائیل شلیک نموده اند، ونیز حملات دیگری را نیز علیه نیروهای زمینی اسرائیل انجام داده اند که حسب امار تایید شده به تعداد ۵۴ تن نظامیان اسرائیلی کشته شده اند، بیشتر از صد تن افراد نظامی مجروح شده اند، زیاتر از ۱۰ عراده تانک تخریب گردیده و نیز مراکز مهم نظامی اسرائیل آسیب دیده است.

عکس العمل ها در برابر وضعیت در فلسطین:

کشورهای عربی:

تمام کشورهای عربی که دارای نظام، حاکمیت، نیروه و اقتصاد نسبتا بهتر هستند، حالت را در غزه نظاره میکنند، هیچ اقدام قابل توجه را نه نموده اند، بدون کمکهای ناچیز بشری با مردم ملکی فلسطین هیچ اقدام عملی بخاطر جلو گیر ظلم و وحشت در غزه را روی دست نه گرفته و سعی دارند که خود را نسبت به وضعیت خاموش گیرند و گویا مسئله غزه ارتباطی چندان به سایر عربها نه دارد.

سائرکشورهای اسلامی:

کشورهای اسلامی که اکنون دارای نظامهای عاری از دید دینی هستند و اکثریت کشورها در بند و هوده یی امریکا قرار دارند نیز نه توانسته اند که کاری را انجان دهند تا باعث تغیر وضعیت در غزه شود و مردم مظلوم غزه از قتل بی رحمانه نجات یابند.

امریکا و اروپا:

امریکا حملات اسرائیل را علیه غزه توجیه نموده، آن را استفاده از حق دفاع اسرائیل دانسته وملامتی را علیه فلسطینیان خصوصا گروه جهادی حماس انداخته که چرا علیه اسرائیل دست به حملات انتقام جویانه زد است؟

اروپایان نیز که خود را در سائر نقاط جهان مدافعین درجه یک حقوق انسان، طفل و خانمان میداند، کشتار ملکی را محکوم می نمایند و داد از صلح و آرامش در جهان میزنند، در مورد وضعیت کنونی فلسطین

خاموش هستند و گویا اسرائیل را فرصت و جواز وحشت وکشتار مردم ملکی میدهند.

گروهای اسلامی درجهان:

گروهاو احزاب اسلامی در جهان اسلام نسبت به وضعیت در غزه عکس العمل های خود را نشان داده اند، ظلم و وحشت را در غزه محکوم نموده اند، هم صدایی خود را با فلسطینیان ابراز داشته اند ولی کافی نه بوده و نه هم این گروها توان عملی آن را دارند که مشکلات درونی خود را ترک نموده و به داد مردم غزه برسند، ولی دیده میشود که قلبا با مردم فلسطین هستند، اشک میریزند و وضعیت در غزه برای شان غیر قابل تحمل و برداشت است.

چون حالت کنونی درغزه، حلقهء از وحشت بیشتر از ۲ دهه قبلی است، علاج عاجل ندارد؛ ولی در دراز مدت میتوان از این حالت درس عبرت گرفت و در برابر چنین حالت موقف عملی اتخاذ نمود.

تمام مسلمانان در جهان خصوصا حلقات جهادی باید درک کنند که بیرون رفت از وضعیت کنونی در یک پارچگی و وحدت مسلمین نهفته است، جوانان و افراد بااحساس در تمام کشورهای اسلامی باید روی عقیده، ایمان و مکلفیت دینی خود برخیزند و گامهای عملی را در راستای وحدت ویکپارچگی خویش بردارند.

اگرنیروهای جهادی در جهان اسلام با هم بایستن، ویک نیروه متحد جهادی را به میان بیآورند که پابند به اصول دینی و شرعی باشند، اختلاف ومسائل جزوءیی را در داخل دامن نه زنند، روی اهداف عموم و شرعی دست به مبارزه علیه تمام عوامل شر و فساد در جهان اسلام زنند، ان شاءالله میتوانند که جلو تمام مظالم را در غزه وسائر نقاط جهان اسلام بگیرند.

مسلمین اکنون در حالت دفاعی قرار دارند ولی اقتضاء وضعیت این است که حالت باید تغیر کرد، کشورها، نیروها، و باندهای ضد اسلامی در هرجا و هرنقطه جهان باید تحت حملات قرار گیرند، خصوصا امریکا ومتحدین آن که همواره علیه مسلمین دسیسه چیده اند، اسرائیل را حمایت کرده اند، به نیروه های اسرائیل اسلحه داده اند وامکانات ظلم و حشت را فراهم نموده اند.

هغه کوزار

چې انګازوبې د سپینې ماڼې بد جونه ولډ زول

شاهد غزنیوال

د روان کال د زمري د میاشتې په ۱۶ د قرغې په پوځي اکاډمۍ کې ترسره شوی برید د خپل نوعیت له مخې یو بیساری برید وه.

دا برید دپکتیا ولایت د یوه شل کلن نفوذي مجاهد رفیق الله لخوا د پوځي اکاډمۍ دمراسمو په هغه غونډه تر سره شو کوم چې ډیری ګډونکوونکي یې امریکایي ، انګلیسي او جرمني لوړ پوړي پوځي چارواکي ول.

که څه هم چې د دې لیکنې تر لیکلو پوري د نوموړي برید بشپړ جزئییات نه دې خپاره شوي، کوم معلومات چې غربي رسنیونشر کړي هغه هم د بهرنیو آژانسونو دهغو ژورنالیستانو سري معلومات دي چې د خپلو شخصي اړیکو په اساس یې دبهرنیو ځواکونو له پوځي منابعو په سري ډول ترلاسه کړي.

کورنۍ رسني او دهغوی خبریالان د پیښې په اړه ځکه معلومات نه لري چې د مراسمو غونډې ته یې له پیله د ورتللو اجازه نه لرله.

په دغه تاریخي برید کې وژل شوي امریکایي دری ستوریز تورن جنرال هارلډ ګریني هغه لوړ پوړی امریکایي چارواکی دی چې د ویتنام له جګړې راهیسې امریکایي پوځ دومره لوړ رتبه جنرال له لاسه نه دی ورکړي.

په دې برید کې د امریکایي تورن جنرال هارلډ ګریني د وژل کیدو ترڅنګ ۲۱تنه نور بهرني پوځیان چې دهغو په جمله کې یو هم المانی برید جنرال دی چې سخت ژوبل شوی او دمعالجې لپاره خپل هیواد ته وړل شوی.

د برید محاربوي اهمیت:

دا برید د خپل تکتیکي او محاربوي نوعیت له مخې د جهادي مقاومت په ۱۳ کلنه دوره کې تر ټولو بریالی برید بلل کیږي .

په یاد برید کې د دښمن د تلفاتو کچه ډیره لوړه او وژل شوي کسان د اشغالګرو تر ټولو لوړ رتبه افسران ول.

یاد برید د هغې پوځي اکاډمۍ د روزل شویو پوځیانو دجملې دیوه تن هغه افغان پوځي لخوا ترسره شو کوم چې د هغوی په روزلو بهرنیانو ۴۲ ملیون ډالره لګښت کړی .

په داسې یوې اکاډمۍ کې چې په هغې کې د افغاني پوځیانو د شمولیت لپاره ډیر ټینګ امنیتي مقررات په پام کې نیول شوي وي د شهید رفیق الله په څیر نفوذي مجاهدینو نفوذ اوموجودیت د بهرنیو ځواکونو لپاره سخت د اندیښنې وړ خبره ده .

د برید تر پیښیدو وروسته بهرنیو ځواکونو دا اعلان وکړ چې په یاده پیښه کې دیوه ولسي افغان ترڅنګ د آیساف ځواکونومربوط یوتن کار کوونکی هم ښکیل دی .

که ریښتیاهم په یاد برید کې د ایساف ځواکونو مربوط کارکوونکی ښکیل وي نودابه په دې معناوي چې مجاهدین په دې توانیدلي چې د افغان ځواکونو ترڅنګ یې د آیساف په مربوطو ځواکونوکې هم نفوذ کړی او بیا دهغو نفوذي کسانو په وسیله په امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو باندې داشان مرګونې ګذارونه کوي.

د برید په اړه غبرګونونه.

داچې په برید کې د بهرنیو ځواکونو د پرشاتګ د قومندانۍ مرستیال تورن جنرال هارلډ ګریني ووژل شو نو طبعا په اړه یې له اوباما رانیولې تر کرزي پوري ټولو غربي چارواکو خپل د تأثرغبرګونونه ښکاره کړل .

اوباما په خپل غبرګون د امریکایي جنرال وژل کیدل د امریکایانو لپاره لویه ضائعه وبلله ، او له بریده څو شیبې وروسته سمدستي یې د بهرنیو ځواکونو له عمومي قومندان جنرال دانفورد سره ټلیفوني اړیکه ټینګه کړه او له نوموړي څخه یې د پیښې ټول جزئییات وغوښتل .

همدا راز د ایساف ځواکونو عمومي قومندانۍ د نوموړې پیښې د تحقیقاتو لپاره ځانګړی پلاوی تعین کړ تر څو دا خبره معلومه کړي چې دغه نفوذي مجاهد څرنګه وتوانیده چې په دغسې مهم وخت کې خپل برید په کامیابي سره ترسره کړي.

د برید سیاسي اوتبلیغاتي تبعات .

داچې روان ۲۰۱۴کال په افغانستان کې د مقابلې د دواړو لوریو (اسلامي امارت اوامریکایانو) لپاره یو برخلیک ټاکونکی کال دی .

نو دمقابلې دواړه خواوې د دې کوښښ کوي چې د پوځي مقابلې پله د ځان په لوري درنه کړي.

اسلامي امارت دکال په لومړۍ ربع کې د بهرنیو اشغالګرو پرخلاف د خیبر په نوم جهادي عملیات اعلان کړل ، که څه هم چې دغه عملیات د تیر په څیر له پوځي اړخه ښه پرمخ روان دي ، خو دښمن د خپلو تبلیغاتو په مټ د هغوی د ناکام ښودلو کوښښ کوي ، دښمن په خپلو پروپاګندویي تبلغاتو کې دا خبره ډیره تکراروي چې اسلامي امارت د بهرنیو او داخلي ځواکونو په مقابل کې خپل پوځي صلاحیت له لاسه ورکړی او نشوای کولای دهغوی په مقابل کې مقاومت وکړي .

د هیواد په جنوب غرب او ختیځو سیمو کې چې اسلامي امارت کوم پوځي تحرکات پیل کړل ، دهغو د ناکامه ښو دلو لپاره هم دښمن خپل کوښښ وکړ .

خو اسلامي امارت د دې لپاره چې عملا دښمن ته خپل پوځي او امنيتي صلاحيت په اثبات وروسوي د هلمند او ننګر هار پر ځای د کابل په زړه کې پردښمن داسې تکتيکي ګذار وکړ چې هغه يې په هيڅ ډول له وراړول شويو تلفاتو څخه انکار نشي کولای .

د کابل په زړه د قرغي په پوځي اکاډمۍ کې دغه بريد د دې ترڅنګ چې دښمن ته په پوځي لحاظ تر ټولو دروند ګذار بلل کيږي دهغه تر څنګ په تبليغاتي لحاظ هم دوخت تر ټولو خبرسازه پيښه بلل کيږي چې په هماغه ورځ د ټولو بهرنيو او کورنيو رسنيو د سر خبر په توګه ثبت شو.

د دغسې کاري ګوزارونو د دوامداره ساتلو لپاره څه کول په کار دي؟

نفوذي بريدونه چې تر اوسه پورې يې په بهرنيو ځواکونو باندې د ترسره کيدو شمير ۸۱ ته رسيږي او په ترڅ کې په لسګونو خارجي يرغلګر وژل شوي او په سلګونو نور ژوبل شوي .

دغه بريدونه دخارجي ځواکونو لپاره تر ټولو خطرناکترين بريدونه بلل کيږي.

دا بريدونه د دې ترڅنګ چې پوځي او تبليغاتي اغيز يې ډير زيات دی د مجاهدينو لپاره په ډيره کمه بيه تماميږي. کمه بيه په دې معنی چې په هر نفوذي بريد کې له ۱۵ تر ۵ تنو بهرني يرغلګر مړه او ژوبل کيږي خو په مقابل کې يې يواځې يومجاهد شهيد کيږي ، نور نه ملکي تلفات لري او نه هم د مجاهدينو ځاني تلفات.

د دې لپاره چې نورهم دغه تکتيک په ښه توګه پرمخ يوړل شي بايد دهغه دبرياليتوب لپاره د اسلامي امارت لخوا سنجول شوي پلانونه عملي شي او کوم نفوذي مجاهدين چې په دغو بريدونوکې برخه اخلي اوشهيدان کيږي دهغوي د معنوي تقدير په غرض لاندې اجرات تر سره شي .

۱- نفوذي مجاهدين ټول د ځانګړي تقدير او احترام وړ دی په تيره هغه ځوانان يې چې دشهيد رفيق الله جان په څير د دغسي تاريخي کارنامي په ترسره کولو بريالي کيږي .

بايد د شهيد رفيق الله په څير د کارنامه جوړوونکي نفوذي مجاهد په نوم اسلامي امارت په خپلو پوځي تشکيلاتو کې ځانګړي کنډکونه تأسيس کړي ، په ځينو سيموکې د هغوي په نوم ځانګړي عمليات اعلان کړي ، د اسلامي امارت په نشراتي وسائلوکې دهغوي د پيژندنې او معرفي په غرض د هغوی سوانح او ژوند ليکونه نشر شي ، دهغوي په نوم ځانګړي نشراتي لړۍ پيل شي اوپه هغې کې د دوی ټوله معرفي ذکرشي ، همداراز دهغوي په نوم داسلامي امارت په مرئي نشراتوکې ځانګړي فيلمونه تر تيب شي .

همدا راز دهغوي دوارثينو مادي تقديروشي ، دهغوی د اولادونو دتعليم او تربيې ځانګړې پاملرنه وشي د کورنيو لپاره يې په استثنائي توګه مياشتنی کفالت تعين شي .

۲. کوم نفوذي مجاهدين چې د نفوذي بريدونو تر سره کولو وروسته يې نجات په نصيب کيږي او د بريد له ځايه ژوندي راوزي د هغوی دحمايت او خونديتوب لپاره بايد

خاص تدابیر په پام کې ونیول شي ، په هغوی باید خاص اهتمام وشي او د خپلې دغې تاریخي کارنامې د ترسره کولو په عوض کې په معنوي او مادي لحاظ تقدیر شي.

۳.د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون په تشکیل کې باید د نفوذي مجاهدینو د تشکیلاتو او دهغوی د پروګرامونو د پلانونې لپاره یوه مستقله څانګه تشکیل شي ، ترڅو د هغې په وسیله دهیواد په ټولو ولایتونو کې دپلان له مخې د نفوذي مجاهدینو نفوذي عملیات منسجم شي .

تاریخي ګوزار:

د قرغي په پوځي اکاډمۍ کې د اتل نفوذي مجاهد شهید رفیق الله لخوا تر سره شوی نفوذي برید دیرغلګرو امریکایانو پر صلیبي ایتلاف هغه تاریخي ګذار دی چې جهادي انګازو یې د سپینې ماڼۍ برجونه ولړزول، یرغلګر امریکایان او دهغوی نور ایتلافي انډیوالان یې وارخطا ، او د اشغالګرو پر خلاف اعلان شویو خیبري عملیاتو ته یې جهادي رونق ورکړ.

الله تعالی دی د دغه تاریخي ګوزار د قهرمان غازي شهید رفیق الله جان د مجاهدې روح ځای فردوس جنت وګرځوي ، او الله تعالی دي د دغسي غیرتي سربښندونکي ځوان امثال زمونږ په جهادي ټولنه کې نورهم زیات کړي.

والسلام

جهاد کې دسپین ږیرې وژنه منع ده

دنامتو محدث او فقیه امام طحاوي الحنفي المولد سنة ۲۲۹ هـ - والمتوفی سنة ۳۲۱ په (شرح معانی الاثار) کې دا حدیث شریف راغلی چې فرمایي: عَنْ ابْنِ بُرَيْدَةَ ، عَنْ أَبِيهِ ، قَالَ: { كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَمَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً يَقُولُ لَا تَقْتُلُوا شَيْخًا كَبِيرًا } ترجمه :ابن بریده دخپل پلار څخه روایت کوي ،چې هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله (سریه)جهاد ته لیږله، نو ورته به یې داسې فرمایل چې شیخ کبیر (ډیر سپین ږیری) به نه وژنئ ،او بل لدې امله چې دا سپین ږیری دقتال اهلیت او طاقت نلري نو دښځو غوندې به نه وژل کیږي ،رسول الله صلی الله علیه وسلم دې علت ته دهغې ښځې دموندلو پر وخت چې وژل شوي وه داسې اشاره وکړه ، چې » فقال: ما كانت هذه لتقاتل « ویې فرمایل چې دا ښځې ددې لپاره ندې چې قتال وکړي (چې دوئ جګړه وکړي او بیا دوئ دمقابل لورې څخه پکې ووژل شي) !

دافغان مجاهدولس له لوري دغزي مسلمانانوته وايي !!!

خبير.ع

داګست په پنځمه نيټه په افغانستان کې دامريکالوړپوړي پوځي سټه دار دوپه ليکوکې ديوه افغان عسکرپه اتلوال بريد کې ديوه الماني جنرال اوپنځوتنوبرتانوي صاحب منصبانوپه ګډون له ګڼوخارجي پوځيانوسره ووژل شو.

امريکايي جنرال هارلد جې ګرين، دکابل کې په يوه پوځي اکاډمۍ کې په مهمه غونډه کې ګډون کړی وو چې يوه افغان عسکر دناستې په ستيج باندې بيدريغه فيرونه وکړل اوځای پرځای يې داسلام اوبشريت دغه لوی دښمنان اودهغوی تاليثتي يوپه بل پسي په ټنډه ټنډه وويشتل اوله له څوکيوپې راوغورځول .

دراپورونوله مخې وژل شوی امريکايي جنرال هارلد جې ګرين چې په امريکايي پوځ کې ۳۴ کاله دنده ترسره کړي وه او۵۵ کاله يې عمر درلود ويل کيږي چې دپنتاګون دهغوګوتوپه شمير جنرالانوپه کتارکې راته چې په مهمواوسختوشرايطوکې به ترينه دوی ګټه اخستله اومشوروبه يې ارزښت لاره ، همدغه دليل

ووچې پنتاګون په خپله يوه رسمي اعلاميه کې په جنرال ګرين سخت خفګان څرګندکړ اووژل کيدل يې دامريکادپوځ لپاره نه جبرانيدونکي زيان بللي.

جنرال استفان ګانيارد ،چې دامريکايوپخوانی ديپلومات دی دګرين دوژل کيدوپه تړاووايي ، لدې وړاندې هم په په افغانستان کې په امريکايي پوځيانواوپوځي افسرانودملي اردوپه يونيفورم کې ګڼې مرګانی حملې شوي ، خوورستی حمله دامريکايي پوځ لپاره نه جبرانيدونکي اوتلپاتي ضايعه ده چې کيدای شي دکابل اردوچې په جوړيدويې تنهاامريکايانونيږدې ۷ مليارده ډالره مصرف کړي ترمنځ يې يوه ژوره بې اعتمادي رامنځته شي .

په عين حال کې دامريکاددفاع وزارت يوچارواکی جنرال جان کربی وايي چې دوی اودکابل رژيم په ګډه دورستی پيښې په باب تحقيقات پيل کړي ، ترڅويې اصلي عوامل په ګوته اوومونده ل شي ، خوزيات امکان لري چې دپيښې ترشادطالبانولاس وي اوکه چيري

دطالبانوله لوري دغه کارشوي وي نوبیاممکن طالبان نورهم دغسي بریدونه داردوله منځه په بهرنیوپوځیانوترسره کړي اوداکاربیازیات خطرناک دی.

امریکایی سرچینوپه خپلوتبصروکې ویلي چې دویتنام له جګړې ورسته اودعراق اوافغانستان دجګړې راپه دې خوادجنرال ګرین په سویی لوړپوړې امریکایي جنرال نه ووژل شوی.

که څه هم دامریکا، ناټواودکابل رژیم لپاره به ورستی پیښه لدې امله دسختي پریشانی اوذلت وړوي چې په څه ډول یوه افغان عسکر داردوله یونیفورم اووسلې څخه په استفادې په یوه حساسه غونډه اودقرغي دمارشال دروزني په مرکز کې په دې بریالی شوچې هغه پوځي ستې هدف وګرځوي چې دامنیت اوخوندیتوب لپاره یې دامریکاټوله پوځي اواستخباراتي ټکنالوژی په خدمت کې ده اولسګونه مجهز امریکایي پوځیان اوتربیه شوي سپیان ورنه شپه اوورځ څارنه کوي، خوبیاهم یوتن افغان ځان داستعمارچیانودناستي ځای ته رسوي اودخپل یوشاجورپه توسط دطاغوت متکبري ځیري رانسکوروي اوپه خپلوپلیدووینوپې رنګوي.

ځکه امریکایانوچې دادومره پریمانه لګښتونه دکابل په اردو وکړل، خاص هدف یې داوو چې دوی نور دمجاهدینوله مخامخ ګذارنه په امن پاتي شي اودمخي سپرپې همدغه اردو وګرځي، امریکایانوفکرکړی وو چې لدې ورسته به دوی صرف په خپلو اډواوپوځي مراکزوکې مزي چرچي کوي، له مجاهدینوسره جګړه اومقابله نور دامریکایانوپه ځای دملي اردو دعسکرومکلفیت دی!! ؛ خوخبرنه وو چې دهمدغې اردوپه رګونواولیکوکې به اتلان نفوذپیداکوي اوهغه امریکایی ځیرې به په نښه کوي چې دپنتاګون اوسپیني ماڼی لپاره ډیرنازولي اودلوړحیثیت څښتنان دي.

ماته بیادامریکا، المان اوبرتانیادمهموجنرالانواوصاحب منصبانودوژل کیدوورستی پیښه لدې امله دخوشالی اولوی زیري وړ وه چې په همدې وخت کې دامریکااوکفري نړۍ په مټودولاړاوجوړاسراییلي رژیم له لوري دغزې دمظلوموپرګنوقتل عام روان وو اوله یوې میاشتی راهیسي یې په زرګونو مسلمانانوپه ډیرقساوت اووحشت شهیدان اوله تیغه تیرکړل، چې په مقابل کې غرب اوکفري دنیاداسراییلي جارحیت په مقابل کې ترپایه چپه خوله پاتې شوه اویوه غربي هیوادهم په اسراییلوغږونه کړچې خپل یرغل اووحشت ځای په ځای ودروي اوله غزې څخه دې خپلې قواوي په شاکړي.

نوځکه دامریکایي جنرال په ګډون دغرب د۱۵ تنو پوځي مهموچارواکو وژل کیدل دافغان مجاهدولس له لوري دغزې دکړیدلي ولس لپاره ستره ډالۍ بولم چې که افغانانو ځانونه دغزې دمسلمانانومخامخ مرستې ته ونشورسولی، داخوپې وکړای شول چې دغرب دلوړې کچې هغه جنرالان چې په هلاکت یې دامریکااویهودی نړۍ زړونه داغل کیږي اوچارواکي یې په جنون راځي، دغزې مسلمانانوته یې دیوې جهادي تحفې په ډول وړاندې کړي، ترڅودفلسطینیانو غمځپلي ځګرونه څه ناڅه یخ او زخمي شووزړونوته یې یوه پټی اوتسکین وګرځي..

دکابل دبلواکو خپلواکي څه شوه؟

حسن زوی

انسانان ټول فطرةً آزادي خوښونکي دي ؛ شاید یو ولس ګڼ عیوب ولري خوسره دټولو عیوبو هغه ولس دولس په حیث غلامي قبلونکی نه شي کېدای .

داکېدای شي چې دیو ولس څوخسیس افراد دمال اومنصب دترلاسه کولو لپاره غلامي قبوله بلکې ملت پرنورو وپلوري چې دغسې ملت پلورونکي وګړي افراد تل تاریخ په خورا بدونومونو یادوي .

هو! دځانونو لپاره آزادي اوخپلواکي ټول انسان خوښوي خود انسانانودغلامی نه کرکه او دخپلواکی سره دافغانانو مینه دعشق هغه حد ته رسېدلی چې پرې له سراومال نه تېر دي .

له نېکه مرغه چې ددې ولس داقربانئ هیڅکله هم ندي ضایع شوي اوتل خدای داولس اوداخاوره دانسانانو دغلامی نه ژغورلې ده ؛ داخاوره که څه هم بیا بیا اشغال شوی خواشغالګروپکې هیڅکله هم دآرام ساه نده اخستې اودرومي سکندرنه ترننواشغالګروپکې هرتاړاکګر دشرم نه ډک شکست خوړلی دی .

دتاریخ په اوږدوکې چې غاصبوقوتونوسیمې اوهېوادونه قبضه کړیدي نوداوږدوقبضونه پس یې پخپله اشغال شویو هېوادونو ته آزادي ورکړیده خودا ددې ملت امتیازي شان دی چې کوم غاصب ځواک دې ملت ته آزادي ورکړی نده اونه داملت کله دچاپه اعلانونوازاد ګڼل شوی بلکې تل دې ولس له غاصبو قوتونونه دخدای په فضل اودجهادپه لارکې دستروقربانیوو په برکت آزادي اخستی ده .

داسمه ده چې په هر دورکې به ددې ولس ځنې دنیاپرست اوناعاقبت اندیش وګړي غولېدلي وي خوخوشبختانه چې ولس دولس په حیث نه دغاصبینواونه هم دغاصبینودلاسپوڅوپه غولونکوناروغولېدلي

دي ؛ تل دلته دګوډاګیانو اصلي څېرې روښانه شوي اوپه شرمونوشرمېدلې دي .

دثوردبدبختې کودتاپه نتیجه کې چې دروسانوکمونست ګوډاګیان واک ته ورسېدل نودازادۍ ؛ په هېواد کې دسترومثبتو بدلونونو راوستلو اوخلکوته دکور ، کالي اوډوډۍ ورکولوپه شمول یې ډېرې غولونکې نارې پورته کړې خوددې پلیتو عناصرو دحقیقت نه چې ملت خبرونوپه غولونکونارویې ونه غولېدلواوددوئ نه دنجات موندلولپاره یې مسلح جهاد پیل کړ.

کله چې دمستقیم تېري په نتیجه کې هېواد اشغال اودهېواد داصل واکمنانو په صفت روسانو وړې اوغټې ټولې پرېکړې په خپل لاس کې واخستې نود کمونستانوګوډاګئ څېرې بیاټول ملت ته رسواشوې .

اوس چې دامریکاپه مشرۍ کې غربي غاصبینوزموږهېواد اشغال اودشمال ټلوالې هغه مشران چې په پنجشېرکې یې ددوئ سره دڅومیلیونوډالروپه مقابل کې دهېوادپلورلوسودا کړې وه اودغرب په روحې روزل شوي تش په نامه افغانان دواک په چوکیوو کېنول نودولس دغولولولپاره یې دخپلولاسپوڅوترمنځ دوه ځلې دانتخاباتوپه نوم دمکراوفریب نه ډکه لوبه هم ترسره کړه چې دواړه ځل به پکې دمشرۍ لپاره دامریکانه راوستل شوی کرزی کامیاب اعلانولی شواوددوئ له لورې انتخاب شوي دوه دوه نیم سوه تنان به په سترو پوستونو بدلولی رابدلولی شول خوالله الحمد چې افغانان ددوئ پدې ډراموپوهېدل دانتخاباتواودانتخاباتوپه نتیجه کې درامخې ته شویوڅېرودحقیقت نه ناخبره نه وونوځکه یې دلاسپوڅې ادارې پروړاندې کرکې هیڅ کموالی رانغلواودغاصبینواودغاصبینودګوډاګیانو پر ضدیې نه یوائې داچې جهادجاري وساتلوبلکې ورځ تربلې یې دومره قوي کړچې په برکت یې اشغالګرځواکونه تېښتې ته جوړشول .

بیا ددې لپاره چې دکابل اداره خپلواکه وښوول شي ترڅوداشغالګرو دوتوپه صورت کې یې پرضدافغان مسلمان ملت جهاد ودروي اوددې لاسپوڅې ادارې په شتون کې دکابل ادارې په شتون کې دلویدیځ اوپه ځانګړې ډول دامریکا اهداف پوره شي دکابل او واشنګټن ترمنځ دواټن دزیاتوالي ؛ پرامریکا د کرزي دانتقادونواودامنیتي تړون نه دانکارخبرې رامخې ته کړای شوې اورسنیوو دې خبروته عمداً ښه هوا ورکړه خود اوسنو ولسمشریزو

انتخاباتو پر سردقدرت ددوه لبونو ډاکټر عبدالله اوډاکټر اشرف غني ترمنځ دراپورته شوي جنجال دحل وفصل په موخه کابل ته دامریکا دباندنیوچارودوزیر جان کیري سفراوخپلې پرېکړې ته ددواړواړخونومجبورولوټول ملت ته داخبره دلمړه څېر روښانه کړه چې دپرېکړو اصل اختیارلاهم سپینې ماڼۍ په خپل لاس کې ساتلی دی اودکابل ګوډاګیان تش په نامه واکمنان دي .

دهېوادهغه رسنۍ چې شپه او ورځ دکابل دادارې لپاره په تبلیغاتو بوختې وي ورنه ګڼې داسې مقالې خپرې شوې چې پکې پدې خبرې اعتراف شوی چې دې کاردافغانانو پوزې پرې کړې اوپه نړۍ کې یې دسخت خجالت سره مخامخ کړل .

ډاکټرعبدالله ګواښونه کول چې اوونۍ پس به مستقل دولت اعلان کړي اوډاکټراشرف غني سهامي شرکت ته ورته شریک حکومت ردولوخوچې جان کیري کابل ته راغلو اودجولای په ۵۵ اوي۵ نېټو یې دواړه خپل حضورته ومنل نوبیا نه دعبدالله دمتوازي دولت جوړولو دړکې وې اونه هم دمخلوط حکومت نه داشرف غني انکارو.

ددې لپاره چې نه دلویدیځ نه راوستل شوي تالي ځټي او نه هم د امریکا دګټوساتونکي دشمال ټلوالی هېودپلورونکي محروم پاتې شي نوجان کیری درایودبیاشمېرلو اودملي وحدت په نوم دمخلوط دولت جوړولوحکم وکړچې دواړوته دسرپه سترګو منظور.

په هېوادکې چې سترې پرېکړې اغیارکوي خفګان پرې طبعي دی خوچې داویل چې دې دافغانانو پوزې پرې کړې داسمه خبره نده ؛ دې دافغانانو نه بلکې دکابل دادارې داوسنو اوراتلونکو مشرانوپوزې پرې کړې اوپه نړۍ کې یې وشرمول ؛ د افغان ملت اصیل بچیان چې اشغالګرواودکابل لاسپوڅې ادارې ته په یونظرګوري او ددواړو نه ملت ته دنجات ورکولوپه موخه یې ددوئ پرضد مسلح جهاد پیل کړی د داسې حالاتو اوپېښورامخې ته کېدل ددوئ دمبارزې حقانیت ټول ملت اونړۍ ته روښانه کوي ؛ دحقې لارې دامبارزه به جاري وي اوتر هغې به تم نه شي ترڅویې چې هېواد داشغالګرو او دهغوئ د ګوډاګیانو نه نه وي پاک کړی . ان شاءالله تعالی

داسلام غزوات او سرایا

احد جنګ

۲۵مه برخه

ابو ظهیر

ابی بن خلف قتل:

ابی بن خلف په دې هېله ځان لپاره یو ښه څرب آس ساتلی و، چې په هغه به سورېږي او محمد(ﷺ) به قتل کوي! کله چې رسول الله (ﷺ) تــه ددې ارادې اطــلاع ورغلــه، وي فرمایل:«انشاء الله زه به پخپل لاس ابی بن خلف قتل کوم!» په احد جنګ کې هغه(ابی بن خلف) غوښتل څو ځان درسول الله(ﷺ) خواتــه نیــږدې کــړې اوبیــا...، صــحابه وو د رسول الله(ﷺ) نه دهغه دوژلو اجازې په اړه وغوښــته، رســول الله(ﷺ)وفرمایــل: «را پرېږدئ! چې ماته راشي».

څه مهال چې نېږدې شو، رسول الله(ﷺ) لــه حــارث بــن صــمه(رضي الله عنه) نــه نېــزه واخیســته او هغه څټ کې یوه نېزه وو واهه، دې سره دهغه لــه خــولې چېغــه ووتــه« پــه خــدای سوګند زه محمد ووهلم!»

خلکو ورته ویل: دا خو معمولي سرسري ټپ دی، ډېر ژور ندی، ته ولې دومره ژاړې؟ ابی بن خلف ویل:

ولې تاسي ته نده معلومه، چې محمد(ﷺ) په مکه کې ماته ویلي و:« زه به تا قتل کوم»ددې زخم درد زما په زړه تیرېږي ، په خدای سوګند که دا درد دحجاز په ټولو خلکو وویشل شي، دهغوئ ټولو دمرګ لپاره بس دی، په همدې ژړه او انګولا کې تر " سرف" نوم سیمې ورسید اوهم هلته ومړ(البدایه والنهایه ۴ټوک ۳۵مخ)

درسول الله(ﷺ) زخمونه وینځل:

کله چې رسول الله(ﷺ) د احد غره څوکې ته وخوت ، دغه مهال جنګ پای ته رسیدلی و ، هلته حضرت علی (رضي الله عنه) اوبه راوړې، درسول الله(ﷺ) له مبارک مخ نه یې وینې ووینځلې،رسول الله(ﷺ) دهغو اوبونه لږې پخپل سرمبارک هم واچولې، بیا یې اودس وکړ اوپه ناسته یې دماسپښین لمونځ اداء کړ، صحابه وو هم په ناسته ورپسې اقتداء وکړه:

ځیرنه:

په پیل کې دا حکم و ، که امام دعذرپه وجه په ناسته لمونځ کاوه ، مقتدیانو به هم ورپسې په ناسته اقتداء کوله، لیکن وروسته داحکم منسوخ شو ، که امام دعذر په وجه په ناسته لمونځ کاوه په مقتدیانو باندې قیام فرض دی، ځنګه چې رسول الله(ﷺ) دوفات نا روغۍ پر مهال په ناسته لمونځ کاوه اوصحابه ورپسې ولاړول، چې دا درسول الله(ﷺ) وروستی فعل دی.

دشهیدانو جسدونه مثله کول:

قریشو دمسلمانانو دشهیدانو جسدونه مثله کړل، یعنې ترې پوزې، او غوږونه یې غوڅ کړل، خیټې یې ورته وځیرلې، تناسلي غړي یې ورنه قطع کړل،په دې کار کې دقریشو میرمنې هم له نارینه وو سره یوځای ونډه درلوده.

دهندې پلار (عتبه) په جنګ بدر کې دحضرت حمزه(رضي الله عنه) په لاس وژل شوی و ،هغې پخپل لاس حضرت حمزه(رضي الله عنه) مثله کړ، دده خیټه او سینه یې څیرې کړه،ځیګرې یې ترې وویست ، هغه یې وزبیښه !خو له حلق(ستوني) نه یې تیر نکړای شو ، بیرته یې وګرځاوه ، هغې له ډېرې خوښۍ وحشي ته خپله ګاڼه ورکړه او له کومو مسلمانانو نه چې پوزې اوغوږونه پریک کړي وو له هغو نه یې ځان ته غاړه کې جوړه کړه او په غاړه یې کړه(زرقاني ۲ټوک ۴۴-۴۷مخ)

دابوسفیان پوښتنې او دحضرت عمر(رضي الله عنهما) ځوابونه:

قریشو چې څه مهال له احده د بیرته ستنیدو اراده وکړه، ابوسفیان په غره وخوت او اوازیې وکړ:

«أفِی القوم مُحمَد» آیا په تاسي کې محمد ژوند دی؟

رسول الله (ﷺ) وفرمایل: ځواب مه ورکوئ، په دې توګه ابوسفیان درې واره دا اواز تکرار کړ، خو ورته هیڅ ځواب ونه ویل شو، بیا یې اواز وکړ:

«أفِی القوم أبی قحافه؟» ایا تاسې کې ابن ابی قحافه(یعنې ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) ژوندی دی؟» رسول الله وفرمایل: ځواب مه ورکوئ !داپوښتنه یې هم درې واره تکرار کړه ،بیا چوپ شو بل اواز یې وکړ:«أفِی القوم ابن الخطاب؟» ایا په تاسي کې عمربن الخطاب ژوندی دی؟ د تیر پشان دا افقره یې هم درې واره تکرار کړه، خو هیڅ ځواب ورنکړل شو ، دې سره ابوسفیان اوملګري یې خوشاله شول او پخپلو منځو کې یې و ویل:

«أمّا هؤلاءِ فقد قُتِلوا فلو کانُوا احیاءً لَا جَابوا»

داخلک ټول وژل شوي ، که ژوندي وای نوخامخا به یې ځواب راکړی وه

حضرت عمر(رضي الله عنه)ځان نور کنترول نکړای شو او په لوړ غږ یې وویل:

«کَذَبتَ والله، یَا عَدوّ الله عَلیکَ مَا یُحزِنُکَ» اې دالله دښمنه په خدای سوګند تا بالکل دروغ وویل،دچا ژوند چې ته غمجن کوي هغوئ الله ژوندي او سلامت ساتلي ،

بیا ابوسفیان (دوطن اوقوم دیوه بت نوم یاد کړ) وویل:

«أعل هُبَل أعل هُبَل أعل هُبَل !» ته ! سرلوړی شوي،اې هبله ستا دین غالب شو !

دکتاب الجهاد په روایت کې "اعل هبل اعل هبل" دوه ځایه راغلی، او دکتاب المغازي په روایت کې یو وار ویل راغلي.

رسول الله (ﷺ) حضرت عمر(رضي الله عنه) ته وفرمایل:ددې په ځواب کې ورته ووایه !

«اَللهُ اَعلی و أجَل» الله (جل جلاله) تر ټولو لوی،لوړ، او برتر دی.

بیا ابوسفیان وویل:

«اِن لَنَا العزی ولَا عزّی لکم» مونږ سره زمونږ عزی دی یعنې موږ ته عزت په برخه شو.

رسول الله (ﷺ) حضرت عمر(رضي الله عنه) ته وویل: ددې په ځواب کې ورته ووایه !

«اَللهُ مولنا ولا مولی لکم» الله زمونږ آقا ،والي، معین او مرسته کونکی دی ستاسي والي اومولی نشته.

«فنِعمَ المَولی ونِعم النصیر» یعنې زمونږ عزت یواځی دالله سره تړلی دی، دعزی سره عزت نشته بلکې ذلت دی.

ابوسفیان وویل:

«یومٌ بیومِ بدرٍ والحرب سِجال» دا ورځ دبدر ورځې ځواب دی نن مونږ اوتاسي برابر شولو، اوجنګ د کوهي بوکو پشان کله ښکته اوکله پوررته وي. دادصحیح بخاری روایت دی له ابن عباس نه روایت دی چې حضرت عمر(رضي الله عنه) ورته دا ځواب ورکړ:

«لا سواءٌ، قتلانا فِی الجنةِ، وقتلاکُم فِی النار» مونږ اوتاسو برابر نه یو، زمونږ مقتولان په جنت کې دي اوستاسي مقتولان په دوزخ کې دي.

دابوسفیان دا وینا چې «الحرب سجال» حقه وه، له دې وجې یې ځواب هم ورنکړ، دالله(ﷻ) ارشاد «تلک الایام نُداوِلُها بینَ الناس» هم ددې تاید کوي.

بیا ابوسفیان غږکړل:

«هَلُمّ اِلی یَاعمر» عمره! ما ته نیږدې راشه!

رسول الله(ﷺ) حضرت عمر(رضي الله عنه) ته وویل: ورشه! وګوره څه وایي؟

حضرت عمر(رضي الله عنه) ورغی، ابوسفیان ورته وویل:

«أنشدکَ اللهَ یَا عُمر اَقتَلنا محمد(ﷺ)؟»

عمره! تاته په الله سوګند درکوم، رښتیا وایه، مونږمحمد(ﷺ) قتل کړی؟

حضرت عمر(رضي الله عنه) په ځواب کې وویل:

«اللهمّ لا، وانه لیسمَعُ کَلامَک» په خدای سوګند، هیڅکله نه؛ هغه همدا اوس ستا خبرې اوري.

ابوسفیان ویل:

«اَنتَ عِندی اَصدقُ مِن ابن قمیئة وَ اَبرّ» ته زما په نزد له ابن قمیئة نه زیات رښتونی اونیک یې.

بیا ابوسفیان وویل:

«انه قد کان فی قتلاکُم مثل، وَاللهِ مَارَضِیتُ وَلَا نَهِیتُ وَلَا أمَرتُ»

زمونږ کسانو ستاسو دمقتولینو جسدونه مثله کړي، په خدای سوګند زه په دې کار نه خوښ نه اونه خفه یم، نه مې ترې منع کړي څوک اونه ماچا ته ددې کار حکم کړی.

دتګ وخت کې یې ننګونه ورکړه وې ویل:

«مَوعِدکُم بدر للعام القابل» راتلونکي کال په بدر کې زمونږ اوستاسو ترمنځ دجنګ وعده ده.

رسول الله(ﷺ) کوم بل صحابي ته وویل ته ځواب ورکړه چې:

«نَعم هُو بَیننا وبینک مَوعِد انشاء الله» هو! زمونږ اوستاسې ترمنځ دا وعده ده انشاء الله (طبری تاریخ ۳ټوک ۳۴مخ، ابن هشام ۲ټوک ۸۹مخ، سیرة المصطفی ۲مه برخه ۵۵۳-۵۵۵مخ)

دمشرکانوله بیرته ستنیدو وروسته، دخبر اخیستواو حال معلومولو په موخه له مدینې منورې نه دمسلمانانو میرمنې راغلې، حضرت فاطمة الزهراء (ﷺ) هم راغله، هغې ولیدل چې درسول الله (ﷺ) له مبارک مخ نه وینې روانې دې، حضرت علی (ﷺ) اوبه راوړې او حضرت فاطمه (ﷺ) ووینځلې، لیکن وینه بنده نشوه، هر کله چې وینه بنده نشوه ،نود فرش یوې ټوټې ته یې اور واچا وه، هغه یې وسیزله، بیا یې زخم دهغې له ایرو ډک کړ، په دې سره ایله وینه بنده شوه.

(بخاري والطبرانی عن سهل بن سعد ﷺ)(زرقانی ۲ټوک ۴۹ مخ)

ځېرنه:

۱- له دې حدیث جوته شوه، چې په ناروغۍ کې د دوا کول روادي.

۲- هم داشان علاج کول له توکل سره منافي عمل ندی.

۳- هم داراز دالله (ﷻ) پر استازو (پیغمبرانو) له جسماني پلوه هم ناروغۍ او تکلیفونه راځي، څو دهغوئ درجات لوړشي او دهغوئ پیروان ترې دصبر، تحمل او دالله په قضاء درضاء سبق واخلي، هم دبشري عوارضو او انساني لوازمو په لیدو انسان پوهیږي چې پیغمبران دالله (ﷻ) مخلص بنده ګان دي، معاذ الله دخدایي درجه نلري، دهغوئ معجزات او آیات بینات دنبوت براهین اودلایل و بولي، د "حیارا دنصاراوو "پشان ورته دخدایي نسبتونه نکوي.

هم داراز له دې واقعې ښکاره شوه، چې له رسول الله (ﷺ) نه وروسته دابوبکر صدیق (ﷺ) بیا دحضرت عمر (ﷺ) مرتبه وه، دا ترتیب دومره ښکاره اوهرچاته معلوم و چې آن کفاروته هم څرګند وه، چې له رسول الله (ﷺ) وروسته ابوبکر صدیق (ﷺ) اوبیا حضرت عمر (ﷺ) ځای درلود، غرض داچې دشیخینو (ابوبکر وعمر) دافضلیت ترتیب کفارو ته هم ښکاره وه، له مشاهدې نه کفارو محسوس کړې وه چې دنبوت په مقام کې اول ځای دابوبکر، ددیم دعمر دی او دواړه درسول الله (ﷺ) لپاره دهوښیارو وزیرانو په حیث ول.

دسعد بن ربیع (ﷺ) شهادت:

دقریشو دتګ وروسته رسول الله (ﷺ) زید بن ثابت (ﷺ) ته حکم وکړ:

« ته لاړشه، وګوره سعد بن ربیع انصاری (ﷺ) چېرته دی»

ورته وې فرمایل:

« ان رأیته فاقرأه منی السلام وقل یقولک رسول الله کیف تَجِدُکَ»

که هغه ومومي ، ورته زما سلام وایه او ورته وایه: رسول الله(ﷺ) دا پوښتنه کوله چې: «اوس ځان څنګه مومي؟»

زید بن ثابت(رضي الله عنه) وایي:

«زه دهغه په لټون پسې روان شوم ، تردې چې سعدبن ربیع ته ورسید م ، تردې وخته په هغه کې ساه وه، په بدن یې دغشو او تورو اویا ټپونه وو ،ما ورته درسول(ﷺ) پیغام ورساوه

سعدبن ربیع په ځواب کې وویل:

«عَلَی رسولِ الله السلام، وعلیک السلام، قل له یا رسول الله اَجِدُ اَنی ریح الجنة، وقُل لِقومِی الانصار لا عُذرَ لَکُم عندَ الله ان یَخلُص الی رَسولِ الله ﷺ شَفرٌ یَطرفُ قَال وقاضَت نَفسُهُ رحمه الله»

په رسول الله (ﷺ)سلام !او هم په تا سلام ! رسول الله(ﷺ) ته دا پیغام یوسه:«زه اوس دجنت خوشبویي بویوم اوزما قوم انصارو ته وایه، که رسول الله (ﷺ) ته په داسې حال کې تکلیف ورسید چې له تاسو نه په یوه سترګه لیدونکی تن هم پاته و ،یعنې له تاسونه یوتن ژوندی و ،نو پوه شئ چې دالله (رضي الله عنه) په وړاندې ستاسي یوعذر هم قبول ندی، دایې وویل روح یې والوت،رحمه الله ورضی الله عنه

حاکم وایي:داحدیث صحیح الاسناددی، اوحافظ ذهبی هم په تلخیص کې صحیح یاد کړی دی، په بل روایت سعد(رضي الله عنه) زیدبن ثابت(رضي الله عنه) ته یې وویل:

«أخبِر رسول الله(ﷺ) اَنی فی الأموات وَ أقرِأهُ السلام وقُل له یقول جَزَاکَ الله عَنّا وَعَن جَمیعِ الأُمّة خیرا»

رسول الله ته خبر ورکړه چې زه په مرګوني حالت کې یم، اودسلام وروسته ورته وایه چې سعد ویل«جزاک الله عنا وعن جمیع الامة» دالله رسو له ! تاته دي الله(رضي الله عنه) زمونږ له لوري او دټول امت له لوري ښه بدله درکړې چې مونږ ته دې دحق لاره وښوده(مستدرک ۲۰۱مخ ۳ټوک ترجمة سعدبن ربیع ، سیرة المصطفی ۲برخه ۵۵۷مخ)

زه بیرته رسول الله (ﷺ) ته راغلم او ورته مې دسعد رضي الله عنه خبر راوړو.

رسول الله (ﷺ) دهغه دپیغام په اوریدو وویل:

«رَحِمهُ الله نَصَحَ اللهِ ولِرَسُولِه حَیّا وَمَیّتًا»

الله دي په هغه رحم وکړي، الله او دهغه رسول ته وفادار اوخیر غوښتونکی و ،په ژوند کې هم او د مرګ په وخت کې هم.(استیعاب للحافظ ابن عبد البر ۳۵مخ،۲ټوک)

دجهاد فقهي مسائل

جهادکی محرمات او مکروهات

مفتي ابو محمد (حقاني)

غدر، غلول، مثله

دوولسمه برخه

داسلام مبارک دین چې دصداقت ،امانتداری او رښتنولی توصیه کوي او ټولې چارې په شفافیت او له اجتماعي کدورته لیرې سرته رسول غواړي، نوځکه دژوند په هره برخه کې خپلو پیروانوته همداسې دبې داغه ژوندتیرولو اوله اخلاقي او مالي خیانتونوله ګرد اوغبار څخه دپاک ژوند کولوحکم کوي ،(غدر ،غلول او مثله) چې دجهادي لیکوپه منځ کې دبې باوری او نفاق تخم شیندي اودمجاهدینو جهادي جذبي وژني ،نوځکه اسلام حرام کړل او ددې پر ځای یې ددې متبادلې لارې چارې په ګوته کړې، چې تفصیل یې په لاندې شرحه کې لوستلای شو.

داسلام دستر پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ددې لارښوونې له مخې چې فرمایې : « لا تغلّوا ، ولا تغدروا ، ولا تمثّلوا » .جمهورو فقهاوو صراحت کړی، چې په جهاد کې غدر ، غلول او دمقتولینو یا وژل شویو اهل حربو مثله حرامه ده .

غلول : په غنیمت کې خیانت کولو ته وایې، لکه چې همدا معنی په (مختار الصحاح والمصباح المنیر)کې شوي، هغه داسې چې : مِنْ مَعَانِي الغُلُولِ فِي اللُّغَةِ : الخِيَانَةُ ، يُقَالُ : غَلَّ مِنَ المَغْنَمِ غُلُولاً أَيْ خَانَ ، وَأَغَلَّ مِثْلَهُ يعني هغه مال یا وسله پټه کړي او مشرتابه ته یې ښکاره نه کړي، چې ده په جګړه کې نیولې ده، اوغلول په اصطلاح کې له قسمت

څخه مخکې دغنیمت څخه څه شئ اخستلوته که څه هم کم وي وايې، یادغنیمت څخه هغه خیانت ته وايې چې دمصئونیت ځای ته نه وي رسیدلی اویا هم له غنیمت څخه خیانت ته وايې مطلقا (الشرح الصغیر ۲/ ۲۷۹ ، والدسوقي ۲/ ۱۷۹).

ابن قدامه حنبلي رح یې داسې تعریف کړی ،چې غال هغه چاته وايې ،چې هغه څه پټوي ،چې له غنیمت نه یې اخستې وي ، نه پرې امام خبرېږي اونه یې له مال غنیمت سره ږدي (البحر الرائق ۵/ ۸۳ ، وابن عابدین ۳/ ۲۲۴ ، والمغني ۸/ ۴۷۰ ط المنار .) اومشهور فقهی اومحدث امام نووي رح وايې : چې دغلول اصل مطلقا خیانت ته ویل کیږي ،خو غالب استعمال یې په هغه خیانت کې کیږي، چې له مال غنیمت څخه وي (شرح صحیح مسلم للنووي ۴/ ۲۱۶ ، وانظر ابن عابدین ۳/ ۲۲۴ ، والزرقاني ۳/ ۲۸ .دشرعي حکم له مخې هیچاته آن دیوه تار یا تردې دلوړ قیمت بل شئ داخستلو جواز هم نشته ،چې ده غنیمت کړی وي او دا یې په پټه واخلي ،بلکې دا مجاهد مکلف دی ،چې دنور غنیمت مال سره یې ضمیمه کړي ،البته که دده سره آس و، یا یې له ویش څخه مخکې خوارک ته اړتیا پیدا شوه، همداسې که ورته دوسلې داستعمال ضرورت پیدا شو، نو ددې اجازه شته، چې له غنیمت شوي مال څخه له تقسیم مخکې ترې دضرورت له مخې خوارک وکړي ،یا آس ته ورکړي یا یې مهمات او وسله وکاروي چې تفصیل به یې وروسته راشي .

دغلول حکم

دټولو فقهاوو په اتفاق سره غلول حرام دی ،دلیل یې دالله تعالی دا قول دی ،چې فرمايي : { وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ } سورة آل عمران / ۱۶۱ .) ترجمه :او یوه نبي ته ندي مناسب چې غلول(بیت المال کې خیانت وکړي)اوچا چې غلول وکړ،نو هغه څه به راوړي، چې پکې غلول یې کړی)اوحدیث شریف کې هم داسې دي ژباړه :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چې :کوم مومن چې په الله جل جلاله او داخرت په ورځ ایمان لري ،ورته ندي حلال چې خپلې اوبه دبل چا فصل ته ورکړي ،اونه داچې غنیمت له تقسیم څخه مخکې خرڅ کړي ،اونه داچې دمسلمانانو دفئ جامه واغوندي ،تردې چې زړه یې کړي او بیرته یې ورکړي اوداچې دمسلمانانو دفئ په سپرلۍ سپورشي تردې پورې چې کمزورې یې کړي بیرته یې ورکړي (أخرجه أحمد (۴/ ۱۰۸).

امام نووي رح فرمايي :چې ټولومسلمانانوپدې اجماع کړي، چې دغلول مال مغلظ حرام دی اودا کبایرو څخه ده او پدې هم اجماع ده ،چې کوم مال کې غلول وکړي نو بیرته به یې سپاري .(صحیح مسلم بشرح النووي ۱۲/ ۲۱۷).

جمهوروفقهاء وايې چې کوم څوک دغنیمت له مال څخه غلاوکړي ، نو دده سزا داده، چې ده ته به تعزیر ورکول کیږي او لاس به یې نه غوڅیږي ،دائکه چې دده هم په مال غنیمت کې برخه

شته، نو دده دا برخه دده دلاس له پریکیدوڅخه مانع شوه ،دا ځکه چې پدې باب یوه مشهوره فقهي قاعده شتون لري ،وايې (الحدود تندرأ بالشُّبُهَاتِ)یعنې حدود په شبهاتو دفع کیږي ،ګویا ددې مشابهت له هغې سره راغی ،چې دا له هغه مال نه غلا وکړي ،چې دده اوبل چا ترمنځ شریک وي،خوکه چیرته یې یوه مصئون ځای ته تر وړلووروسته غلاوکړه – لکه چې دامام سرخسي په مبسوط کې لیکي :

وان سرق بعض الغانمين شيئا من الغنيمة لم يقطع لتأكد حقه

فيها ولكنه يضمن المسروق ويؤدب ولا يحرق رحله عندنا

•المبسوط لشمس الدين السرخسي ج۳ص۹۸).

په (شرح سیرکبیر)کې لیکي چې :

که چیرته هغه څوک چې له بیت المال څخه یې غلا کړي وه، په خپله دې غلا او خیانت باندې پښیمانه شو او غلاشوی مال یې دمسلمانانو امام ته راوړ، نو دامام خوښه ده ،چې تکذیب یې کوي او تصدیق،که تکذیب یې کوي، نو ورته به ووایې ددې غلول وبال ستاپه غاړه دی ،زه ستاپه صدق نه پوهیږم ته ددې په مصرف ښه پوهیږې ،اوته یې مستحق ښه پیژني ،اوکه دامام خوښه وه، نو مال دې ترې واخلي ،خمس دې یې خپلو مستحقینو ته ورکړي ،ځکه مال دده په لاس کې وموندل شو او شرعا دا مصدق وګرځول شو،نو هغه مستحقوته به یې ورکړي ،چې الله جل جلاله ښودلې دي ،ددې حکم دلقطې شو،دمسلمانانودمشرخوښه ده، چې چاته یې ورکوي ،یعنې که ددې شخص تمه ورته وه ،چې بیرته یې ورکړي او دایې په خپل اهل وعیال مصرف کړي ،نو هم کولای شي ،که یې مساکینوباندې ویشه ، نو هم یې کولای شي اوکه یې په بیت المال کې موقوف ایښوده، نو هم یې ایښودی شي ،نوم حال اوشان دې پرې ولیکي اوبیا دې یې پکې کښیږدي ،خوکه چیرته یې دا غلاشوی مال غنیمت، دمسلمانانو مشرته رانه وړ،همداسې یې توبه وایسته، نو دې کې بیا دوه صورته دي، یو داچې پخپله یې پرخپل اهل دتقسیم او مصرف تمه ونکړي ،نو بیا مستحب ورته داده، چې صدقه یې کړي اوکه تمه یې وه ،نو بیا یې دلقطې غوندې حکم دی ،په ټولو صورتونو کې ترڅویې پخپل اهل وویشي ،نو ښه دا ده ،چې امام ته یې وسپاري ، کله یې چې امام ته ورکړ،نو امام بیا دده په تصدیق کې اختیار لري ،مګرمناسب داده ،چې خمس دده په لاس کې ورنکړي ،ځکه ده اقرارکړی ،چې دده په لاس کې خمس دهغه چادی ،چې الله ج مشخص کړي دي، نو غوره داده ،چې خمس ترې واخلي او ارباب الاستحقاق ته یې ورکړي

(شرح السیرالکبیرج۴ص۱۸)

نوربیا.....

حضرت بلال (حبشي) رضي الله عنه

حمدالله حلمیار/ زابل

ایا پوهیږئ چي: حضرت بلال (حبشي) رضي الله عنه د رسول الله صلي الله علیه وسلم له رحلت وروسته چیرته ولاړ؟

بلال رض هغه جلیل القدر صحابي وو، کوم چي یي په لومړي ځل درسول صلي الله علیه وسلم په امر أذان وکړاو بیا تقریبا تر لسو کالو پوري د رسول الله (ص)مؤذن پاتي شو. کله چي رسول الله ص ، رحلت وکړ ، بلال رض ابوبکرصدیق رض ته راغي ، ویي ویل ،اي خلیفة رسول الله ! ما له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي ، چي فرمایل یي : دمؤمن لپاره تر ټولو غوره عمل دالله(ج) په لاره کي جهاد کول دي !

ابوبکر(رض) ورته وفرمایل؛ نو ستا څنګه اراده ده؟

ویل : غواړم چي د خداي (ج) په لاره کي دجهاد لپاره ووځم ترڅو شهید شم !

ابوبکر(رض) : نو مونږ ته به أذان څوک کوي؟

بلال رض ، چي سترګي یي له اوښکو ډکي وي ویل : زه له رسول الله (ص) څخه پرته بل چاته أذان نشم کولای .

ابوبکر(رض) ورته وویل : نه ! ته له موږ سره پاتي شه ، موږ ته اذان کوه !

بلال (رض) ورته ویل : که دې زه د دې لپاره آزاد کړی وم ،چي له تاسره واوسم ؛ نو بیا چې دې څنګه خوښه وي هغسي به وکړم او که دې د خداي لپاره آزاد کړی وم؛ نو بیا مي پریږده چي د الله ﷻ په لاره کي ووځم !

حضرت ابوبکرصدیق (رض) ورته ویل ،چي نه بلاله ! ما ته خاص د الله ﷻ لپاره آزاد کړی وي. بیا شام ته ولاړ، چي پاتي وخت یي په جهاد کي تیر کړ.

بلال (رض) به د ځان په باره کي ویل : چي زه د رسول اله صلي الله علیه وسلم له وفات

وروسته په مدینه کي نشم اوسیدلی ،ځکه هلته یي فراق زیات زور راباندي کوي، کوم وخت چي یي أذان کاوه او د (اشهد ان محمدرسول الله) ټکو ته به ورسید؛ نو غږ به یي ګنګوړه شو او وبه یي ژړل، څو کاله وروسته یې رسول الله (ص) په خوب کې ولید، چي ورته وایي: اي بلاله! دومره جفا؟

په دا دومره وخت کي یوځل زما زیارت ته هم رانغلي؟

چي کله را بیدار شو؛ نو سمدستي یي د سفر تیاری وکړ او د مدینې منورې په لور روان شو،هلته چي ورسید، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر قبر یي سلام ووایه ، ډیر زیات یي وژړل ، بیا یې حسن اوحسین رضي الله عنهما په غیږه کي واخیستل ښکل یې کړل او مینه یې ورسره وکړه، دواړو (حسن او حسین رضي الله عنهما) ترې وغوښتل ، ترڅو د سهار أذان وکړي، د مسجد بام ته وخوت، چي کله یي (الله اکبر ، الله اکبر) وویل ، په مدینه کي شور او ځوږ جوړ شو،چي کله یې (أشهد ان لا اله الالله) وویل شور په ژړاوو او چغارو بدل شو،چي کله یې (أشهد أن محمدرسول الله) ویل خلک له خپلو کورونو ، کوڅو ته راووتلدوي فکر کاوه چي رسول الله ﷺ راژوندی شوی دی،په دغه ورځ د مدینې ټولو خلکو بیخي زیات وژړل ،چي شاید د نبي ﷺ له وفات وروسته دومره زیات یي بیا نه وو ژړلي.

او کله چي بیا امیرالمؤمین حضرت عمر (رض) د شام په سفر ولاړ؛ نو یې له حضرت بلال رضی الله عنه څخه هیله وکړه، چي نن ورته په خپل غږ کي أذان وکړي، کله چي د لمانځه وخت شو او أذان یې شروع کړ ، ناستو ټولو صحابه کرامو ، چا چي رسول ﷺ لیدلی و، په چیغو چیغو ورته وژړل، پخپله حضرت بلال هم دومره زیات وژړل، چي کله یې هم په ژوند کي دغومره نه وو ژړلي، تر ډیره پوري هیچا هم خپله ژړا نشواي قابو کولای ، هر چاته د خوږ رسول الله ﷺ ژوند او له هغه سره بر کتي ناستې پاستې وریادې شوې. او کله چي وفات کیده ؛ نو میرمن یې په خواکي ناسته وه او وربانـدي ژړل یي، خو ده ورته وویل: خواره مشي، مه ژاړه! اوس به مي له خپل حبیب محمد رسول الله ﷺ سره یوځاي شم...

ما چي کله دا ټکي راژباړل ، هم ډیر زیات مي وژړل او د رښتیني مینې د یو ژوندي مثال په څیر مي څو ځله ولوستل.

۲۵/۵/۲۰۱۳

په هلمند کې رښتیا څه تیر شول ؟

قاري حبيب

د روان ۲۰۱۴م کال د جون میاشتې په وروستۍ نیمایي کې نړیوالو او محلي رسنیو په هلمند ولایت کې د طالبانو د سترو هماهنګو بریدونو خبر ورکړ، په هلمند کې د تعرضي عملیاتو دا څپه چې محوري نقطه یې د سنګین ولسوالۍ د څاروان کلا سیمه وه، دومره خبرسازه وه چې په نړیوالو مطبوعاتو کې په عراق کې د اسلامي دولت له فتوحاتو او پرمختګونو سره مشابه وبلل شوه، د کابل واکمن رژیم او د هغوی بهرني ملاتړي یې سخت وارخطا کړل، تردې چې هڅه یې پیل کړه ترڅو په رسنیزه برخه کې د طالبانو د دې سترو عملیاتو د لاسته راوړنو مطبوعاتي انګازه کنترول کړي، نوځکه یې په متقابلو بې اساسه تبلیغاتو شروع وکړه.

د هلمند وروستي جهادي عملیات چې څومره ستر، بریالي او هدفمند و، په هغه کچه په مطبوعاتو کې تعبیر نه شول، که په یوه جمله کې ووایو ویلی شو چې دغه عملیات د جهاد په تیرد یارلس کلن تاریخ کې د سیمو دازادۍ، فتوحاتو، د دښمن د تلفاتو او غنائمو ترلاسه کولو له اړخه ترټولو بریالي عملیات و چې په پایله کې یې په زرګونو کیلومتره مربع سیمې چې پخوا د دښمن له پوستو ډکې وې تصفیه شوې او د مجاهدینو تر تسلط لاندې راغلې.

د اسلامي امارت د رهبري شورى لخوا د خیبر عملیاتو له اعلان وروسته د هلمند په سطحه د مجاهدینو یو پلان د او ترڅو په سنګین، نوزاد، خانشین او مارجه ولسوالیو کې هغه ولس میشتې سیمې چې تر اوسه د دښمن تر تسلط لاندې پاته دي، او بهرنیو یرغلګرو خپلو کورنیو اجیرانو، اربکیانو او

عسکرو ته پرې ایښي دي باید ددښمن له شتون څخه تصفیه شي، په دې برخه کې څو مهمې او کلیدي سیمې لکه د سنګین څاروان کلا، د نوزاد چارکاریز، د مارجې تریخ ناور او خانشین تاغز او خیرابـاد سیمې په ځانګړې توګه هدف وې، دا ټولې سیمې خورا پراخې ولس میشتې سیمې دي چې هره سیمې په لسګونو کلي او مسکوني سیمې په بر کې نیسي.

څرنګه چې د افغانستان په زیاترو ولایاتو کې دښمن یوازې د ولسوالیو په مرکزي ودانیو واک لري، مجاهدینو غوښتل په دې سیمو کې هم ددښمن سلطه د ولسوالیو ودانیو ته ورټوله کړي او یادې مسکوني سیمې یې په بشپړ ډول له لاسه وباسي، دې سیمو هرې یوې په خپل ځای ځانګړې ستراتیژیک اهمیت درلود، څاروان کلا چې د سنګین له دریو دوه برخې تشکیلوي په شمالي هلمند کې ترټولو مهمه نقطه ده چې ګرشک، کجکی او موسی کلا سره وصلوي، دڅاروان کلا دنیولو لپاره برتانوي او امریکایي یرغلګرو په سلګونو پوځیان قرباني کړل، ګڼ شمیر ټانګونه او درانه وسائل یې له منځه لاړل او د څو کاله پیوسته جګړو په ترڅ کې په دې وتوانیدل چې دغه د رود او دښت ترمنځ پرته ستراتیژیکه سیمه ونیسي، بهرنیانو د تیښتي په مهال داسیمه اربکیانو او داخلي عسکرو ته وسپارله ترڅو ددوی د وینو په بیه ګټل شوي سیمه وساتي، سرکال مجاهدینو پخه اراده درلوده چې همدا سیمې او نورې یادې مهمې سیمې بیرته له دښمن څخه ونیسي.

د روان ۲۰۱۴ م کال د جون میاشتې په ۱۹ مه نیټه په سلګونو مجهز مجاهدین د زمیندوار او نورو سیمو لخوا د هلمند له سیند څخه په کښتیو کې پورې وتل، اود ساروان کلا سیمې په ختیځه غاړه د رود اړخ یې ونیو او بیا یې د لویدیځ په خوا په ټولو سیمو کې ددښمن په پوستو بریدونه پیل کړل، ددې سختې جګړې په لومړیو دریو ورځو کې په څاروان کلا کې ددښمن ۲۴ مهمې پوستې فتحه شوې، دښمن د تعرضي پرمختګ په نتیجه کې له سیمې پسې واخیستل، د څاروان کلا کلي او وطن په کاملاتوګه ترې تصفیه شو، او دښمن د لویدیځ په خوا دښتې ته وشړل شو، چیرته چې په عمومي سرک له وړاندې ددښمن پوستې شتون لري.

ددې عملیاتو په لړ کې د ساروان کلا سیمه چې اوږدوالی یې ۲۵ کیلومترو ته رسیږي او بهرنیو یرغلګرو یې د اشغال لپاره دری کاله سختې جګړې کړې وې مجاهدین وتوانیدل چې په ظرف ددریو ورځو کې یې په بشپړه توګه له دښمن څخه تصفیه کړي، دغه حالت د هغو امریکایي او برتانوي جنرالانو لپاره واقعا ټکان ورکوونکی و چې ددې سیمې لپاره یې سختې جګړې کړې او لسګونه عسکر یې په کې له لاسه ورکړي و، همدا لامل و چې خارجي

او داخلي دښمنانو له دې حادثې وروسته سخت تبلیغات پیل کړل، که له یوې خوا یې په دروغو دمجاهدینو دمرګ ژوبلو خبرو ته زور ورکړل بله خوا یې په دروغو ادعاء وکړه چې په سنګین کې بهرني په ځانګړي توګه پاکستاني کسان جنګیږي، په داسې حال کې چې په دې جګړو کې هیڅ بهرني کس شتون نه درلود بلکې ټول دهلمند دسنګین، کجکي او موسی کلا ولسوالیو اوسیدونکي مجاهدین و.

د ځاروان کلا د تصفیه کولو په جګړه کې ددښمن مجموعا تر سلو ډیر عسکر او اربکیان ووژل شول، چې تقریبا دټولو مړي دجګړې په میدان پاته و وروسته د **۳۵** عسکرو مړي سره صلیب انتقال کړل، او یو شمیر مجاهدینو قومي خلکو ته وسپارل چې دښمن ته یې وسپاري ځکه دښمن نه شوای کولای خپل مړي انتقال کړي، په همدې اولنیو جګړو کې له دښمن څخه تر سل میله زیاته وسله هم ونیول شوه.

دښمن له دې تلفاتو وروسته په ځاروان کلا پوځي یرغل وکړ، د کرزي ادارې دپوځ لوی درستیز شیرمحمد کریمي سیمې ته راغی، ورسره یوځای د لشکرګاه لخوا زمیني قوه د عملیاتو په موخه راغله، دغه راز د ځاروان کلا د کنک مانده په سیمه کې کمانډویي داخلي عسکرو له چورلکو پیاده شول او د رود په بله غاړه د شهزادې په سیمه کې له چورلکو پیاده شول ترڅو له څو خواوو په مجاهدینو بریدونه وکړي، خو مجاهدینو چې دې حالاتو ته بیدار و، کله چې خبرشول ددښمن دعملیاتو سرقومندان شیرمحمد کریمي د سنګین په امنیه قومندانۍ کې اړولي، امنیه قومندانیي د توغندویو او منځني هاوان ترسختو بریدونو لاندې ونیوله، چې له امله یې شیرمحمد کریمي په ډیرېد وضعیت کې وتښتیده، په ځمکنۍ قوه یې د سنګین بازار ته نږدې دشکرشیلې او ځاروان کلا په مربوطاتو کې په بیلابیلو ځایونو کې تر سختو بریدونو لاندې ونیوله او شوبلې یې به ماینونو والوځولې، هم مهال یې د کنک مانده په سیمه کې پیاده شویو کمانډو عسکرو هم سخت برید وکړ، دکنک مانده په برید کې ددښمن کمانډویي ډله په کامله توګه تارومار شوه، د **۱۲** تنو کمانډویانو مړي د جګړې په سیمه پاته شول، چې مشر یې قومندان علي محمد هم په کې و، له نوموړي سره ځانګړی امریکایي ټوپک، دشپې دلیدلو دوربین او نور وسائل هم مجاهدینو غنیمت کړل، د شهزادې په سیمه کې چې امریکایان پیاده شوي و د مجاهدینو د پرلپسې بریدونو له امله یې داتوان پیدا نه کړ چې له سیمې وښوري همدلته یې دوه ورځې تیرې کړې او په دریمه ورځ بیرته د هوا له لارې وتښتیدل.

په دې جګړو کې ددښمن ځمکنۍ قوې ته هم سخت تلفات ورسیدل لسګونه شوبلې او پوځي باربري موټر یې له منځه لاړل چې تراوسه پورې ددښمن **۳۰** عرادې پوځي وسایط اوګڼ

شمیر پوځي کاماز موتر په سیمه کې پراته دی د څاروان کلا په جګړه کې د دښمن د ټولو له منځه تللیو پوځي وسایطو شمیر تر ۱۰۰ هم زیات دی.

د څاروان کلا په جګړه کې ۱۰ تنه مجاهدین شهیدان او ۲۵ تنه نور ټپیان شوي دي، په دې جګړه کې چې دښمن سخت ګوزار وخوړ نو یې د غچ اخیستلو لپاره د ملکي خلکو په وژلو او ویشتلو لاس پورې کړ، دښمن چې له منطقې وایستل شو، د دښت له پوستو څخه یې په مسکوني سیمو د هاوان ړانده بریدونه پیل کړل، او ولسي کورونه یې به سخته بې رحمۍ وویشتل، دغه راز امریکایان چې د شهزادې په سیمه کې پیاده شول په لومړۍ شپه یې د ۴ ښځو په ګډون لس تنه عام ولسي وګړي په مرمیو وویشتل او شهیدان یې کړل، د دښمن همدې انتقام جویانه بې رحمانه بریدونه ملکي خلکو ته سخت تلفات ورسول او یو شمیر خلک یې د سیمې پریښودلو ته اړ کړل.

د څاروان کلا په سیمه کې چې مجاهدین کوم اهداف لرل، د څو ورځنیو جګړو په ترڅ کې په کامله توګه ترلاسه شول، د اپراخه سیمه چې د یوې مستقلې ولسوالۍ حیثیت لري کاملا له دښمن څخه پاکه شوه، اوس د دښمن شتون یوازې په دښت کې کجکي ته د غځیدلي سرک په سر په پوستو کې محسوس دی، مګر دښمن نه شي کولای دغه سیمې د ډیر وخت لپاره وساتي.

د څاروان کلا د عملیاتو سره هم مهاله مجاهدینو په نوزاد کې هم عملیات پیل کړلو په نوزاد کې د چهارکاریز سیمه چې د ولسوالۍ د مرکز په شاوخوا پرته ده یوازینی د دښمن ترواک لاندې سیمه بلل کیږي چې ګڼ شمیر کلي په کې اباد دي د ۴۰۰ په تعداد مجهز مجاهدین د څاروان کلا له برید یوه ورځ وړاندې دې سیمې ته ورداخل شول، سهار له دښمن سره جنګ پیل شو، په لومړۍ ورځ د دښمن ۸ پوځي موټر له سپرو عسکرو سره له منځه لاړل او یو شمیر وسلې یې مجاهدینو غنیمت کړې، ورپسې مجاهدینو د سرکانو د سیمې مهمه پوسته فتحه کړه چې په جګړه کې د دښمن د ۸تنو عسکرو مړي په میدان پاته شول، مجاهدینو ۱۰ میله وسله، ۴ موترسایکل غنیمت کړل، په نوزاد کې د دښمن د اکمال لپاره دښمن له موسی کلا څخه یوه قوه راروانه کړه چې د مجاهدینو تر سخت برید لاندې راغله د دې قوې هم ۲ پوځي موټر له منځه لاړل او ګڼ عسکر یې ووژل شول، د نوزاد په چهارکاریز سیمه کې څو ورځې جنګ جریان پیدا کړ ترڅو دغه سیمه هم له دښمن څخه تصفیه شوه او په سیمه کې موجودې د دښمن ۲ پوستې له منځه لاړې، د چهارکاریز سیمه همدا اوس د مجاهدین په ولکه کې ده او د دښمن شتون د ولسوالۍ مرکز ته ورټول شوی دی.

په مارجه او خانشین کې هم چې مجاهدینو د څاروان کلا او نوزاد له عملیاتو سره هم مهال

کوم بریدونه پیل کړي و ټاکل شوي اهداف یي ترلاسه کړل، د مارجې د تریخ ناور په سیمه کې پراخې سیمې له دښمن څخه تصفیه او مجاهدینو ډیر غنائم ونیول، په خانشین کې د تاغز بازار او خیراباد علاقې چې پخوا په کې دعسکرو او اربکیانو ګڼې پوستې مکملې دمجاهدینو ترتسلط لاندې راغلې، دخانشین په ټوله جګړه کې ۵ تنه مجاهدین په شهادت رسیدلي په داسې حال کې چې ددښمن تلفات تر لسګونو رسیږي، همدلته په یوه جګړه کې ۳ تنه مجاهدین شهیدان شول، خو دښمن داپیښه دومره ستره تعبیر کړه، چې دمجاهدینو تلفات یې تر ۴۰ زیات وښودل او حتی بي بي سي ولیکل چې د خانشین جګړه چې تر څاروان کلا سخته وه په لسګونو طالبان په کې وژل شوي، خو دا هرڅه دروغ و، په خانشین کې په ټولو جګړو کې یوازې پنځه تنه مجاهدین شهیدان شوي او هدف شوې سیمې فتحه شوي دي.

د یادو فتوحاتو سربیره په تیره میاشت کې په هلمند کې مجاهدین دوه نور هم خورا بریالي عملیات ترسره کړل، د څاروان کلا د جګړې د اوج په مهال مجاهدینو په دې خاطر چې دښمن څو ځایه مصروف او سربداله کړي، په کجکي او ګرشک کې یې هم په دښمن ستر بریدونه پیل کړل، دکجکې په جګړه کې مجاهدینو د بریښنا تربندلاندې د کجکي په اصلي سیمه کې ددښمن په پوستو عملیات وکړل چې په نتیجه کې یې ددشمن ۳ پوستې فتحه او ۲۳ تنه عسکر یې ووژل شول، په وژل شویو کې ددښمن یو ستر قومندان هم و، په ګرشک ولسوالۍ کې دده ادم خان سیمه دښمن دخپل قوت ترټولو مهمه نقطه بلله، په همدې سیمه کې یې تیرکال د ولسي پاڅون ادعاء هم کړې وه، دغه راز ده ادم خان ته مخامخ د هلمند رود په بله غاړه د میرمنداو او زمبیلي سیمې چې ستري ګڼ میشتې سیمې دي، په ګرشک کې مهمې سیمې بلل کیږي، داسیمې چې پخوا کلي په کلي د برتانوي او امریکایي عسکرو قرارګاوې په کې وې، خارجیانو یې دنیولو لپاره خورا ډیرې خوارۍ کړې وې، په همدې سیمو کې د مجاهدینو او دښمن ترمابین له تیروڅلورو کلونو راهیسې جنګي کرښه وه چې دا څوکاله په خپل ځای وه، خو دوروستیو عملیاتو په ترڅ کې مجاهدینو دغه دری واړه سیمې ددښمن له شتون څخه تصفیه کړې، ددښمن خط مات شو او اربکیان او عسکر یې ټول د ګرشک دمرکز په خوا وتښتیدل.

دغه بریا له دې امله مهمه بلل کیږي چې په ګرشک کې همدا ددښمن دقوت نقطه وه، چې له منځه لاړه.

فضایل روزه شش روز شوال

برادر مسلمانم: بدون شک مسلمان طالب مداومت در طاعات و خواستار تزکیه و پاکی نفس است. و به خاطر همین پاکی است که طاعات و عبادات وضع گردید و بر حسب طاعت و عبادت هر شخص، نفسش تزکیه و پاک می گردد و باز هم با توجه به میزان زیاده روی و افراطش از پاکی و تزکیه ی نفس دور می شود. از این رو کسی که اهل طاعت و عبادت است، دارای قلبی شفاف و مصلح است اما کسی که اهل گناه است، دارای قلبی زنگار بسته و زشت کردار است.

روزه از جمله ی همان عباداتی است که قلب را از زنگار پاک می گرداند و شفا بخش بیماری هایش است. از این رو ماه رمضان فصلی است برای برگشت و روز هایش فرصتی است برای پاکی قلب ها.... و این همان سود بزرگی است که عاید روزه دار می شود تا بعد از روزه اش با قلبی جدید و حال و هوایی تازه در عرصه ی روزگار حاضر گردد روزه ی شش روز ماه شوال بعد از رمضان از این حیث که روزه دار در آستانه ی عبادتی دیگر بعد از فارغ شدن از روزه ی رمضان قرار می گیرد، فرصتی طلایی است.

پیامبر (صلی الله علیه و سلم) امتش را با شیوه ای خاص به روزه داری در شش روز شوال تشویق می کند.

پیامبر گرامی اسلام (صلی الله علیه و سلم) می فرماید: {من صام رمضان ثم أتبعه ستاً من شوال کان کصیام الدهر} رواه مسلم وغیره. هر کسی در ماه رمضان و سپس پس از آن شش روز شوال را روزه بگیرد همانند کسی است که تمام سال را روزه گرفته است.

امام نووی (رحمه الله) به نقل از علما می گوید: همانا که این روزه ی تمام سال است زیرا که عمل نیک ده برابر می شود، پس رمضان ده ماه و شش روز (شوال) دو ماه دیگر آن است.

و همچنین حافظ بن رجب از ابن المبارک نقل می کند که: فضیلت روزه ی شوال همانند رمضان است و اجرش نیز همانند اجر روزه ی فرض یک سال تمام است.

برادر مسلمانم: روزه ی شش روز از شوال به منزله ی

شکرانه ی خداوند است که به ما توفیق داد تا رمضان را روزه بگیریم و اعمال نیکو انجام بدهیم و همچنین نشان گر علاقه ی مسلمان به طاعات و عبادات و پیش رمسیری نیکوست.

حافظ ابن رجب (رحمه الله) می گوید: هرکس به جای شکرانه ی توفیق روزه داری در رمضان، گناه کند، به جای شکرنعمت کفران نعمات الله را کرده است.

برادر مسلمانم: هیچ زمان و فصلی خاص برای اطاعت از خداوند وجود ندارد، زیرا که با تمام شدن این زمان خاص انسان باید دگر بار به گناهان باز گردد؟ بلکه زمان و فصل عبادت بنده تمام لحظاتی است که زنده است و این اعمال و عبادات پایان نمی پذیرد مگر با قرار گرفتن انسان در قبرش.

روزی به بشر حافی (رحمه الله) گفته شد که: قبیله ای فقط در رمضان عبادت و تلاش می کنند. ایشان گفتند که: «بد ترین قوم و قبیله کسانی هستند که برای خدا هیچ حقی قائل نمی شوند الا در رمضان! و همانا کسی نیکو کار است که در تمام سال عبادت و تلاش کند».

برادر مسلمانم: روزه گرفتن شش روز بعد از رمضان فواید بسیاری دارد که این برکات و فواید از آن کسانی است که این شش روز را روزه بگیرد و حال این تو هستی که باید این فوائد را از سخنان حافظ ابن رجب(رحمه الله) استنتاج کنی که می گوید: به راستی شش روز روزه ی شوال بعد از رمضان، کامل کننده ی ثواب روزه داری در تمام سال است. و روزه ی شوال و شعبان در حقیقت همانند نماز های سنت هستند که قبل و بعد از نماز های فرض خوانده می شوند تا کم و کاستی های نماز فرض را جبران کند. بدون شک در روز قیامت این نوافل و سنت ها هستند که مکمل و جبران کننده ی کم و کاستی فرائض اند. این در حالی است که روزه ی بیشتر مردم با کم و کاستی و نقص هایی همراه است و احتیاج به عملی نافله دارد که این کم و کاستی را جبران کند.

قطعا روزه داری بعد از اتمام روزه ی ماه رمضان بدین معناست که روزه های ما در رمضان مورد قبول حق تعالی گشته است. زیرا که اگر الله تعالی عمل بنده ای را بپذیرد، به وی توفیق انجام عمل صالحی دیگر می بخشد. همان طور که گفته اند: ثواب و پاداش نیکی، انجام نیکی بعد از آن است. و هرکسی که عمل نیکی انجام دهد و بعد از آن اعمال نیکش ادامه یابد، بدین معناست که نخستین عمل نیکش پذیرفته شده و همچنین شخصی که بعد از انجام عمل نیک اعمالی ناشایستانجام دهد به معنای پذیرفته نشدن عمل وی است.

روزه ی رمضان باعث پاک گشتن گناهان گذشته می شود. و روزه دار اجر و پاداش روزه اش را در عید فطر می گیرد و آن روز روزی است که جایزه ی روزه داران (ثواب روزه ی رمضان) به آن ها داده می شود و ما برای شکرانه ی این نعمت بعد از رمضان نیز روزه می گیریم. و چه نعمتی فراتر و بزرگتر از بخشیده شدن گناهان! رسول اکرم (صلی الله علیه و سلم) آن قدر نماز می خواندند که پاهای مبارکشان ورم می کرد، به او می گفتند: در حالی که خداوند گناهان گذشته و آینده ات را بخشیده است باز

هم این چنین عبادت می کنی؟ ایشان فرمودند: آیا بنده ی سپاس گذاری نباشم؟

هم چنان که الله سبحانه و تعالی بندگانش را به شکرانه ی نعمت روزه با به زبان آوردن ذکرش و اعمال نیک دیگر، امر فرموده است: «که این روزها را تکمیل کنید؛ و خدا را بر این که شما را هدایت کرده بزرگ بشمرید؛ باشد که شکرگزاري کنید!» و از جمله ی شکر گذاری برای توفیق روزه ی رمضان این است که بعد از آن ماه مبارک نیز روزه بگیریم.

برخی از سلف هنگامی که توفیق به پا داشتن نماز قیام را داشتند، صبح آن شب را روزه می گرفتند و این روزه را به نیت شکرانه ی نعمت توفیق قیام اللیل می گرفتند.

از وهیب بن الورد در باره ی اجر اعمالی همچون طواف و... پرسیده شد. وی پاسخ داد: در مورد اجر آن اعمال سؤال نکنید، اما در مورد این بپرسید که چگونه شکر گذار نعمت توفیق انجام این عمل باشیم.

تمام نعمت های خداوند بر بندگانش در دین و یا در دنیا مستحق شکرگذاری اند، و سپس هر کسی توفیق شکر گذاری پیدا کرد باید برای این توفیق به دست آمده نیز شکر گذار باشد زیرا که شکر گذار بودن نعمت است. و همین طور این زنجیره ی شکر ادامه دارد تا جایی که بنده نمی تواند شکر گذار تمام نعمات باشد، و حقیقت شکر در واقع اعتراف به ناتوانی برای شکر گذاری تمام نعمات است.

\بی شک اعمالی که در ماه رمضان باعث نزدیک شدن بنده به پروردگارش گشته است، با تمام شدن رمضان قطع نمی شود، بلکه آن عمل تا لحظه ی مرگ انسان با وی باقی می ماند.

فتواهایی در مورد شش روز روزه ی شوال از مجلس دائمی فتوا پرسیده شد که: آیا روزه ی شش روز شوال باید دقیقا یک روز پس از روز عید گرفته شود یا می توان آن را بعد از چند روز پس از عید نیز گرفت؟

پاسخ: لازم نیست که دقیقا این روزه ها پس از عید گرفته شود، و می توان روزه را دو و یا چند روز پس از عید نیز گرفت، ونیز می تواند این روزه ها را پشت سر هم و یا با فاصله از هم در خلال ماه شوال و هر طوری که راحت اند، بگیرند. و این مساله سنت است و دست همه برای انتخاب باز است.

از شیخ عبدالعزیز بن باز پرسیدند: من روزه ی شش روز شوال را آغاز کردم ولی به خاطر بعضی از کارها و مسایل قادر به تکمیل شش روز آن نیستم و دو روز از روزه ام باقی است، آیا قضایشان را بگیرم؟ آیا من مرتکب گناه شده ام؟

پاسخ: روزه ی ماه شوال مستحب است و واجب نیست، و اجر آن چه را که از این روز ها روزه گرفته اید، برای شما خواهد بود. و حتی اگر عذری شرعی مانع تکمیل روزه تان باشد برای شما ثواب تمام روزها نوشته می شود. بر حسب فرمایش نبی (صلی الله علیه وسلم) که می فرماید: اگر بنده ای بیمار شود و یا مسافر باشد، خداوند برایش اجر همان کار هایی را می نویسد که به هنگام صحت و یا مقیم بودنش انجام می داده است. (صحیح بخاری) و برای شما هیچ قضایی نیست اگر روزه

تان را تکمیل نکرده، ترک کنید. [مجموع فتاوای شیخ عبدالعزیز بن باز:۵/ ۲۷۰]

برادر مسلمانم: آنچه که ذکر کردیم، برخی از فتواهای مربوط به روزه ی شش روز شوال بود و بر ما مسلمانان واجب است که کفه ی ترازوی اعمال نیکمان را سنگین تر کنیم و شایسته است اعمالی را که موجب نزدیک تر شدن ما به خداوند می شود را انجام دهیم، زیرا که با این اعمال می توانیم رضای الله را به عنوان بنده اش جلب کنیم.

و همان طور که از سخنان حافظ ابن رجب برخی از فواید روزه در شش روز شوال را دریافتیم، پس باید به آن چیزی که در امور دین و دنیا برایمان مفید است علاقه مند باشیم. چرا که این چنین فرصت هایی به سرعت می گذرد و بر ماست که این فرصت ها را غنیمت بشماریم و خواستار اجر و ثواب بسیاری باشیم و از خدا بخواهیم که ما را در اینگونه اعمال موفق گرداند.

و خداوند دوست و یاور کسی است که از او استعانت و کمک بطلبد و به ریسمان دینش چنگ زند... وصلی الله علی نبینا محمد وآله وصحبه وسلّم..

دار ابن خزیمة

منبع www.saaid.net :

ترجمه: سایت بیان

مجاهدین باید ښځې او ماشومان ونه وژني

د(عبد الله بن عمر رضی الله عنه) هغه روایت دی ،چې په (إحکام الاحکام شرح عمدة الاحکام) کې رانقل کړی دی ،چې فرمايي : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا { أَنَّ امْرَأَةً وُجِدَتْ فِي بَعْضِ مَغَازِي النَّبِيِّ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْتُولَةً ، فَأَنْكَرَ النَّبِيُّ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلَ النِّسَاءِ ، وَالصِّبْيَانِ } .الشَّرْحُ هَذَا حُكْمٌ مَشْهُورٌ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ فِيمَنْ لَا يُقَاتِلُ ، وَيُحْمَلُ هَذَا الْحَدِيثُ عَلَى ذَلِكَ لِغَلَبَةِ عَدَمِ الْقِتَالِ عَلَى النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ

.ژباړه: د(عبد الله بن عمر رض)څخه روایت شوی دی ،چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ،په ځینو غزاواتو کې یوه ښځه وژل شوې وموندل شوه ،نو ددې پس رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو او ماشومانو له وژلو څخه انکار (منع) وکړه) ، ددې حدیث شرح په (احکام الاحکام) کې داسې شوي ، چې دا مشهور متفق علیه حکم دی دهغه چا په هکله ،چې مقاتله نه کوي او دا حدیث ځکه پدې معنی حمل کیږي ، چې غالب په ښځو او ماشومانو کې عدم قتال دی.

د غزې ناورین

احمدضیاء رحیمزی

د لویدیزې بشپړالنې په تنده یو بل تور داغ !!

د غزې په تړانګه کې د لوېدیز و استعمارګرو په مستقیم ملاتړ د اسراییلو د وحشي ځواکونو تر لسو ورځو پرله پسې هوایي او توغندویي بریدونو وروسته، دا دی د جمعې په ورځ دغه وحشي پوځونو د غزې پر تړانګه خپل ځمکنی پلی برید هم پیل کړ.

د غزې په تړانګه د اسراییلي بریدونو نه دالومړی ځل دی او نه به هم وروستی وي، دالړی د عربي نړۍ او منځني ختیز په خېټه کې د فلسطیني مسلمانانو پر ځمکه، د انګریزي استعمار د نامشروع مولود (اسراییلو) له رسمي اعلان څخه پیل شوې او بیا تر ننه په بېلابېلو پلمو دوام لري.

اسراییلی وحشي جنایتکاران چې د انګریزي او امریکایي استعمار نېغ په نېغه ملاتړ له ځان سره لري، په پوره سپین سترګۍ د فلسطیني مسلمانانو پر کورونو او هستوګنو بریدونه کوي، پر هېچا او آن په معصومو ماشومانو هم رحم نه کوي، خو د نړۍ هغه ستر هېوادونه چې د نړۍ په هر ګوټ کې د بشري حقونو د ټېکه دارۍ تاج یې په سر کړي، د اسراییلو د دې وحشیانه بریدونو او دغه ناتار په وړاندې چې پر فلسطیني مظلومانو یې جوړ کړي، چوپه خوله ناست دي او دا بریدونه حتی په خوله باندې هم نه غندي.

د بشري حقونو څخه د دفاع، د ولسونو د خپلواکۍ او استقلال حق ته درناوی او ټول هغه رنګین شعارونه چې دغه لویدیز استعمارګریې تل په وروسته پاتې هېوادونو کې د خپلې منحوسې سیطرې د ټېنګښت او د دغه مظلومو ولسونو پر ټولو تورو او سپینو د حاکمیت لپاره استعمالوي، د اسراییلي وحشت او بربریت په وړاندې هېڅکله نه استعمالېږي او نه ورته څوک درناوی لري.

کله چې په غزه کې معصوم ماشومان، سپین ږیري بوډاګان، ښځې او ځوانان د اسراییلي تاړاک ګرو په بریدونو کې قرباني کېږي، دا له خپل ځان څخه د دفاع لپاره د اسراییلو حق نومول کېږي، خو کله چې فلسطینۍ یا د بل کوم هېواد مسلمان د خپل کور هېواد او خپل حاکمیت د دفاع په لار کې را پاڅېږي نو بیا پر هغې د ترهګر نوم

اېښودل کېږي او د ټکولو او ځپلو لپاره يې ټول لوېديز سره يو لاس کېږي او آن د صليبي جګړو تاريخ پرې يادېږي.

په غزه کې د مظلومو فلسطينيانو پر سر چې نن اسراييلي وحشيانو کوم اور بل کړی دی، که يوې خواته د لويديز والو د منافقانه او له اسلامي نړۍ او اسلامي امت سره د دوی د تلپاتې دښمنۍ څرګندونه کوي، نو په څنګ کې يې متاسفانه د اسلامي نړۍ او اسلامي هېوادونو د بې حسۍ او بې تفاوتۍ يو کرغېړن انځور هم په ډاګه کوي.

نن که د نړۍ تر يو ميليارد زيات مسلمانان په يوه آواز او يوه قوت را پاڅېږي او يوازې د اسراييلو خواته يوه ډېره هم ور وغورځوي، په يقين سره چې اسراييل به بيا د دې جرات هم ونکړای شي چې د فلسطيني مظلومو مسلمانو لور ته چپ هم وګوري؛ خو په تاسف سره چې دغه د نړۍ تر يو ميليارد زيات مسلمانان د خپلو بې واکه او مزدورو واکمنو په ارادو پورې تړلې دي او واکمن يې هم د لويو استعماري قوتونو بې مزده مزدوران.

د غزې په تړانګه کې د تېرې کم او زياتې نيمې مياشتې په اوږدو کې پر فلسطيني ولس روان ظالمانه ناتار ته په کتو، آزادې نړۍ او په تېره بيا اسلامي ملکونوته په کار ده تر څو نور د خپلو غلام صفته خو بې واکه واکمنو له جال څخه راووزي او په خپل ټول قوت او اسلامي يو والي سره په خپل ځان او مال د فلسطيني مسلمانانو تر څنګ ودرېږي.

مجاهدين به ښځې ،ماشومان ،ليونيان ،خنثی مشکل او سپين ږيرې نه وژني

جمهور فقهاء رح فرمايي :چې دښځو،ماشومانو ،ليونيانو او خنثی مشکل په شان سپين ږيرې هم بايد ونه وژل شي او په شريعت کې يې وژنه ممنوع ده، چې همدا سې قول دمجاهد رح هم دی ،چې په (الموسوعة الفقية)کې يې دليل کې دا حديث شريف راوړی چې) لما روي أنّ النّبيّ صلى الله عليه وسلم قال : «لا تقتلوا شيخاً فانياً ، ولا طفلاً ، ولا امرأة » ، ولما روي عن ابن عبّاس في قوله تعالى : { ولا تَعتَدُوا } يقول :" لا تقتلوا النّساء والصّبيان ، والشّيخ الكبير" وروي مثله عن أبي بكر وعمر رضي الله عنهما . ژباړه :يقينا نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: چې تاسو شيخ فاني مه وژنئ ،ماشوم مه وژنئ او ښځه مه وژنئ ! او دهغې دليل له مخې چې حضرت ابن عباس رض څخه دالله تعالى ددې قول په تفسير کې روايت شوی چې فرمايي } ولا تَعتَدُوا { چې فرمايل يې تاسو ښځې مه وژنئ ،ماشومان مه وژنئ او شيخ فاني (سپين ږيری چې د مرګ په ساحل ولاړ وي) مه وژنئ او ددې غوندې دابوبکر صديق رض او عمر فاروق رض څخه هم روايت شوی دی!

میخواهید شامل رحمت خدا شوید ؟

(دهه رحمت)

محمود ویسی

پیوسته به گذشته

دستمان به جای بند نیست پشت سرمان برای ما رحمت می فرستند وقتی این رحمتها به کار من و شما می آید که خودمان زمینه اش را فراهم کرده باشیم یک مقدماتی را فراهم کرده باشیم به عنوان مثال شما دارید در یک راه تاریک حرکت می کنید یک چراغ قوه هم در دستتان گرفتید این چراغ قوه را شما می توانید جلوی راحتان بگیرید که ببینید یا هم می توانید به یکی بدهید که پشت سرتان بگیرد و امیدوار باشید که جلوی راه شما را روشن می کند. آن نور که از پشت می آید تنها وقتی ارزشمند است که خود هم از جلو نوری داشته باشی تعبیر قرآن همین است)يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا(اي مؤمنان ! به درگاه خدا برگردید و توبه خالصانه‌اي بکنید، شاید پروردگارتان گناهانتان را محو نماید و بزداید، و شما را به باغهاي بهشتي داخل گرداند که از زیر آن رودبارها روان است. این کار در روزي خواهد بود که خداوند پیغمبر و کساني را خوار و سبک نمي‌دارد که با او ایمان آورده‌اند . نور ایشان، پیشاپیش و سوي راستشان در حرکت است. مي گویند: پروردگارا ! نور ما را کامل گردان و ما را ببخشاي، چرا که تو بر هر چیزي بس توانائي (تحریم ۸).

روزی که خداوند اهل ایمان و اهل توبه نصوح را به بهشت داخل می کند روزی که خود فرموده: پیامبر و کسانیکه در رکاب او و در راه و مسیر او هستند ضایع و خار و خفیف نمی کند (يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ (نورهای تراویح، نورهای جماعت، نورهای تلاوت قرآن (يَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ) پیشاپیش آنها در حرکت هستند و در سمت راستشان(يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.(می گویند خداوندا این نور را تمام کن بر ما. این دعای بهشت است در این دنیا هرگاه این دعا را می خوانیم

امیدواریم که ما به آنجا می رسیم _ (وَاغْفِرْ لَنَا) اگر خطاهایی کردیم و گناهانی مرتکب شدیم که به خاطر آن نور ما را کم کردندو ما را به سمت ظلمت بردند (وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّکَ عَلَی کُلِّ شَيْءٍ قَدِير) اهل احسان بشویم. احسان در قول: سعی کنیم بهترین کلمات و نیکوترین کلمات و زیباترین کلمات را پیدا کنیم و بر زبان جاری کنیم اگر چنین کلماتی را نداشتیم زبان خاموش بهتر است. پیامبر (ص) فرمودند: (مَن کَانَ یُؤمِنُ بِاللّهِ وَالیَوْمِ الآخِرِ فَلیَقُل خَیراً او لِیَصمَت) یا بهترین کلمات را بر زبان جاری کنیم یا ساکت باشیم. احسان در نگاه: باید بهترین نگاه ها را داشته باشیم در رابطه به کل آن چیزی که مکلفیم به آنها نگاه کنیم و از نگاه کردن های مسموم و از نگاه کردن هایی که ما را مریض و بیمار می کند بپرهیزیم. احسان در گوش کردن و شنیدن (وَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِینَ یَسْتَمِعُونَ القَوْلَ فَیَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ) آن کساني که به همه سخنان گوش فرا مي‌دهند و از نیکوترین و زیباترین آنها پیروي مي‌کنند. اگر این احسان ها (احسان در سخن، احسان در نگاه، احسان در شنیدن، احسان در عمل) با هم انجام بدهیم(إنَ اللّه تَعالی یُحِبّوا إذا عَمَلَ أحَدُکُم أن یُتقِنَه) کاری که انجام می دهیم تمام و کمال انجام دهیم. باید نمازمان، نماز محسنانه باشد. سجده ها، سجده های کامل،رکوع ها، رکوع های کامل، تلاوت قرآن، تلاوت درست، قیامها قیام کامل باشد، اعضا باید کارشان محسنانه باشد تا نهایتاً از ما یک شخصیت محسن ساخته بشود آنوقت)إنَّ رَحْمَتَ اللّهِ قَرِیبٌ مِّنَ المُحْسِنِینَ) انسان باید خسیس باشد در سخن گفتن اما در چیزهای دیگر باید تا می تواند کریم باشد سخاوت داشته باشد با همدیگر قهر نکنیم جمع صفا و صمیمیت بر قرار باشد منتها یک مقدار صحبت هایمان را محدودتر بکنیم تا اهل احسان بشویم چون خیلی از سخت و سفت شدن دلها علتش صحبت زیاد است اگر حجم صحبت ها را کم کنیم عبارات لذت بخش می شود، سجده ها معنی بیشتری پیدا می کند راهکار مهم در رابطه با احسان این است که احسان باید عملی باشد از همین لحظه باید تصمیم بگیریم اهل احسان بشویم اگر می خواهیم مشمول رحمت خداوند واقع شویم دومین راهکار (صبر (است ملاک رسیدن به همه ارزشها وکمالات است. ازجمله یکي ازراه کارهاي جلب رحمت خداوند است• خداوند متعال درایه (۱۵۷) ازسوره ي مبارک بقره درباب مصیبت واینکه بندگان رابه مصائب مختلف مبتلامیکندومورد آزمون قرارمیدهد مي فرماید: (الَّذِینَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِیبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَیْهِ رَاجِعُونَ) قبل ازاین مي فرماید: (وَبَشِّرِ الصَّابِرِینَ) صابرین چه کساني هستند؟ان هاي که وقتي دچارمصیبتي میشوندمیگویندماملک خداییم وبه سوي اومي رویم. هرچه اوبخواهدهمان میشود .درنتیجه این اهل صبر بودنشان دربرابرمصائب خداوندمي فرماید: (أُولَئِکَ عَلَیْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ) وصبرجلب رحمت مي کند. فردی پرسید :آیا صلوات فقط براي پیامبراست؟ گفتم بلي گفت پس ما نمي توانیم کاري بکنیم که مورد صلوات واقع بشویم که کسي براي ما هم صلوات بفرستد گفتم: مي توانیم .گفت چطور؟گفتم: راهش این است که

اگراهل مصیبت شدیم صبرکنیم. خداوندفرموده :خودم صلوات مي فرستم برکساني که اهل صبر بر مصیبت هستند و درهمین آیه خود فرموده است که ملائک صلوات مي فرستندبراهل ایمان به شرطي که اهل ایمان صلوات بفرستندبرپیامبر (ص). پیامبررحمت فرمود: (مَن صَلّی عَلَيّ مَرة واحِدة صَلّی الله عَلَيها بِهاعَشرًا) هرکس برمن یک صلوات بفرستدخداوندبراو (ده) صلوات مي فرستد وخداوندخود درسوره ي مبارکه احزاب مي فرماید: (هُوَالَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ(

وحالا راه جلب این صلوات وبه دنبال آن رحمت چیست؟

یکي ازراه هاصلوات فرستادن برپیامبر (ص) است یکي ازراه هاي جلب صلوات خداوندبراي خودمان وجلب رحمتش به دنبال صلوات این است که هروقت نام مبارک رسول الله (ص) برده میشودازصمیم قلب به یادزحمات و مشقات و مجاهده هاي پیامبرواصحابش بیفتیم وازصمیم قلب بگوییم (اللهم صل علي محمدوال محمد) اینجاست که خدا وملائک به فرموده ي رسول الله حداقل (ده) صلوات برما می فرستند. وقتي که ما محل نزول صلوات خداوملائک شدیم صلوات خدارحمت است وصلوات ملائک استغفار براي گناهانمان است. قران خودمي فرماید: ملائک استغفارمي کنندوخداوندرحمت (أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ) (عمربن عبدالعزیزرحمةالله خلیفه ي خامس راشدین یکي ازروزهابه مصلي میرودبراي اقامه نمازعیدوقتي که نمازش رااقامه مي کندباخداشروع مي کندبه رازونیاز و بخشش. بحث رحمت است مي گوید (اللّهُمَّ أرحَمنی) خیلي سریع وشفاف وزیباباخداصحبت مي کندوبه من وشما یادمي دهد باخدا این چنین صحبت کنیدخدایا من را موردرحمت خودقراربده چرا؟ دلیل مي آورد باخدا صحبت میکند (وَأَنَّكَ قُلتَ أن رَحمَةَاللهِ قَريبٌ مِنَ المُحسِنين) خودت گفتي رحمت خدا نزدیک است به اهل احسان. من که ادعانمي کنم که اهل احسان هستم چون خودت گفتي (وَان لَم. أكُن مِنَ المُحسِنين) اگرمن اهل احسان نبودم وامتیاز احسان رانیاوردم که مشمول ونزدیک بشوم به رحمت تو)وَأنَامِنَ الصائِمين). از روزه داران که بودم یک ماه را روزه گرفتم وحالا اگرروزه ام قابل قبول بوده یانبوده آن بحثي جدا است (وَقَد قُلتَ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً) خودت درقرآن درسوره ي احزاب در آیه ي (٣٥) فرمودي که زنان ومردان روزه دار یکي ازکساني هستندکه خداوند آنهارا مشمول مغفرت واجرعظیم رحمت خودقرارمي دهد. اگرکه روزه ام نمره نیاوردازصائمین وصائمات نیستم که روزه انسان روزه ي مقبول باشد (وان لم أكُن. مِنَ الصائِمين وَأنَا مِنَ المُومِنين) اهل ایمان که هستم (وَقَدكُنتَ وَكانَ يَاالمُومِنينَ رَحيما) درکتابت خودت گفتي که خداوندبه اهل ایمان رحمت می دهد اما اگر بازهم ازلحاظ ایماني ضعف داشته باشیم آن ایمان مطلوبي نیست که بتواندمن را مشمول رحمت واسعه تو بگرداند. (وَأن لَم أستَوجِب ذلِكَ (.اگرشایستگي این راندارم که مورد رحمت توواقع بشوم بخاطرمومن بودنم)وَأنَاشيءٍ)

من چیزي هستم (وَقَدكُنتَ وَرَحمَتي وَسِعَت كُلَّ شَئ) وتوخودت فرمودي كه رحمت من همه چیزرادربرمي گیرد. من آن چیزهستم چیزناچیزآن رحمت واسعه ي توبايد شامل اين چیزهابشود يكي ازاين چیزهامن هستم (وَأن لَّم أكُن كَذلِكَ) اگرارزش آن راهم پیدانكردم كه يكي ازآن چیزها باشم كه مشمول رحمت واقعي توقراربگیرم من دچارمصیبت شده ام. من مصیبت زده هستم چراكه محروم شده ام ازرحمت تو (وَأنتَ قُلتَ). وخود تودركتابت فرمودي)الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ. أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ) اهل مصیبت به شرطي كه صبرداشته باشند برمصیبتشان من آنهارامشمول رحمت خودم قرارميدهم اين چنين درمحضرخداوندسخن مي گويد كه خداوندمجاب ميشوددريكي ازاين جايگاها عمربن عبدالعزیزراقرارميدهد اگردرمقام محسنین قراربده مشمول رحمت است اگردرمقام صائمین است مشمول رحمت است اگر درمقام مومنین است مشمول رحمت است واگردرمقام شي است بازهم مشمول رحمت است واگردرمقام هیچ كدام ازاين ها نیست درمقام فردمصیبت زده اي است كه بازهم وعده ي خدادرمورداوصادق است.

كه فرمود: اهل مصیبت به شرطي كه صبور بر مصیبت باشند مشمول رحمت خداوندهستند. ازخداوند منان مي طلبم كه توفیق اهل صبرشدن واهل احسان رابه همه ما عطا بفرمايدومارا توفیق بدهدكه انشاالله درقول، درفكر، در نیت ودرعمل كه اوخوشنودباشد وما رستگار.

نومید مشو بنده، از رحمت ما هرگز
زیرا كه به غیر از ما، كس نیست تورا هرگز
خواهم كه از این عالم، تو پاك شوی از جرم
ورنه به تو نفرستم ای بنده بلا هرگز
چون سوخته ای امروز از درد فراق ما
در سوختنت فردا ندهیم رضا هرگز
من با توام ای عاشق، تو نیز با ما باش
هرگز نشاید دوست، از دوست جدا هرگز
هرچند كه رو از ما برتافتی و رفتی
رو از تو نمیتابد، خود، رحمت ما هرگز
از درد فراق ما یك شب چون به روز آری
دیدار نترسانم در روز لقا هرگز
گر بر دل خود ما را روزی گذرانی تو
در دوزخ پر آتش ناریم تورا هرگز
ای بنده گناه تو، خود دیدی و تو دانی
بر روت نیارم هم در روز جزا هرگز
ای جمع تهی دستان، حقا كه نخواهم بست
من این در رحمت را بر روی شما هرگز
از بیم جدا بودن از دولت جاویدان
محیّی نبود یك دم بی یاد خدا هرگز

غزلیات منسوب به امام عبدالقادر جیلانی رحمه الله بود در مناجاتی كه از زبان خدا با بندگان سخن میگفت . بحثمان پیرامون راههای جلب رحمت خداوند بود. به دو مقوله تحت عنوان احسان و محسنین، صبر و صابرین، اشاره كردیم كه از جمله كسانی هستند كه مشمول رحمت های واسعه خداوند قرار می گیرند. حالا هم به

یکی دو مورد دیگر از آن مواردی که اگر بتوانیم آنها را اجرایی کنیم، زمینه ساز مناسبی برای جلب رحمت خداوند است، اشاره خواهیم داشت و با این بحثهای مختصر، طبیعتا مبحث واسعه رحمت بسته نخواهد شد اما به اندازه توان و تشنگی نکاتی را عرض کردیم، این روش ها برای جلب رحمت همه این مقدمات ایمان است، ایمانی که عبارت است از شناخت و تسلیم، ایمانی که عبارت است از طلب و تسلیم. چون شناخت مجرد، انسان رابه جایی نمیرساند. اگر به دنبال خود طلب و تسلیم نیاورد، اگر شناخت در انسان اشتیاق و شور ایجاد نکند، اگر شناخت در انسان نشاط نیافریند، اگر شناخت، انسان را به رکود و جمود بکشاند ارزش ندارد. اما شناخت و معرفتی که در انسان ایجاد تحول و نشاط می کند و به تعبیر اهل دل و اهل صلاح می کند شناختی که ذوقی است، نه فقط نظری، شناختی که چشیدنی است نه فقط شنیدنی، این شناخت است که می تواند به دنبال خود ثمرات مبارکی به مانند طلب و تسلیم داشته باشدخداوند است که از همه چیز به آن محتاج تر هستیم. در خدمت آیاتی دیگر از آیات قرآن هستیم که هر کدام به شکلی ما را با راههایی از راههای جلب رحمت آشنا میکنند. آیه ۲۱۸ از سوره مبارکه بقره: آنجا که میفرماید: (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ .(در توصیف کسانی که میتوانند امیدوار به رحمت خداوند باشند، به خاطر بسترسازی ها و مقدماتی که فراهم آورده اند، در راس همه این مقدمات ایمان است، ایمانی که عبارت است از شناخت و تسلیم، ایمانی که عبارت است از طلب و تسلیم. چون شناخت مجرد، انسان رابه جایی نمیرساند. اگر به دنبال خود طلب و تسلیم نیاورد، اگر شناخت در انسان اشتیاق و شور ایجاد نکند، اگر شناخت در انسان نشاط نیافریند، اگر شناخت، انسان را به رکود و جمود بکشاند ارزش ندارد. اما شناخت و معرفتی که در انسان ایجاد تحول و نشاط می کند و به تعبیر اهل دل و اهل صلاح می کند شناختی که ذوقی است، نه فقط نظری، شناختی که چشیدنی است نه فقط شنیدنی، این شناخت است که می تواند به دنبال خود ثمرات مبارکی به مانند طلب و تسلیم داشته باشد. طلب و تسلیمی که خداوند، پیامبرش "ص" را مورد محاکمه و سرزنش قرار می دهد هنگامی که به کسی که طالب است و تسلیم، پشت میکند و توجه نمیکند و به او خطاب میکند.(وَأَمَّا مَن جَاءَكَ يَسْعَى . وَهُوَ يَخْشَى . فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّى) و کسی که با طلب و تسلیم به سوی تو می آید یسعی، طالب است شور دارد، شعور دارد و یخشی، تسلیم است (فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّى) به او توجه نمیکنی!؟

اعمی روشن دل آمد در مبند

پند او را ده که حق اوست پند.....

د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون

(جولای میاشت)

دروان (۲۰۱۴م) کال دجولای په میاشت کي هم دتېرو میاشتو په شان د اسلامي امارت د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون په هڅو او دځایي مجاهدینو په ملاتړ د افغانستان په مختلفو ولایاتو کي ۲۱۴ تنه چي د کابل اداري اړوند بیلا بیلو ارګانونو کي په کار بوخت وو د حقایقو په درک کولو د دغه فاسد او ګوډاګي رژیم څخه راووتل او د اسلامي امارت د مجاهدینو سره یوځای شول.

ګرانو لوستونکو همدا هم د تسلیم شوو کسانو تفصیلي میاشتني ارقام :

پکتیکا: ۱۵ تنه عسکر
کندوز: ۷ تنه عسکر
ننګرهار: ۱۰۳ تنه عسکر
پکتیا: ۲ تنه عسکر
بغلان: ۵ تنه عسکر
پروان: ۲ تن عسکر
جوزجان: ۸ تنه عسکر
نورستان: ۷ تنه عسکر
کندهار: ۱۲ تنه عسکر
هلمند: ۱ تنه عسکر
سرپل: ۲۰ تنه عسکر
فاریاب: ۱۳ تنه عسکر
ارزګان: ۷ تنه عسکر
زابل: ۱ تنه عسکر
هرات: ۲ تنه عسکر
غور: ۴ تنه عسکر

او د غزني ولایت په مختلفو سیمو کي ۸ تنه با احساسه عسکر او منسوبین د اسلامي امارت د اتلو مجاهدینو سره یوځای شول با د رکه هیوادوالو مختلفه النوع لویي او وړې وسلې، مخابرې، وسایط او یوزیات شمېر مهمات مجاهدینو ته وسپارل.

د کابل د منفور رژیم څخه راجلا شوو او د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شوو هیوادوالو وعده وکړه چي نور به د خپل د دین او وطن د خارجي او داخلي مزدورانو سره هیڅ راز تعلق نه ساتي، د خپل مظلوم ولس او مجاهدینو ورونو سره به همکاري کوي، تر څولوی خدای جل جلاله

ژرتـــرژره زموږلـــه ویـــاړلې خـــاوري څخـــه دکفر،فســـــــــق ،،اشـــــــــغال ،فحشـــاءاوګمراهیوکرغیړن ټغرټـــول کـــړي اودمسلمانانودخوښـــي یوســـوچه اســـلامي واکمني رامنځته کړي چي دټول افغانان پرې راټول شي.

داسلامي امـارت ددعـوت ،ارشـاد ،جلب اوجـذب کمیسـیون مشـرتابه دوی تـه هرکلـی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همـــدانیک اقـــدام یـــې ډیروســـتایه چـــي دیرغلګرواولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتـل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینوسره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

دافغانســـتان اســـلامي امـــارت دګـــران هیوادڅخـــــــــــــه دوحشـــــــــــي یرغلګرودشړلواوداســـلامي اوملـــي نظـــام درامنځتـــه کولوپـــه موخـــه دران ســـپېڅلی مقاومـت پـه لړکـي دنظامي فعالیـت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي اودعوتي هڅي هم ګړنـدی کـړي دي داسـلامي امـارت غښـتلي مجاهـدین دپراخوپـوځي لاسـته راوړنوڅخـه عـــــلاوه هـــــره میاشـــــت دهیوادپـــــه بیلابیلوولایتونواوولســـوالیوکي ددعـــوت اوارشادکمیسـیون پـه هڅولکـه پورتـه چـي ذکرشـول دکابـل اداري څخـه پـه سـلهاووتنه کارمندان راوزي اوداسلامي امارت غیږي تـه پناراوړي.

جنګ کې سهیم او سلاکار شیخ فاني به وژل کیږي

پـه(شـرح معـانی الاثـار) کـې (امـام طحـاوي رح) فرمایي : چې غوره داده چې ددې ډول احادیثو منځ کې (دسپین ږیرودقتل په باب)چې ځینو کې منع او ځینو کې جواز راغلی ، تصحیح او تطبیق وشي، ځکه ټول داسې روایات دي ،چې یو بل نشي دفع کولای، او هغـه داسې چې لـه رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چې کومو روایاتو کې دارالحرب کې د سپین ږیرو لـه وژلو منع ثابتـه ده ، دا نهي یا منـع د هغـو سـپین ږیـرو پـه مـورد کـې راغلـې چـې دجګړې پـه چـارو کـې یـو ډول همکـارې هـم لـه محاربینو سره نکوي، یعنې نه ورسره پـه جګړه کې برخه اخلي او نه ورته رأیه او مشوره ورکوي،نو چې کله کوم داسې سپین ږیری چې ،نه دمشورې خاوند وي او نـه لـه کفـارو سـره مرسـته کـولای شـي، مجاهدینو ته په لاس ورشي، وژنه یې جواز نلري او د (دریـد) حـدیث دهغـو سـپین ږیـرو دوژلـو لپـاره حجت کیـدلای شـي، چې لـه محـاربو کفـارو سـره معونـت او کمـک کـوي ،نـو دې صـورت کـې بیـا دداسې (شیخ کبیر) وژنـه روا ده ، کـه څـه هـم دوئ عملاًپه جګړه کې ورسره برخه نه اخلي ،او دا ځکه چې ددوئ دا ډول مرسته له محاربینو سره ،له ډیرو جګړو څخه اغیزمنه او سخته ده !

ذبیح الله مجاهد،

څو شیبې له خپل ولس سره

مجاهد صاحب له هرڅه وړاندې مې سلامونه ومنئ ، خدای تعالی د وکړي چې روغ به یاست او له ټولو مجاهدینو سره کامیاب واوسئ.

زما پوښتنه داده ، چې اګرکه د مجاهدینو په ضد تبلیغات خو د کابل د حکومت او امریکایانو پخوانی عادت دی ، خو سږکال یې د پخوا په نسبت ډیر زور ورکړی ، کله چې د مجاهدینو لخوا لوی عملیات شوي ، لکه د هلمند ، ننګرهار ، غزني ، بدخشان ، کندز ، فاریاب او نورو سیموکې.

په دغو جګړو کې د حکومت لخوا مجاهدینو ته د ځاني تلفاتو شمیر خورا ډیر ښودل کیږي او داسې وانمود کیږي چې ګوندې عملیات ناکام شوي ، او مجاهدین د تلفاتو په لیدلو بیرته شاته شوي. تاسو د دښمن دغه راز تبلیغاتی جګړې ته په کومه سترګه ګورئ ؟ عبدالبصیر

ځواب: تاسو پوهیږئ چې د کابل اداره ټول کارونه ، دجګړې چل ول او تعلیم له امریکایانو څخه زده کوي ، امریکایان بیا دومره دافغانستان له حالاتو سره نابلده وه ، چې فکر یې کاوه ، د امریکا او افغانستان ترمنځ د خلکو په اذهانو کې توپیر نشته او څه چې دوئ د خلکو د تیر ایستلو لپاره په امریکا کې کوي هغه راز تبلیغات او پروپاګند به دافغانستان دخلکو په ذهن بدلولوکې هم ګټور تمام شي.

ستاسو به یاد وي ، چې امریکایانو د خپل اشغال په پیل کې لومړی د هوا او الوتکې دلارې یوه اف ام راډیو چې په پښتو او دري ژبه

یې نشرات کول ، په کار وګمارله او دمجاهدینو د شهادت غلط راپورونه ، د شهیدانو د تعداد ډیر زیات ښودل او د خپلو تلفاتو د پټولو لپاره یې ورځخه کار اخیست .

وروسته چې کله دوئ کابل ته راورسیدل او د ولایاتو مرکزونه یې اشغال کړل ، نو یې د الوتکې ځخه پیل شوي راډیوګانې او نشراتي وسائیل ځمکې ته را کوز کړل او په پریمانه پیسو سره یې د مجاهدینو په ضد د پروپاګند یوه پراخه لړۍ ، چې زه وایم د دوئ له نظامي عملیاتو ځخه به ډیره توجه ورته کیدله پیل کړه.

خو افغانان امریکایان نه دي ، دلته خلک حالات د سر په سترګو ګوري ، دلته د مجاهدینو خصوصیات ټولو خلکوته معلوم دي ، د امریکایانو ټولې په کار ګمارل شوي راديويي نشرات او نور پروپاګند اوس په عامو افغانانو کې د دروغ ویلو ضرب المثل ګرځیدلي.

ځرنګه چې د کابل اداره هو به هو د امریکایانو ځخه کاپي شوي ، دهغو په لاس روزنه ورکړل شوې او دهغو لخوا دنده ورته مشخصه کیږي ، نو دوی هم بې له دې چې دې ټکې ته پام وکړي ، چې دروغ په افغاني ټولنه کې ځومره مردود دي ، په دروغو سره پروپاګند ځومره ژر رسوا کیږي او پخپله پروپاګند کونکی مختورنوي ، نو یې دمجاهدینو په ضد هماغه ډول سوء تبلیغات پیل کړل ، مخصوصا د جګړینو عملیاتو په وخت د تلفاتو په ډیر ښودلوکې !

زمایاد دي ، چې کله دوئ په اوائیلو کې دمجاهدینو د ټولیز تعداد په اړه اټکل کاوه ، نو به یې د مجاهدینو تعداد د ۵ي زره تر ۱۰ي زره په شاوخواکې ښوده ، خو که تاسو د تلفاتو هغه ارقام چې دوئ یې په غلطه سره هره ورځ خپروي ، سره راجمع کړئ ، له یو لک ځخه اوړې ، نو که پوښتنه وکړو ، چې که د مجاهدینو ټول تعداد ۱۰ي زره وي ، نو دا راپورونه مو بیا ولې له یولک ځخه واوښتل ؟ او که نه د مجاهدینو تعداد له لک ځخه پورته وه ، بیامو ۱۰ي زره ولې بلل ؟ نو بې له دې چې دیو قول په غلطوالی او دروغ ویلو اعتراف وکړي بله لار نه لري.

خصوصا په دا وروستیو کې چون د مجاهدینو لخوا په دښمن د هېواد په لر او برکې عملیات خورا پراخ شوي ، غټ غټ بریدونه پرې ترسره شول ، نو دښمن چې د جګړې په عملي میدان کې په خورا آسانۍ سره ماتې خوري ، نو هڅه کوي چې خپله ناکامي په دغه راز غلطو راپورونو سره وپوښي ، خپلو مشرانو او بهرنیو تمویلونکو ته قناعت ورکړي ، چې ګوندي دوئ هم

ډیرڅه کوي او داده هره ورځ خدای مکړه په لسګونه مجاهدین شهیدانوي.

واقعیت کې دغه راز راپورونه ټول غلط دي ، ټول سوچه دروغ وي او ټول له هغو حقایقو سره خورا په تضاد کې وي ، چې د جګړې میدان یې شاهد دی . مننه

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

محمد اشرف له غزني څخه له تاسو سره تماس نیسم ، خدای د ې وکړي چې تاسو ټول روغ رمټ وئ.

زما پوښتنه داده چې انتخابات خو خلاص شول ، نتیجه یې هم بیرته د امریکایانو لاسته ورغله او اوس امریکایان د راتلونکی حکومت لپاره کس ټاکي ، دا انتخابات بریالی ول او که ناکام که لږ رڼا پرې واچوئ ؟

ځواب : موږ خو د انتخاباتو په اړه پخوا هم وړاندوینه کړې وه ، چې دا انتخابات جعلي پروسه ده ، هرڅه د امریکایانو په لاس کې دي ، هغوی چې څه او څوک غواړي هغه به کیږي ، دا نورې منډې تړې که د امریکایانو د خوښې اومیل مطابق وي خو ښه ده ، ځای به ونیسي او که دهغو له غوښتنو سره سمون ونه خوري بیا هسې عبث کار ده او هیڅ ځای نه نیسي.

د سږنیو انتخاباتو په اوائیلو کې امریکایانو په تزویري ډول هڅه کوله چې لږ څه په ظاهر کې ځان له انتخاباتي پروسې څخه لرې وساتي ؛ خو کله چې دلته حالات د دوئ له میل څخه په بله لاړل ، نو خورا ژر یې بیرته مداخله وکړه او د کابل غلامانوته یې دهغه څه امر وکړ چې دوئ یې غواړي ، تاسو ولیدل چې دواړه کاندیدان څومره په ذلت سره د امریکاي خارجه وزیر په مخکې په زور سره پخلا شول او په ځینو ټکو یې کرهاً موافقه وکړه ، تاسو ولیدل چې د انتخاباتو دکمیسیون په اصطلاح ادعا شوی مستقلوالی څومره اسانه تر پښو لاندې شو او په خپله امریکایان لاس په کار شول ، تاسو ولیدل چې (جان کیری) په خپل راتګ سره څومره په آسانۍ سره وکړل شوای ، چې د کاندیدانو نه ماتیدونکي موقفونه مات کړي او دواړو ته ګوشتاوی ورکړي چې هر څه لاهم د دوئ په لاس کې دي او هیڅوک د سرغړاوي حق نه لري.

طبعا دا د هر هغه جریان خصوصیت وي ، چې له بهر څخه د بهرنیو لپاره په لاره اچول شوي وي او یا یې اشغالګر هېوادونه په مستعمره هېوادونو کې غواړي.

شهیدي قافلې

اتل شهید سید انور (معتصم)

اتل قهرمان شهید سید انور معتصم دمحمد سرور زوی دمیدان وردګ ولایت دسید اباد ولسوالی دهفت اسیاب دزرک خپلو په یوه دینداره جهادی کورنۍ کې په ۱۲/۱۳۶۵ هـ ش دحوت په میاشت کې سترګې پرانیستې، ابتدائی زده کړې یې دخپل کلی د مسجد د ملا امام څخه وکړې، عصری زده کړې یې د اوتړیو په متوسطه او دتکیې په لیسه کې تر نهمه صنفه پورې وکړې نوموړی ډیر ذکی وو هر وخت به په خپل صنف کې اول نومره و، داچې زمونږ په ګران هیواد باندې د صلیبی ستم او امریکایي اشغال ابتدائی حالات وو، معتصم به دخپل پلار او ورونو سره دکور په کارونو مشغول وو او ورسره به ئې دخپل کلی او نورو مجاهدینو په پوره اخلاص سره هر ډول مالی او اخلاقی مرسته کوله او له مجاهدینو څخه به یې هر وخت دماین دایښودلو او کمین ته دتللو غوښتنه کوله خو مشرانو به د ده افشا کول نه غوښتل ځکه چې دی یو موټروان وو، معتصم ته الله تعالی ډېره ښایسته جذبه او له شوکته ډکه قیافه ورکړې وه ډېر متواضع او خاکسار وو هر چا به په لومړي مجلس دده تواضع درک کوله او ویل به یې چې ګویا معتصم زما سره ډېره سابقه اندیوالي لري، معتصم په هر مجلس کې ډېر په حوصله او سالمه توګه خبره کوله هر سوک به چې دعمر په لحاظ مشر وو ډېر ادب او احترام به یې ورسره کولو، معتصم مؤدب او محترم وو په لوړ سیرت برسیره الله ښکلی صورت وربخښلی وو له بیوزلو سره مرسته او سخاوت دده همیشنی عادت وو له فرضی عبادت او پنځه وخته جماعت سربیره دنوافلو تابعدار وو خوش طبعی یې هم نه هیریدونکی صفت وو، د مجاهدینو او عامو خلکو په مینځ کې په صوفی سره مشهور وو، لنډه داچې بې کچې مینې، لوړ اخلاص، غیرت او وجدان نوره دچوپتیا موقع ورنکړه، بېله ځنډه یې د اسلامي امارت په لیکو کې د سیداباد ولسوالی دیوه وتلی قومندان مولوي صاحب عبدالله حقانی تر مشری لاندې په

سپیڅلی علني او عملی جهاد لاس پورې کړ، یاده دې وي چې معتصم به جهای مصارف اکثره له خپل کور څخه کول ،د امکان ترحده به یې دبیت المال له مصرف څخه ډډه کوله داچې معتصم کوم دلګی مشر او سرګروپ نه وو مګر دده لوړ استعداد او اخلاص په وجه به دملګرو ټولې نظامی چارې ده تنظیمولې، معتصم ته الله ډېر لوړ استعداد ورکړی وو داچې ده په ډېر لنډ وخت کې په ماین راکټ سقیل او نورو کوچنیو اسلحو کې ښساری مهارت پیدا کړ خصوصاً په راکټ او ماین کې، کوم ماین او کمین به چې دده په لاس ترتیب او تنظیم شو هغه به الله (ج) په ښه سمره سره پای ته رسولو له خارجی او داخلي دښمنانو څخه دده په لاس قسما قسم غنیمت شوې اسلحې دده دهمیشنی مبارزې او ښساري اخلاص ښکاره ښلګې دي دده ټول مجالس به دخپلو ملګرو په جهادی امورو دماین او کمینونو په ترتیب او تنظیم سره پای ته رسېدل ،داسلامي امارت لایحه به یې همیشه تعقیبوله ، په خپل مسلک کې ډېر پرمختللی باتور تکتیکی او غښتلی زلمی وو دده دملګرو په وینا هغه کامیاب انفجارات او کمینونه چې دده په لاس ترتیب او ده عملي شرکت پکې کړی وو له لسهاوو اوښتي دي ، د نبوی سیرت نه په استفادې سره دسیمی دټولو خلکو په زړونو کې یې په ښساري ډول ځای موندلی وو ، د هر چا به چې دده سره شناخت وو او کنه خو خلکو به دده دشخصیت په اوریدلو سره دده په اعمالو غبطه کوله دده په ټول جهادي دوران کې په سیمه کې دده مخالف او منکر پیدا نشو هر دوست او دښمن به دده حسنات بیانول داپه شهید معتصم دالله (ج) دلوی فضل او کرم ښکاره علامې وې ، هغه متل دی چې نیکان یې په نیکی نه مړیږي اوبدان یې په بدی ، بالاخره دښه باتقوی ژوند او ډېرو کمینونو او مینونو او ډېرو جهادی خدمتونو څخه یوهم د۲/۲/۱۳۹۲ نیټې د سید اباد پراخ کمین وو چې دښمن ته پکې درانه ځانی او مالي تلفات واوښتل پس له ډېر سخت مقاومت نه دیاد کمین نه د وتلو په حال دی او دده همنشین ملګري احسان الله اتل ماشام په اووه بجې او لس دقیقی ددښمن په هوایي بې رحمانه بمبار کې په شهادت ورسېدل (انا لله وانا الیه راجعون)

شهید حافظ حبیب الله (عزام)

اتل قهرمان حبیب الله عزام دډګروال بسم الله خان زوی دمیدان وردګ ولایت دسید اباد دهفت اسیاب دخړیانو دکلي دیوې دینداري علمي جهادي کورنۍ اوسېدونکی وو هغه مهال چې افغانستان دروسي ښکیلاک تر یرغل لاندې وو په وړاندې یې دافغان ولس ویاړمنه مبارزه روانه وه ورسره هم مهال دافغاني مجاهدینو دهجرت لړی دپاکستان په لور وه ډګروال صاحب بسم الله خان هم په دغه مهاجرو مجاهدینو کې یو مهاجر چې په پیښور کې یې دهجرت ژوند تیرولو په ۱۳۶۰ شمسی کال دده په کور کې یوهلک وزیږېدلو چې نوم یې ورباندې حبیب الله کیښود حبیب الله دخپل پلار په غیږ کې رالوی شو ، د ژوند لومړني اداب اخلاق او عقاید ورته خپل

پلار وښودل ددیني او عصری علم تر څنګ یې دقرآن کریم حفظ هم کاوه دحبیب الله عمر ۱۷ کاله وو چې دقرآن کریم حفظ یې پای ته ورسولو دکلام الله المجید دیادولو په ویاړ یې دفضیلت پګړی تر سر کړه خو داچې زمونږ په ګران اسلامي هیواد افغانستان د ښکیلاک یرغل وو دډېرو نورو غوندې حافظ حبیب الله هم علمی سفر ټکنۍ کړ جهادی ضرورت نوموړی له دیني زده کړو راوګرځولو او دجهاد دعاجل ضرورت له امله یې دیني زده کړې نیمګړې پاتې شوې حافظ عزام نوی دځوانۍ مرحلې ته رسېدلی وو الله لوړ استعداد او جهادي روحیه ورکړې وه نو ځکه یې دژوند نور مصروفیتونه پریښودل او دجهاد په سرشاره مینه یې دحق او حقانیت سنګر ته ور ودانګل حافظ عزام په لومړیو کې دیو عادی مجاهد په صفت دمولوي صاحب عبدالله حقاني په جنګۍ محاذ کې ددښمن په خلاف جهادي فعالیت ته دوام ورکړ خو دده لوړ استعداد اخلاص اوسر شندنې به مشرانو همیشه تعقیبولې او دا ورته معلومه شوه چې حافظ عزام صاحب ویښ بادرکه او دجهادي بریاوو په اهمیت پوه شخصیت دی عزام صاحب ډېر متقی ، مطیع ، صابر او دهر چا خبره به یې په ډېره حوصله او سړه سینه اورېدله، خاکساري ، تواضع ، ایثار او خوشطبعی دده امتیازی صفات وو ورسره له ډېرو حسنه صفاتو الله (ج) په ښکلي ځواني هم نازولی وو داچې الله (ج) ده ته ډېر څه ورکړي وو نوموړي به خپله سیمه کې دسرګروپ په دنده وګمارل شو عزام صاحب ډېر با استعداده وو نو ځکه دده هره پرېکړه طرحه تصمیم او ترتیب مشرانو اوکشرانو ته قابل دقبول وو دخپل مسئولیت په دوران ده ددښمن په وړاندې سخته مبارزه کوله په چریکی بریدونو ماینونو او کمینونو یې دښمن ته ډېر ځاني او مالی تلفات ور واړول نوموړي دماینونو او چریکی جنګونو طراح ماهر او دجنګ په لومړیو کرښوکې جنګېدونکی مبارز وو خپلو ملګرو مجاهدینو ته استقامت په شریعت دمشرانو اطاعت دعاموخلکو سره ښه سلوک او ددوی نه جهادی صف ته دوامداره استخدام دمشکلاتو په حل کې ورسره مرسته دده همیشنی توصیه وه داختلافاتو او غیبت نه یې ډېره کرکه لرله دده ټول مجالس به دملګرو سره دماین او کمینونو په ترتیب سره ختمیدل څرنګه چې دده فزیکی وجود رب العالمین دپسرلی دباکیفیته ګلاب په څیر پیداکړ مګر خزان هم ډېر ورته نژدې وو کورنی او ملګري ددې غوړیدلی ګلاب په مینه لا سیراب نه وو خوتقدیری فیصله بل قسم وه عزام صاحب کورنی او ملګرو ته خپلې غیرتي کارنامې پریښودلې او په ۲/۹/۱۳۹۲هـ ش تاریخ دچهارشنبې په ورځ په ۳ بجې ۴۵ دقیقی دجنګجای په سیمه کې له یوه ملګری سره ددښمن په هوایي برید کې په شهادت ورسید (انا لله وانا الیه راجعون)

جنګي جنایتونه (جولای ۲۰۱۴)

سید سعید

دروان (۲۰۱۴،ز) کال دجولای په ۲ مه نیټه د پکتیکا ولایت مرکز ښرني ته نژدې اربکیانو درې تنه ډاکټران په وهلو او شکنجو کي شهیدان کړي دي.

دجولای په ۵ مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د سیدانو کلي کي د کندهار-هرات پرسرک دداخلي عسکرو په ډزو کي دوو ماشومانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دجولای په ۵ مه د ننګرهار ولایت دنازیانو د سپینه ژي په بازار دداخلي عسکرود هاوان په ډزو کي درې تنو ولسي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دجولای په ۷ مه د کندز ولایت دعلي آباد ولسوالۍ په لاله میدان سیمه کي اربکیانو پر یو کور په راکټي برید کي پنځه تنه ماشومان شهیدان کړي او درې زنانه ژوبل کړي دي.

دجولای په ۸ مه اشغالګرو د کندز ولایت د خان اباد ولسوالۍ په ایشان ټوپ سیمه کي دشپنیو عملیاتو پر مهال څلور تنه ولسي هیوادوال چي پر پټیو یې او به لګولې شهیدان کړي دي.

دجولای په ۸ مه داروزګان ولایت د چورې ولسوالۍ په کونج سیمه کي پولیسو دکلیوالو سره ترلفظي شخړي وروسته یو ملکي سړی شهید کړی دی.

د جولای په ۸ مه د میدان وردګ ولایت په جلګه ولسوالۍ کي ځایي عسکرود مکتب مدیر (محمد ایوب دا حمد خېل کلي او سیدونکی)شهید کړی دی.

دجولای په ۹ مه د لوګر ولایت مرکز (پل علم)ته څېرمه په کجي کلي کي اربکیانو دوه کوچنیان شهیدا ن کړي دي.

دجولای په ۱۰ مه یرغلګرو ځواکونود کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ له حاجي نعیم کلي څخه څلور تنه ولسي وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د جولای په ۱۱ مه دننگرهار ولایت د پچیراگام ولسوالۍ په بازار کي اربکیانو یو دوکاندار شهید کړی دی.

دجولای په ۱۳ مه د هلمند ولایت د سنگین ولسوالۍ دخاروان کلاپه شهزادي اوبارگزو سیموکي دخارجي اوداخلي ځواکونو په گډو عملیاتوکي اته تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي اوځلور تنه ټپیان شوي دي.

دجولای په ۱۳ مه دفاریاب ولایت ددولت اباد ولسوالۍ د شور دریا سیمي قومي مشر(حاجي گل) د ولسوالۍ بازارته څېرمه عسکرو له رکشې راکښته کړی اوشهید کړی دی.

دجولای په ۱۴ مه دکندهارولایت دمیوند ولسوالۍ په سره بغل سیمه کي د یرغلگرو په بمبار کي دوې ښځي شهیداني اودرې ژوبلي شوي دي.

دجولای په ۱۴ مه یرغلگرود غزني ولایت د شلگر ولسوالۍ په حیات کلي دچاپې پرمهال دوه تنه ولسي وگړي بندیان کړي دي.

دجولای په ۱۵ مه دکندوز ولایت دخان اباد ولسوالۍ خلگوشکایت وکړ چي اربکیانودیوې کورنۍ دوه غړي شهیدان کړي اوځو نور یې بندیان کړي دي، په ولسي جرگه کي دکندوز دخلگو استازو هم منلې چي داربکیانوله خوادغه ډول پیښي په خان اباد، دښت ارچي اوامام صاحب ولسوالیو کي ډیري شوي دي.

دجولای په ۱۲ مه دداخلي عسکرودهاوان په ډزو کي د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ په کوکچه سیمه کي یوه ښځه شهید شوې اوځلور کوچنیان ژوبل شوي دي.

دجولای په ۱۷ مه نیواکگروځواکونودشپنیوعملیاتو په لړ کي د غزني ولایت د واغظ ولسوالۍ په هفت اسیا سیمه کي چاپه وهلې، دخلگو دکورونو دروازې یې په بمونو الوزولي ، مالي زیانونه یې ورته اړولي اودتلاشۍ څخه وروسته یې درې تنه ولسي وگړي بندیان کړي دي.

دجولای په ۱۸ مه دپروان ولایت د کوه صافي ولسوالۍ په پیتاو کلي کي دیرغلگرو په بمبار کي یو ملکي وگړی (شین گل) شهید شوی دی.

دجولای په ۱۹ مه دتخار ولایت درستاق ولسوالۍ داستخباراتوامر اومنیه قوماندان ددغه ولایت په ینگي ولسوالۍ کي دولسي خلگوشپیته پسونه غلاکړي اورستاق ته بیولي دي، درستاق ولسوال عبدالمناف فیضي منلې چي داستخباراتوامر اوامنیه قوماندان یې پسونه غلاکړي ، خوپه وینا یې چي ډیر مالونه یې خپلو مالکانوته بیرته سپارلي یوزاي څو لاداستخباراتوله امر سره پاته دي.

دجولای په ۲۰ مه د هلمند ولایت د سنگین ولسوالۍ په کنگ مانده سیمه کي دطالبانو سره تر جگړې وروسته دبهرنیواوکورنیوځواکونو په بمبار کي اته تنه ولسي وگړي دښځواوماشومانو په شمول شهیدان شوي دي .

دجولای په ۲۱ مه د غزني ولایت د شلگر ولسوالۍ په چهارخانه کلي کي

یرغلګرو عسکرو د تلاشۍ پر مهال یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

دجولای په ۲۳ مه دهلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د پیچ له قرارګاه څخه داخلي عسکرو دهاوان مرمۍ توغولي ، یوه مرمۍ په سیمه کي پر یو کورلګیدلې له امله یې یو ماشوم شهید شوی او څلور تنه ژوبل شوي دي.

دجولای په ۲۴ مه د بدخشان ولایت د راغستان ولسوالۍ د امنیت مدیر او د اربکیانو قومندان (مدیر حیات) پنځه تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي اولس تنه یې ټپیان کړي دي، خلګو مدیر حیات ته داربکیانو د ناوړه چلند شکایت وکړ، نوموړي په دې پلمه چي تاسي اربکیانو ته د سیسه جوړه کړې ده ، پرخلګو ډزي کړي چي په پایله کي یې ولسي هیوادوالو ته ذکر شوي تلفات اوښتي دي.

دجولای په ۲۴ مه د غزني ولایت د واغظ ولسوالۍ په خزر ګوډلو کلي باندي یرغلګرو چاپه وهلې ، دکورونو تر تلاشي کولو وروسته یې دوه تنه ملکي وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دجولای په ۲۵ مه دزابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ په باره خیلو کلي کي داخلي عسکرو یو ملکی وګړی (جانان اکا)په مسجد کي شهید کړی دی.

دجولای په ۲۲ مه دکاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په شینکي سیمه کي اربکیانو یو ملکي وګړی (جنت ګل)چي تریوې ونې لاندي بیده و، شهید کړی او شپیته زره افغانۍ یې ځني وړي دي .

دجولای په ۲۷ مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د سیدانو په کلي کي دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي دوه کوچنیان شهیدان شوي او یو زخمي شوی دی.

دجولای په ۲۸ مه د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د تریخ ناور دامیر بلند په کلي کي ځایې عسکرو یو څلور کلن ماشوم چي په لوبو بوخت و، شهید کړی دی.

د جولای په ۳۰ مه دننګرهار ولایت د لعلپور ولسوالۍ په چوک سیمه کي کورنیو عسکرو د سپرلۍ پر یو موټر ډزي کړي چي له امله یې یو ملکي وګړی شهید شوی او درې تنه ژوبل شوي دي.

دجولای په ۳۰ مه دکندهار ولایت دژړۍ ولسوالۍ په حوض مدد سیمه کي ځایې عسکرو دخپلي پوستې مخ ته شپږ تنه ملکي هیوادوال چي داختر مبارکۍ په موخه له خپلوانو کره تللي وو ، شهیدان کړي دي.

دجولای په ۳۰ مه دزابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ بازار ته څېرمه دخان کلي کي دکورنیو عسکرو دهاوانو نو دلګیدو له امله یو تن ولسي وګړی شهید او بل ژوبل شوی دی.

مأخذونه: [بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،خبریال وبیپانه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا [=

دامارت پیغامونه

په کابل اونوروسیمو کې د با احساسه افغان عسکرو لخوا د ګڼو بهرنیو یرغلګرو د وژل کیدو په اړه د اسلامي امارت اعلامیه

د تیرې سه شنبې په ورځ د کابل په قرغه کې د دښمن په نظامي روزنتون کې د پکتیا ولایت د اوسیدونکي با احساسه افغان عسکر اتل شهید رفیق الله لخوا په امریکایي او نورو اشغالګرو جنرالانو او عسکرو کلک ګوزار وشو چې له امله یې د یولوړرتبه جنرال په شمول ګڼ شمیر بهرنیان قتل شول، اسلامي امارت دغه دستاینې وړ کارنامه شهید شوي عسکر ، دهغه کورنۍ او د ټول افغان ولس لپاره د افتخار وړ تاریخي کارنامه بولي او دمتعال رب تعالی له دربار څخه سربښندونکي عسکر ته د جنت الفردوس غوښتنه کوي.

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په سر ګردان چوک سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو، په برید کې د پوستې ودانۍ زیانمنه، ۲ اربکیان ووژل شول او بل مرګوني ټپي شو، په جګړه کې ۲ مجاهدین سر سر کې ټپیان شول. ۰۸- ۰۷- ۲۰۱۴

اچین ولسوالۍ په ودانۍ د هشتاددو برید، ۵ پولیس ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ ودانۍ په هشتاددو وویشتل شوه چې زیان ور ته واوښت او ۵ تنه پولیس پکې شدید ټپیان شول. ۰۸- ۰۷- ۲۰۱۴

بهسودو کې ماین ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په اړونده سیمه کې په پولیسو چاودنه وشوه، چاودنې ۱ پولیس وواژه او ۲ نور یې مرګوني ټپیان کړل. ۰۸- ۰۷- ۲۰۱۴

پچیراګام کې په پوسته برید، ۴ اربکیان قتل او ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د پچیرا ګام ولسوالۍ اړوند په پچیر کنډو سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو، په برید کې ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۱ اربکی مړ او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۸– ۰۷– ۲۰۱۴

بهسودو کې د لاسي بم برید کې ۸ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ په بینیګار سیمه کې د مزدوري اردو په کماز ډوله موټر د لاسي بم برید تر سره شو، په پېښه کې ۸ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او موټر هم زیانمن شو. ۰۸– ۰۷– ۲۰۱۴

سپین غر کې ۴ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې ۴ تنه عسکر (مولاجان، نور حبیب، لاچي ګل او طاوس) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

بټي کوټ کې په پولیسو برید وشو

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ د ګل دادخان پمپ ته نژدې په پولیسو برید تر سره شو چې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته او خپل مړه او ژوبل پولیس یې په امبولانسونو کې انتقال کړل. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

چپرهار کې په موټر چاودنې ۱ پولیس وواژه

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په سره کلا سیمه کې د پولیسو رینجر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او پکې ناست پولیس ۱ تن ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

چپرهار کې ماین ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په سره کلا سیمه کې په اربکیانو چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ اربکی ووژل شو او ۲ نور ټپیان شول. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

سپین غر کې له اربکیانو سره نښته وشوه

د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ په شډل سیمه کې له اربکیانو سره نښته وشوه، په نښته کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته اما کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

خوګیانو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو، د برید له امله دښمن ته د اوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

اچین کې اربکی قومندان او ۲ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې اربکی قومندان حاجت خان او دهغه دوه ننه عسکر (شوقي او صادق) له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیرا ګام کې په پوسته برید، ۲ پولیس ووژل شول

د ننګرهار ولایت د پچیرا ګام ولسوالۍ په پچیر تنګي سیمه کې د دښمن په پوسته برید تر سره شو، په برید کې ۲ پولیس مړه او ودانۍ پوره زیانمنه شوه. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

حصارک کې ګڼو قومي مشرانو د مجاهدینو ملاتړ اعلان کړ

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ د دواب په سیمه کې سلګونو قومي مشرانو او مخورو د یوې غونډې په ترڅ کې له اسلامي امارت سره د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

د جلال اباد هوایي ډګر په توغندیو وویشتل شو

د ننګرهار ولایت د جلال اباد په هوایي اډه ۲ توغندي وتوغول شول چې په نښه شوي ځای ولګېدل او له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

اچین کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ په عدالخېلو سیمه کې د مزدګي په پوسته د دهشکې او نورو سپکو وسلو برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

بټي کوټ کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ د فارم سي په پوسته وسلوال برید ترسره شوچې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

خوګیانو کې د بې پیلوټه الوتکې په برید کې ۳ مجاهدین ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو پیره خېلو سیمه کې بې پیلوټه الوتکې په مجاهدینو بمبار وکړ چې له امله یې ۳ مجاهدین ټپیان شول. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

خوګیانو کې په پوسته برید، ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په میملي قیوم خېلو سیمه کې په پوسته برید ترسره شو، دبرید په مهال ۱ پولیس ووژل شو او بل سخت ټپي شو. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

ده بالا کې ماین ټانک تخریب او ۳ عسکر ټپیان کړل

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ بازار ته نژدې د مزدوري اردو ټانک د چاودنې ښکار شو. په چاودنه کې ټانک مکمل تخریب شو او ۳ عسکر پکې ټپیان شول. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

نازیانو کې په موټر چاودنې ۳ اربکیان ټپیان کړل

د ننګرهار ولایت د نازیانو ولسوالۍ په لنډي سیمه کې د اربکیانو رینجر په ماین والوت. په چاودنه کې رینجر پوره تخریب شو او ۳ تنه اربکیان پکې سخت ټپیان شول. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

چپرهار کې ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په شعیب کلي کې د اربکیانو په ګزمه برید وشو، په برید کې ۱ اربکی ووژل شو او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

سرخرود کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په خیرآباد سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له امله دښمن ته د اوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. ۱۰– ۰۷– ۲۰۱۴

سپین غر کې پوسته ویجاړه او ۲ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ په شدل سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، دبرید په ترڅ کې پوسته فتحه شوه او ودانۍ یې په بمونو والوزول شوه، د برید په مهال ۲ اربکیان مړه، ۴ نور مرګوني ټپیان شول او ۱ رینجر موټر، ۱ دهشکه، ۱ پیکا، ۲ کلاشنکوفونه او ګڼ نور مهمات غنیمت شول. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

کوټ ولسوالۍ ودانۍ تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د کوټ ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیراګام کې په پوسته برید، ۳ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په ګډل پله سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو، د برید په مهال د پوستې ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۳ اربکیان مړه او ګڼ نور ژوبل شول. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

خوګیانو کې له یرغلګرو سره نښته وشوه

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو سیمه کې له یرغلګرو سره دچاپې په مهال نښته ترسره شوه، دنښتې په پای کې یرغلګر له سیمې وتښتېدل او په ډزو یې ۱ مجاهد په شهادت ورسېد، انا لله وانا الیه راجعون. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

چپرهار کې په پوسته برید، ۳ اربکیان قتل او ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په کمبیل سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو، په برید کې ۱ اربکی

ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول او په دې سربېره د پوستې ودانۍ ته هم زیان واوښت. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

اچین کې په پوسته بریدوشو

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ په عبدالخېلو مزدکي سیمه کې په پوسته برید تر سره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

حصارک ولسوالۍ ودانۍ په هشتادوو ویشتل شوه

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ ودانۍ د هشتادوو په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

پچیراګام کې ماین د ۲ اربکیانو ژوند واخیست

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې په اربکیانو چاودنه وشوه، چاودني ۲ تنه اربکیان ووژل او بل یې سخت ژوبل کړ. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

خوګیانو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو دوسر که سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له امله د پوستې ودانۍ زیانمنه او په دې سربېره ۲ اربکیان پکې ټپیان شول. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

اچین کې ماین موټر تخریب او ۳ اربکیان ټپیان کړل

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ په عدالخېلو سیمه کې د اربکیانو رینجر په ماین والوت. په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او ۳ تنه اربکیان پکې ټپیان شول. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

پچیراګام کې اربکیانو دوکاندار شهید کړ

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ د دوسره کې بازار کې د دوو دوکاندارانو تر منځ لفظي شخړه رامنځته شوه چې وروسته اربکیان راغلل او یو یې په ډزو شهید کړ. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

حصارک کې په اربکیانو برید وشو

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ په مامد کلا سیمه کې په اربکیانو برید تر سره شوچې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۱- ۰۷- ۲۰۱۴

غني خېلو کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په ۲۷مه ویاله سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۱۲- ۰۷- ۲۰۱۴

جلال اباد کې چاودنې موټر ویجاړ او د افسر په شمول ۶ عسکر ووژل

د جلال اباد ښار ته نژدې د مزدوري اردو د افسر په موټر تکیکي چاودنه وشوه، د چاودنې له امله د مزدوري اردو افسر او ۶ تنه عسکر مړه او ۲ نور ټپیان شول، چاودنې موټر هم په بشپړه توګه ویجاړ کړ. ۱۲- ۰۷- ۲۰۱۴

پچیراګام کې اربکی ووژل شو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په لنډاخېلو سیمه کې ۱ دوسلوال برید په ترڅ کې اربکی ووژل شو. ۱۲- ۰۷- ۲۰۱۴

سرخرود کې ماین موټر تخریب او ۴ پولیس ووژل

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په فتح اباد سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو، ۴ تنه پولیس مړه او ۳ نور یې مرګوني ټپیان شول. ۱۲- ۰۷- ۲۰۱۴

جلال آباد کې فدایي او تکتکي چاودنې ګڼ پېرني او کورني عسکر قتل او ټپیان کړل

د ننګرهار ولایت مرکز جلال آباد ښار یو لسمه ویاله سیمه کې په روان امریکایي قطار د یوتن اتل فدایي مجاهد محمدموسی ننګرهاري لخوا د کرولا موټر په وسیله فدایي برید وشو. د برید له امله یو امریکایي ټانک مکمل وسوزېد او ۶ تنه عسکر پکې ووژل شول، وروسته د پیښې په ځای کې په راټولو شویو امریکایي او مزدورو عسکرو بله

تاکتیکي چاودنه رامنځته شوه چې له امله یې یو ټانک او یو رینجر موټر ویجاړ ، ګن شمیر بهرني اشغالګر او کورني غلامان مړه او ژوبل شول. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

غني خېلو کې ۳ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په ۲۶مه ویاله سیمه کې ۳ تنه اربکیان (حضرت حسین، جهانزیب او تورات) د یووسلوال برید په ترڅ کې ووژل شول. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

بټي کوټ کې په موټر چاودنې ۶ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په منډی سیمه کې د مزدوري اردو په رینجر چاودنه وشوه، چاودني موټر پوره تخریب کړ، ۱ عسکر یې وواژه او ۵ نور یې مرګوني ټپیان کړل. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

اچین کې ۴ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې ۴ تنو اربکیانو (محمد دیدار ، عرفات ، اسماعیل ، او مشقت) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پاله کې له خپلې دندې لاس واخیست. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

سپین غر کې د پولیسو قومندان ووژل شو

د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ د شدل پنډولا د پوستې قومندان په دراز کوف وویشتل شو چې سخت ټپي شو او یو ساعت وروسته یې ساه ورکړه. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیراګام کې د اربکیانو په ضد مظاهره ترسره شوه

د ننګرهار ولایت په پچیراګام ولسوالۍ کې اربکیانو یو ملکي وګړی شهید کړ چې په غبرګون کې یې د سیمې خلکو په مظاهره لاس پورې کړ اود اربکیانو او ګوډاګۍ ادارې په ضد یې شعارونه ورکول او قاتلینو د نیولو غوښتنه یې کوله. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

بټي کوټ کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په چهاردي کلي کې یو عسکر (مبارز) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

مهمندره کې اکمالاتي کانټینر تخریب شو

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په ۲۸مه ویاله سیمه کې په کاروان برید وشو چې په مهال یې ۱ اکمالاتي کانټینر وویشتل شو چې پوره تخریب شو. وروسته د مزدوري اردو له عسکرو سره هم نښته ترسره شوه او درنه مرګ ژوبله ورته واوښته. ۱۴– ۰۷– ۲۰۱۴

جلال اباد کې د پولیسو په رینجر ماین وچاودېد

د جلال اباد د بنار اړوند په ۱۱مه ویاله سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوت. دچاودني له امله پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته او موټر هم تخریب شو. ۱۴– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیراګام کې په پوسته برید، ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په ګیري خېلو سیمه کې په پوسته برید ترسره شوچې په مهال یې ۱ پولیس ووژل شو او ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیراګام کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په ګډل پله سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو چې پکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیراګام کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په لیشکي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید وشو، د برید له امله دښمن ته د اوښتي زیان په اړه معلومات نشته. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیراګام ولسوالۍ په ودانۍ برید وشو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په ودانۍ، امنیه قومنداني او د استخباراتو په مدیریت برید ترسره شو، په بریدونو کې دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیر اگام کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د پچیر اګام ولسوالۍ په چینار کي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو چې تر ډېره یې دوام وکړ او دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

ده بالا کې ۲ موټر تخریب او ۱۱ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په احمدخیل، مریز کنډو او د ولسوالۍ مرکز ته نژدې د دښمن په موټریز کاروان بریدونه تر سره شول، د بریدونو په مهال ۱۱ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته او په دې سربېره ۱ رینجر او ۱ داوبو ټانکر تخریب شو. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

ده بالا کې په پوسته برید، ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ د مریز کنډو په پوسته برید تر سره شو، د برید له امله د پوستې ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۱ پولیس ووژل شو. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

ګوشتي کې په موټر چاودنې ۳ عسکر ووژل

د ننګرهار ولایت د ګوشتي ولسوالۍ په خویزو سیمه کې د مزدوري اردو په رینجر موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر تخریب، ۳ عسکر مړه او ۴ نور عسکر مرګوني ټپیان شول. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

چپرهار کې په موټر چاودنې ۲ اربکیان ووژل

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په مارو سیمه کې د اربکیانو رینجر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر ویجاړ، ۲ اربکیان مړه او ۳ تنه نور اربکیان مرګوني ټپیان شول. ۱۶– ۰۷– ۲۰۱۴

بتي کوټ کې په پوسته د برید، ۴ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په سرګردان چوک سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو، د برید په مهال په پوسته کې ۴ اربکیان مړه او ۶ تنه نور مرګوني ټپیان شول، له دې علاوه د پوستې ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۶– ۰۷– ۲۰۱۴

سپین غر کې ۴ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې ۴ تنه عسکر (واقف خان، رباني، مستالي جان او عبدالله) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۶– ۰۷– ۲۰۱۴

حصارک کې په پوستو برید وشو

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ په مامد کلا سیمه کې د اربکیانو په ۲ پوستو بریدونه تر سره شول، د بریدونو له امله ودانۍ زیانمنې شوې او ۱ اربکي پکې سخت ژوبل شو. دغه راز په لنګرخېلو سیمه کې یو عسکر وویشتل شو او سخت ژوبل شو. ۱۶– ۰۷– ۲۰۱۴

ده بالا کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په اکاخېلو سیمه کې په پوسته برید تر سره شو چې په مهال یې ۱ پولیس ټپي شو او ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۶– ۰۷– ۲۰۱۴

غني خېلو کې ۷ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې ۷ تنه عسکر (نظام الدین، دستخط، خطاب، غیرت، سردار، مسعود او عنایت الله) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۶– ۰۷– ۲۰۱۴

پچیر اگام کې ماین ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د پچیر اګام ولسوالۍ په لاندي صبر سیمه کې د اربکیانو په ګزمه درنه چاودنه وشوه چې له امله یې ۱ اربکی مړ او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۱۶– ۰۷– ۲۰۱۴

سپین غر کې د ملي امنیت کارمند ووژل شو

د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ په شډل سیمه کې د چریکي برید په ترڅ کې په اصطلاح د ملي امنیت یو کارمند چې واقف نومیده ووژل شو. ۱۷– ۰۷– ۲۰۱۴

چپرهار کې ۱ موټر تخریب او ۲ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په مارۍ سیمه کې په اربکیانو برید تر سره شو، دبرید په مهال ۲ اربکیان ووژل شول او ۳ نور ټپیان شول، په برید کې ۱ سراچه موټر هم تخریب شو، وروسته اربکیانو په یو کلیوال چې په موټر سایکل روان و، ډزې وکړې او شهیدیې کړ. ۱۷– ۰۷– ۲۰۱۴

ده بالا کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په مریز کنډو سیمه کې د دښمن په پوسته برید تر سره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۷– ۰۷– ۲۰۱۴

جلال اباد ښار کې د پولیسو رینجر په ماین والوت

د جلال اباد په ښار کې د ګوډاګۍ اداري د پولیسو په رینجر موټر درنه چاودنه وشوه چې له امله یې موټر تخریب شو او پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

حصارک کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د ننګرهار ولایت دحصارک ولسوالۍ په لنګر خېلو کنډو سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او د پوستې ودانۍ زیانمنه شوه. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

کوټ ولسوالۍ په ودانۍ برید وشو

د ننګرهار ولایت د کوټ ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید تر سره شو، د برید له امله ودانۍ زیانمنه شوه اما د مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

خوګیانو کې په پوسته او بیس برید شوی

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو سیمه کې د سرحدي پولیسو په پوسته او بیس بریدونه تر سره شول، د بریدونو له امله ودانیو ته په زیان اوښتو سربېره دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

بټي کوټ کې په موټر چاودنې ۲ عسکر ووژل

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په شینواري کلا سیمه کې د مزدوري اردو رینجر موټر په ماین والوزول شو، چاودنې موټر تخریب کړ، ۲ عسکر یې مړه او ۳ نور یې مرګوني ټپیان کړل. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

چپرهار کې د برید او چاودنې له امله ۵ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په سره کلاچوک کې د اربکیانو په ګزمه برید تر سره شو چې په مهال یې ۲ اربکیانو ژوند له لاسه ورکړ او ۳ نور سخت ټپیان شول، له جګړې وروسته په سیمه کې په پلیو اربکیانو درنه چاودنه وشوه چې ۳ تنه یې ووژل او بل یې ژوبل کړ. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

غني خېلو کې د غونډ یو کارمند ووژل شو

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په مار کوبازار سیمه کې د ګډ دښمن د غونډ یو تن کارمند ډګرمن اختر ګل د چریکي برید په مهال ووژل شو. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

غني خېلو کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په ۲۷مه ویاله سیمه کې ۲ تنه عسکر (سید ګلاب او نور خطاب) له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

سرخرود کې د پولیسو موټر په ماین والوت

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په مامور اباد سیمه کې د پولیسو رینجر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او پولیسو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

سپین غر کې ۳ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې ۲ عسکر او ۱ اربکي د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول، په یادو کسانو کې تورات، رحمت الله او حاجي ګل شامل دي. ۱۸– ۰۷– ۲۰۱۴

مهمندره کې په کاروان برید، ۱ ټانکر تخریب شو

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په باسول سیمه کې

د تورخم او جلال اباد دعمومي سرک په سر اشغالګرو ته د لیږد په کاروان وسلوال برید تر سره شو، په برید کې ۱ ټانکر وویشتل شواو تخریب شو. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

مهمندره کې ۴ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت په مهمندره ولسوالۍ کې ۴ تنه عسکر (علي احمد، هلال، اجمل او بشرمل) چې دمزدوري اردو په لیکو کې یې دندې ترسره کولې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

غني خېلو کې عسکر ووژل شو

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په ۲۸مه ویاله سیمه کې ۱ تن عسکر د غلچکي برید په مهال ووژل شو. ۱۹- ۰۷- ۲۰۱۴

ننګرهار کې ۳ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت دغني خېلو په ۲۸مه ویاله سیمه کې ۲ عسکر (صدام حسین او ګل حسین) او په شیرزادو ولسوالۍ کې د مزدوري اردو افسر هارون له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۹- ۰۷- ۲۰۱۴

حصارک ولسوالۍ ودانۍ په هفتادپنج وویشتل شوه

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ او امنیه قومندانۍ ودانۍ د هفتاد پنج په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شول، د برید له امله دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۹- ۰۷- ۲۰۱۴

پچیراګام کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په ګریخېلو سیمه کې په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

ده بالا کې ۲ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د ننګرهار ولایت دده بالا ولسوالۍ د اکاخېلو په سیمه کې په تور سرک د مزدوري اردو په عسکرو برید ترسره شو، په برید کې ۲ عسکر ووژل شول او یو شهېر نور ټپیان شول. په عیني وخت کې د مریز کنډو په پوسته هم برید ترسره شو چې پکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

نازیانو کې په بیس برید وشو

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ د ژي سر په بیس د سپکو او درنو وسلو برید وشو، د برید له امله د بیس ودانۍ زیانمنه شوه اما د مرګ ژوبلې کره شهېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

سپین غر کې ماین ټانګ ویجاړ او ۴ یرغلګرو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ په حجم کلا کې د امریکایي عسکرو زغروال ټانګ په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شو او ۴ عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته، وروسته یو ټانګ په اینزري سیمه کې د رپا غونډۍ له سره کمر نه وغورځېد چې تخریب شو او عسکرو نه پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

ده بالا کې په پوسته برید، ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په مریز کنډو کې د پولیسو په پوسته برید ترسره شو، د برید له امله ۱ پولیس ووژل شواو د پوستې ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

مهمندره کې ۲ ټانکر تخریب شول

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په ۲۸مه ویاله سیمه کې په اکمالاتي کاروان برید ترسره شو، د برید په مهال ۲ ټانکر تخریب شول او په دې سربېره ۱ موټروان ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

غني خېلو کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې دوه عسکر (ګلاب او کاکو) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

سپین غر کې ۴ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې ۴ عسکر (نقیم ګل، رغزي ګل، ښایسته ګل او زیړي ګل) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

سرخرود کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت دسرخرود ولسوالۍ په خیرآباد سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له امله ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

ده بالا کې په کاروان برید وشو

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په مریز کنډو سیمه کې د اشغالګرو عسکرو په کاروان برید تر سره شو، د برید په مهال دښمن ته د اوښتو تلفاتو په هکله دقیق معلومات نشته. ۲۰- ۰۷- ۲۰۱۴

غني خېلو کې د اربکیانو په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په مار کو بازار فرش سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو چې دښمن ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

غني خېلو کې ۴ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ ۴ تنه عسکر (عبدالولي، جمیل، مزمل او خواګه جان) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

چپرهار کې په یرغلګرو برید وشو

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په دولت زیو سیمه کې په خارجي عسکرو برید تر سره شوچې درنه مرګ ژوبله ورته واوښته. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

جلال اباد کې د پولیسو رینجر په ماین والوت

د جلال اباد ښار اړوند په ۱۱مه ویاله سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او پکې ناستو پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

چپرهار کې ماین ټانک ویجاړ او ۲ عسکر ووژل

دننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په مارو سیمه کې د مزدوري اردو ټانک په ماین والوت، په چاودنه کې ټانک ویجاړ، ۲ عسکر مړه او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

ده بالا کې په عسکرو او پوسته برید. ۱ عسکر ووژل

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په احمدخېلو سیمه کې په هغو عسکرو چې تالاشي یې کوله برید وشو چې په مهال یې ۱ عسکر ووژل شو، دغه راز په مریز کنډو سیمه کې په پوسته هم برید تر سره شوچې پکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

پچیراګام کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په ګري خېلو سیمه کې په پوسته برید تر سره شوچې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

بتي کوټ کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په باریکاب سیمه کې ۲ تنه عسکر (شوکت او طلب) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې د اسلامي امارت له مخالفت نه په شا اوله مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

چپرهار کې په اربکیانو ماین وچاودېد

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په کنډي باغ سیمه کې په اربکیانو چاودنه وشوه چې له امله یې اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۱- ۰۷- ۲۰۱۴

ننګرهار کې ۳ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې دوه تنه

عسکر (افغانستان او مولاجان) او دغه راز په غني خېلو ولسوالۍ کې یو عسکر (ګل نبي) له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۱-۰۷-۲۰۱۴

چپرهار کې په دښمن بریدوشو

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په مارو سیمه کې په دښمن برید تر سره شوچې عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته، وروسته د دښمن عسکرو په سیمه کې د هاوان ناتار ډزې پیل کړې چې یوه مرمۍ یې په یو کور ولګېده او یوه ښځه پرې په شهادت ورسېدله. ۲۲-۰۷-۲۰۱۴

خوګیانو کې په پوسته بریدوشو

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په قیوم خېلو سیمه کې په پوسته برید تر سره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۲-۰۷-۲۰۱۴

مهمندره کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

دننګرهار ولایت په مهمندره ولسوالۍ کې ۲ تنه عسکر (رحیم خان او سمیع الله) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۲-۰۷-۲۰۱۴

پچیر اګام کې چاودنې ۳ اربکیان ووژل

د ننګرهار ولایت د پچیر اګام ولسوالۍ په پاس صبر سیمه کې په اربکیانو دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۳ تنه اربکیان مړه او ۳ نور اربکیان مرګوني ټپیان شول. ۲۲-۰۷-۲۰۱۴

مهمندره کې په دښمن بریدوشو

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په ۲۷مه ویاله سیمه کې د مزدوري اردو په عسکرو برید تر سره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۲-۰۷-۲۰۱۴

د ننګرهار په اچین او غني خېلو کې ۹ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شوي

د ننګرهار ولایت په اچین په ولسوالۍ کې ۶ تنه عسکر (قاري خالد، حمید الله، بهرام ګل، سیداګل، توبه ګل او زړور) له مجاهدینو سره یو ځای شول، دغه راز په غني خېلو ولسوالۍ کې هم ۳ تنه عسکر (عارف الله، تاج محمد او معین) د جلب او جذب کمیسیون او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په برکت د اسلامي امارت په حقانیت پوه او له خپلو دندو لاس په سر شول. ۲۲-۰۷-۲۰۱۴

بهسودو کې د تیلو ټانکر وسوزول شو

د ننګرهار ولایت دبهسودو ولسوالۍ په بنغربازار سیمه کې اشغالګرو ته د لیږد په کاروان برید تر سره شو چې په مهال یې ۱ ټانکر وسوزول شو. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

د جلال اباد هوایي اډې نظام قرول ته نژدې ماین وچاودېد

د جلال اباد د هوایي ډګر دوهم نظام قرول ته نژدې درنه چاودنه رامنځته شوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

جلال اباد کې د جاسوسي ادارې څارنوال ټپي شو

د جلال اباد ښار اړونده په اخندزاده صاحب سیمه کې د جاسوسي ادارې په کارمندانو چریکي برید وشوچې په مهال یې په اصطلاح د ملي امنیت څارنوال عرفان سخت ټپي شو. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

ده بالا کې ۵ بهرني عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت دده بالا ولسوالۍ ترخانړي سیمي ته امریکایي اوداخلي عسکر په ۲ چورلکو کې راغلل او کله چې پلي شول د مجاهدینو تر سخت وسلوال برید لاندې راغلل، په برید کې ۵ تنه بهرني عسکر مړه او ۱۲ کورنیو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، د جګړې په ترڅ کې په سیمه درنه بمباري هم کېدله چې له امله یې ۲ مجاهدین شهیدان او ۳ ټپیان شول، اناالله وانا الیه راجعون. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

اچین کې پوسته فتحه او ۶ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ په عدالخېلو مزدګي سیمه کې د اربکیانو پوسته د سپکو او درنو وسلو تر برید

لاندې راغله او له لږ مقاومت وروسته فتحه شوه، د بريد په مهال په پوسته کې ۶ تنه اربکيان مړه او د قومندان زمينداد په شمول ۴ تنه پکې سخت ټپيان شول، مجاهدينو په پوسته کې ۲ ميله پيکا، ۴ شريدونه، ۲ کلاشنکوفونه او ۴ جاغورنه يې، ۱ راکټ لانچر، ۴ مخابرې، ۴ لاسي بمونه او يو ګڼ شمېر مرمۍ او نور مهمات غنيمت کړل. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

خوګيانو کې په اربکيانو چاودنه وشوه

د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په وزيرو ليونيانو کلي کې په اربکيانو چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ اربکی چې وزيري نومېده سخت ټپي شو. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

خوګيانو کې په پوسته د بريد په مهال ۴ اربکيان ووژل شول

د ننګرهار ولايت دخوګيانو ولسوالۍ د وزيرو په کرم خېلو سيمه کې د اربکيانو پوسته د مجاهدينو تر بريد لاندې راغله، په بريد کې ۴ اربکيانو ژوند له لاسه ورکړ او ودانۍ هم زيانمنه شوه، په جګړه کې يو مجاهد د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

بتي کوټ کې ماين ۱ عسکر وواژه

د ننګرهار ولايت د بتي کوټ ولسوالۍ په يخه چينه سيمه کې د مزدوري اردو په ګزمه چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ عسکر مړ او بل سخت ټپي شو. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

خوګيانو کې اربکی ووژل شو

د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په ګڅي بازار اړونده سيمه کې ۱ اربکی ووژل شو او بريد کونکی مجاهدله سيمې په خوندي توګه ووت. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

چپرهار کې ماين ۲ اربکيان ژوبل کړل

د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ په کنډي باغ سيمه کې په پياده اربکيانو چاودنه وشوه چې ۲ تنه يې مرګوني ټپيان شول. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

غني خېلو کې ۵ عسکر مجاهدينو سره يو ځای شول

د ننګرهار ولايت په غني خېلو ولسوالۍ کې ۵ تنه عسکر (عبدالمتين، انځر ګل، بيت الله، امان الله او علي حيدر) د جلب او جذب کميسيون د دعوت په پايله کې له مجاهدينو سره يو ځای شول. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

کوټ ولسوالۍ په ودانۍ او پوسته د درنو وسلو بريد وشو

دننګرهار ولايت د کوټ ولسوالۍ په ودانۍ او ورته نژدې پوسته د هاوان، هشتاددو او نورو درنو وسلو بريدوشو، د بريد له امله ودانۍ پوره زيانمنې او پکې مېشتو عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

خوګيانو کې فدايي بريد اربکی قومندان ملک نواب او ۶ اربکيان ووژل

د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په وزيرو سيمه کې د اربکيانو د مشر ملک نواب په پوسته کې د قهرمان مجاهدن احمدزيير له لوري فدايي بريد تر سره شو، په بريد کې ملک نواب او او دهغه دمعاون محمدامين په شمول ۶ اربکيان ووژل شول او ۱۰ نور اربکيان مرګوني ټپيان شول. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

خوګيانو کې پوسته تر بريد لاندې راغله

د ننګرهار ولايت دخوګيانو ولسوالۍ د مملي په قيوم خېلو سيمه کې د دښمن په پوسته بريد تر سره شو، په بريد کې دښمن ته د اوښتي زيان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

پچيراګام کې ۳ عسکر مجاهدينو سره يو ځای شول

د ننګرهار ولايت په پچيراګام ولسوالۍ کې ۳ تنه عسکر (ايوب خان، صورت خان او شيرزاعلي) دجلب او جذب کميسيون د دعوت په مهال له مجاهدينو سره يو ځای شول. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

غني خېلو کې په کاروان بريد، ۱ ټانکر تخريب شو

د ننګرهار ولايت دغني خېلو ولسوالۍ په ۲۷مه وياله سيمه کې اشغالګرو ته د ليږد په کاروان بريد تر سره شو چې په مهال يې ۱ ټانکر تخريب شو. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

اچین او سپین غر کې ۱۱ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې شپږ تنه اربکیان (خضر تمیر، بخت الله، لعل بت خان، سر کي خېلو، جان اکبر او عارف) له مجاهدینو سره یوځای شول، دغه راز په سپین غر ولسوالۍ کې هم ۵ تنه اربکیان (احسان الله، ولایت ولي، نور عالم، حمید او زاهد الله) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شوي. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

اچین کې اربکیانو پوسته تخلیه کړه

د ننګرهار ولایت داچین ولسوالۍ په عدالخېلو مزد کي سیمه کې اربکیان دمجاهدینو له ډاره له پوستې وتښتېدل او د اړتیاوړ شیان یې پرېښودل، وروسته پوستې ته ماشومان ورغلل او د اربکیانو بسترې او نور سامان آلات یې کورونو ته یوړل. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

شیرزادو ولسوالۍ په ودانۍ برید، ۲ پولیس ووژل شول

د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ په ودانۍ برید تر سره شوچې په مهال یې ۲ پولیس ووژل شول او ۴ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

غني خېلو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په ۲۷مه ویاله سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره ش، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۴-۰۷-۲۰۱۴

غني خېلو کې ۵ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې ۵ تنه پولیس (مدیر، زردین، نورجان، عبدالحلیم او شوقي) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

بتي کوټ کې نامعلومو وسلوالو ۱ کلیوال وواژه

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په سه پای سیمه کې د ملک خانولي په زامنو د ناپیژاندو وسلوالو لخوا ډزې وشو چې ۱ یې ووژل شو او بل ټپي شو، سیمه ییزو مجاهدینو د مجرمینو لټه پیل کړې تر څو یې د اسلامي امارت محکمې ته حاضر او په شرعي سزا ورسوي. ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

اچین او پچیراګام کې ۴ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې ۴ تنه اربکیان (داود، نیازالرحمن، جان محمد او حاجت خان) او یو عسکر (امان الله) له مجاهدینو سره یوځای شول، دغه راز په پچیراګام ولسوالۍ کې ۴ تنه عسکر (ښایسته محمد، علي محمد، غلام نبي او سید ربي) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

دره نور ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ په ودانۍ د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

ده بالا کې ۱ موټر تخریب او ۳ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت ده بالا ولسوالۍ په احمدخېلو سیمه کې د مزدوري اردو په رینجرو برید وشو، په برید کې ۳ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ، ۲ نور ژوبل شول او ۱ رینجر موټر یې تخریب شو. ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

پچیراګام کې ماین ۳ اربکیان ټپیان کړل

د ننګرهار ولایت دپچیراګام ولسوالۍ په لاندي صبر سیمه کې په اربکیانو دماین شنډولو په مهال چاودنه وشوه چې له امله یې ۳ اربکیان مرګوني ټپیان شول. ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

کامه کې چاودنې یو صاحب منصب ټپي کړ

د ننګرهار ولایت د کامه ولسوالۍ په اخندزاده ګانو سیمه

کې دصاحب منصب منګل په دیره کې د ماین چاودنې نوموړی سخت ژوبل کړ . ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

غني خېلو کې ۳ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې ۳ تنه عسکر (عطاالله ، حضرت الله او امین)له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۵-۰۷-۲۰۱۴

خوګیانو کې د دښمن ۳ مرکزونو برید، ۴ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو سیمه کې د سرحدي پولیسو په غونډ، پوسته او د کڑې په بیس بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې ودانیو ته په زیان اوښتو سربېره ۱۱ تنه پولیس، عسکر او اربکیان مړه او ۹ تنه نور مرګوني ټپیان شول، دبریدونو په مهال ۴ مجاهدین ټپیان شول. ۲۶-۰۷-۲۰۱۴

خوګیانو کې د دښمن په ګزمه ماین وچاودېد

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو سیمه کې لیسې ته نژدې د پلیو عسکرو په ګزمه چاودنه وشوه چې له امله یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۶-۰۷-۲۰۱۴

مهمندره کې ۲ ټیلر چې ۲ ټانګونه پکې بار وو او ۱ ټانکر وسوزول شول

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په هزار ناو سیمه کې دښمن ته د لیږد په کاروان وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال ۲ ټیلر موټرانو چې ۲ ټانګونه پکې بار وو او ۱ ټانکر موټر وسوزول شول او په دې سربېره د کاروان ساتونکو عسکرو ته هم مرګ ژوبله واوښته. ۲۶-۰۷-۲۰۱۴

بټي کوټ کې ماین د ۳ عسکرو ژوند واخیست

د ننګرهار ولایت په بټي کوټ ولسوالۍ کې د عسکرو د لامبلو په ځای کې د ماین چاودنې ۳ تنه عسکر مړه او ۱ عسکر سخت ټپي کړ. ۲۶-۰۷-۲۰۱۴

شیرزادو ولسوالۍ په ودانۍ برید وشو

د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ په ودانۍ برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۶-۰۷-۲۰۱۴

بټي کوټ کې ۲ پولیس مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په بټي کوټ ولسوالۍ کې ۲ تنه پولیس (شوکت او طلب)د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۶-۰۷-۲۰۱۴

سپین غر کې ۶ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې ۶ تنه عسکر له مجاهدینو سره یو ځای شول، په عسکرو کې فارس خان، دواد جان، نورستان، نیازولي، مدیر او صابر شامل دي. دغه راز په غني خېلو ولسوالۍ کې هم ۱ عسکر عبدالغفار چې د مزدروي اردو په لیکه کې یې د ډاکټر په توګه وظیفه ترسره کوله له مجاهدینو سره یو ځای شوي. ۲۶-۰۷-۲۰۱۴

غني خېلو کې ۱ موټر تخریب او ۲ عسکر ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په مار کو سیمه کې په کاروان برید ترسره شوچې په مهال یې ۲ عسکر ټپیان شول او ۱ موټر تخریب شو. ۲۷-۰۷-۲۰۱۴

بټي کوټ کې ماین ټانګ او ۵ عسکر له منځه یوړل

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په شینواري کلا سیمه کې د دښمن زغروال ټانګ په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک په بشپړه توګه ویجاړ شو او پکې ناست عسکر ۵ تنه ټول ووژل شول. ۲۷-۰۷-۲۰۱۴

مهمندره کې په کاروان برید، ۲ ټانکر تخریب شوي

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په هزارناو سیمه کې اشغالګرو ته د لیږد په کاروان برید ترسره شوچې په مهال یې ۲ ټانکر وویشتل شول او تخریب شول. ۲۷-۰۷-۲۰۱۴

مهمندره کې ۶ ټانکر موټر وسوزول شول

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په ۲۸مه ویاله سیمه کې د اشغالګرو په اکمالاتي کاروان برید ترسره

شو، دجګړې په ترخ کې د کاروان ۶ ټانکر موټر وسوزول شول، په دې سربېره ۶ تنه عسکر ووژل شول او ۴ نور سخت ټپیان شول. ۲۷- ۰۷- ۲۰۱۴

بتي کوټ کې ۳ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په بتي کوټ ولسوالۍ کې ۳ تنه عسکر (روضت الله، عظمت الله او وفي الله) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې د اسلامي امارت له مخالفت نه په شا او مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۷- ۰۷- ۲۰۱۴

خوګیانو کې ۵ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په خوګیانو ولسوالۍ کې ۵ تنه اربکیان چې د وزیرو جهادي سیمې د پیښوري ملا قبر ته نژدې یې پوسته کې دندې ترسره کولې، د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول، اربکیانو ۳ میله کلاشنکوفونه، ۱ میل راکټ لانچر، ۲ پیکا ماشیندار او ګڼ نور مهمام مجاهدینو ته تسلیم کړل. ۲۸- ۰۷- ۲۰۱۴

اچین کې ۲ اربکي مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې ۲ تنه اربکیان (شیر محمد او بصیر) له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۹- ۰۷- ۲۰۱۴

حصارک کې ۸ پوستې فتحه او ۲۲ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ په ودانۍ او شاوخوا دفاعي پوستو بریدونه وشول، دبریدونو په ترخ کې د دښمن ۲ پوستې په لنکر خېلو، ۱ کلوخېلو، ۱ علي خېلو، ۱ شبک، ۱ په بر خنجر سبو غونډۍ سیمه کې او ۲ کلینک ته نژدې فتحه شوې، له دې علاوه ۲۲ تنه عسکر، پولیس او اربکیان مړه او ۲۵ نور ټپیان شول، په وژل شویو کې اربکی قومندان زر باچا هم شامل دی، د جګړې په مهال ۳ اربکیان ژوندي ونیول شول، په پوستو کې مجاهدینو ۲ پیکا ماشیندار، ۴ کلاشنکوفونه، ۱ راکټ لانچر، ۱ هشتادو او ګڼ نور مهمات د غنیمت په توګه ترلاسه کړل، په اوردې جګړه کې ۲ مجاهدین د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل او ۵ ټپیان شول. ۲۹- ۰۷- ۲۰۱۴

سپین غر کې ۵ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ په اړونده سیمه کې ۵ تنه عسکر (یو غالب، نور حلیم، یوسف، متور خان او ابراهیم) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۳۰- ۰۷- ۲۰۱۴

شیرزادو کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په شیرزادو ولسوالۍ کې ۲ عسکر (غلام دستګیر او راز محمد) دحقائقو په درک کولو له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۳۰- ۰۷- ۲۰۱۴

غني خېلو کې ۸ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ کې ۸ تنه عسکر هر یو دوري ګل، انعام ګل، عبدالتواب، اصل الدین ی، ګل زدین، روزالدین، حضرت اباد او حاتم د جلب او جذب کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو برکت له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۳۱- ۰۷- ۲۰۱۴

لعلپور کې ګوډاګیو عسکرو ۴ کلیوال ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د لعلپور ولسوالۍ په چوک سیمه کې ګوډاګیو عسکرو د کلیوالو په موټر چې څلور تنه (رازمحمد، مدثر، عربان او خیبر) پکې ناست وو، ډزې کړې چې له امله یې ۱ کلیوال شهید شو او ۳ نور ټپیان شول. ۳۱- ۰۷- ۲۰۱۴

خوګیانو کې په بیس د درازکوف بریدوشو

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په کګي سیمه کې د دښمن په بیس د درازکوف بریدوشو چې دښمن ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۳۱- ۰۷- ۲۰۱۴

بتي کوټ کې په پوسته برید، ۱ اربکی ووژل شو

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په سرګردان چوک سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید تر سره شو. په برید کې ۱ اربکی ووژل شو او د پوستې ودانۍ زیانمنه شوه. ۳۱– ۰۷– ۲۰۱۴

کونړ

وټه پور کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د وټه پور ولسوالۍ په لاچۍ سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید تر سره شو، د برید په مهال په پوسته کې مېشتو عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۰۲– ۰۷– ۲۰۱۴

اسمار کې په عسکرو برید وشو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د شابل په سیمه کې په هغو عسکرو برید تر سره شو چې پوستې ته یې خوراکي مواد لېږدول، د برید په ترڅ کې ۱ عسکر ووژل شو. ۰۵– ۰۷– ۲۰۱۴

دانګام کې په سرحدي کنډک برید وشو

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ په سیان سیمه کې د سرحدي پولیسو په کنډک برید تر سره شو. په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۶– ۰۷– ۲۰۱۴

سرکاڼو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د سر کاڼو ولسوالۍ په رشکۍ سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید تر سره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۶– ۰۷– ۲۰۱۴

ماڼوګي کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ په کنده ګل سیمه کې د بیس په دفاعي پوسته او په خاري تنګي سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته بریدونه تر سره شول، په بریدونو کې دواړې ودانۍ زیانمني او په دفاعي پوسته کې ۲ عسکر ټپیان شول. ۰۷– ۰۷– ۲۰۱۴

خاص په بیس د هاوان برید زیان واړاوه

د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ په شالۍ سیمه کې د مزدوري اردو بیس د هاوان په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شو، د برید له امله د هستوګني یو اطاق ویجاړ او ۱ رینجر موټر تخریب شو او د مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۰۷– ۰۷– ۲۰۱۴

مروره کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په مورګام سیمه کې د مزدوري اردو د تالاشي په پوسته برید تر سره شو، د برید په مهال ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۱ عسکر مړ او بل سخت ټپي شو. ۰۷– ۰۷– ۲۰۱۴

سرکاڼو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د سر کاڼو ولسوالۍ په رشکۍ سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید تر سره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۷– ۰۷– ۲۰۱۴

مروره کې ماین د ۳ عسکرو ژوند واخیست

د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په کار کنډو سیمه کې د مزدوري اردو په عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۳ تنه عسکر ووژل شول. ۰۸– ۰۷– ۲۰۱۴

سرکاڼو کې په اربکیانو برید شوی

د کونړ ولایت د سر کاڼو ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې په هغو اربکیانو برید وشو چې په تالاشي بوخت وو، په برید کې ۱ اربکی سخت ټپي شو او نور وتښتېدل. ۰۸– ۰۷– ۲۰۱۴

سرکاڼو کې په غونډ برید وشو

د کونړ ولایت په سر کاڼو ولسوالۍ کې د مزدوري اردو په غونډ د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې تر ډېره یې دوام وکړ او دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۰۸– ۰۷– ۲۰۱۴

سرکاڼو کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت په سر کاڼو ولسوالۍ کې د مزدوري اردو په

خنجر نومي پوسته برید تر سره شو چې په ترخ کې یې ۱ عسکر ووژل شو او ګڼ نور ژوبل شول. ۰۸– ۰۷– ۲۰۱۴

ځوکۍ کې په ټانک چاودنې ۲ عسکر ووژل

د کونړ ولایت د ځوکۍ ولسوالۍ په پاندې کچ سیمه کې د مزدوري اردو زغر وال ټانک په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شو، ۲ عسکر مړه او ۲ نور مر ګوني ټپیان شول. ۰۹– ۰۷– ۲۰۱۴

شیګل کې په پوسته برید، ۱۲ عسکر ووژل شول

د کونړ ولایت د شیګل ولسوالۍ په اوبونو سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید تر سره شو، د برید په مهال ۱۲ عسکر و خپل ژوند له لاسه ورکړ او ګڼ نور ټپیان شول، په جګړه کې ۱ مجاهد شهید او ۲ ټپیان شول. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

اسمار کې بیس په میزایلو وویشتل شو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په اړونده سیمه کې د مزدوري اردو بیس په ۲ میزایلو دقیق وویشتل شو چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

ماڼوګي کې ۲ عسکر و ژوند له لاسه ورکړ

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ په ریچلام سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه وسلوال برید تر سره شو، د برید په ترخ کې ۲ عسکر و خپل ژوند له لاسه ورکړ چې تر ډېره وخته په سیمه کې پراته وو. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

اسمار کې په بیس د میزایلو برید، ۳ عسکر ووژل

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ مرکز ته نژدې د مزدوري اردو بیس په ۳ میزایلو وویشتل شو چې له امله یې ۳ عسکر ووژل شول او ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۱– ۰۷– ۲۰۱۴

دانګام کې په سرحدي کنډک برید وشو

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ په سیان سیمه کې د سرحدي پولیسو په کنډک برید تر سره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

کونړ مرکز ته ځېرمه پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت مرکز اسعداباد ته نژدې په شګۍ سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید تر سره شو، د برید له امله ۱ عسکر ټپي شوی او د پوستې ودانۍ زیانمنه شوه. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

خاص کونړ کې په برید کې ۲ اربکیان ټپیان شول

د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ په ولۍ سیمه کې د اربکیانو په ګزمه برید تر سره شو چې په مهال یې ۲ اربکیان ژوبل شول او نور و تښتېدل. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

ماڼوګي کې په بیس برید زیان واړاوه

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ په کنډه ګل سیمه کې د مزدوري اردو په بیس برید تر سره شو، په برید کې ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۱ رینجر تخریب شو او ۲ عسکر ټپیان شول. ۱۳– ۰۷– ۲۰۱۴

کونړ مرکز ته ځېرمه د دښمن په مرکز میزایل وارشول

د کونړ ولایت مرکز اسعداباد ته نژدې د توپچي په امریکایي مرکز ۲ میزایل وتوغول شول چې په نښه شوي ځای ولګېدل او له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۴– ۰۷– ۲۰۱۴

ماڼوګي کې په بیس او پوسته برید، ۱۲ عسکر و ته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ په کنډه ګل سیمه کې د مزدوري اردو په بیس او دفاعي پوسته بریدونه تر سره شول، په بریدونو کې ودانیو ته په زیان اوښتو سربېره ۱۲ عسکر و ته مرګ ژوبله واوښته چې په ۴ ټانګونو کې د مرکز اسعداباد روغتون ته انتقال شول. ۱۵– ۰۷– ۲۰۱۴

وټه پور کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت د وټه پور ولسوالۍ په ملکانه سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید تر سره شو، په برید کې

دپوستې ودانۍ زیانمنه شوه او ۱ عسکر پکې ووژل شو. ۱۵- ۰۷- ۲۰۱۴

ځوکۍ کې په پوسته بریدوشو

د کونړ ولایت د ځوکۍ ولسوالۍ په ګټوقلعه سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱٦- ۰۷- ۲۰۱۴

وټه پور کې عسکر په درازکوف وویشتل شو

د کونړ ولایت د وټه پور ولسوالۍ د مناګي په بیس کې د مزدوري اردو یو عسکر په درازکوف په نښه او وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۱۷- ۰۷- ۲۰۱۴

سرکانو کې په پوسته بریدزیان واړاوه

د کونړ ولایت دسرکانو ولسوالۍ په ترناب سیمه کې د مزدوري اردو د کانټینر په پوسته برید ترسره شو، د برید له امله کانټینر تخریب شو او پکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۷- ۰۷- ۲۰۱۴

مروره کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په مورګام سیمه کې د دښمن په دوو پوستو بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې دپوستو ودانیو ته زیان واوښت خو د مرګ ژوبلې په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۷- ۰۷- ۲۰۱۴

چپه دره کې ماین قومندان او عسکر یې ووژل

د کونړ ولایت د چپه درې ولسوالۍ په ګوسلک سیمه کې د مزدوري اردو په عسکرو چاودنه وشوه، دچاودني له امله د پوستې قومندان او ۱ عسکر ووژل شول. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

کونړ مرکز ته نژدې په بیس میزایل وار شول

د کونړ ولایت مرکز اسعداباد ته نژدې د امریکایي عسکرو د توپچي په بیس ۲ میزایل وتوغول شول چې په نښه شوي ځای ولګېدل او له امله یې دښمن ته مالي او ځاني زیان واوښت. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

وټه پور کې په بیس بریدوشو

د کونړ ولایت د وټه پور ولسوالۍ په مناګي سیمه کې د مزدوري اردو په بیس برید ترسره شو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

اسمار کې په پوسته بریدوشو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په بیلي سیمه کې د پول په سر پوسته باندې وسلوال برید ترسره شوچې له امله یې دښمن ته زیان واوښت. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

سرکانو کې د دښمن په بیس او پوسته بریدونه وشول

د کونړ ولایت دسرکانو ولسوالۍ په مدره سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید وشوچې له امله یې ودانۍ زیانمنه شوه او ۱ عسکر پکې ټپي شو، دغه راز د ولسوالۍ مرکز ته نژدې د مزدوري اردو بیس د هاوان په ۳ مرمیو وویشتل شو او له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

چپه دره کې مجاهدینو ۲ مجرمان ونیول

د کونړ ولایت د چپه درې ولسوالۍ مرکز ته نژدې په ازارمیر کلي کې د کلیوالو ترمنځ له لفظي شخړې وروسته ډزې شوې او یو کلیوال پکې مړ او بل ټپي شو، له پېښې وروسته مجاهدینو ۲ تنه ډزې کونکي مجرمان ونیول او د پېښې تحقیق کوي. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

ناړۍ کې په پوسته برید، ۱ پولیس وواژه

د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ په دوکلام سیمه کې د سرحدي پولیسو په پوسته برید وشو چې په مهال یې یو پولیس ووژل شو او ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۸- ۰۷- ۲۰۱۴

اسمار کې په پوسته برید، ۱ عسکر وژل شوی

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په بیلۍ سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید ترسره شوچې په مهال یې ۱

عسکر ووژل شو او ودانۍ هم زیانمنه شوه. – ۰۷– ۲۰۱۴
۱۹

ماڼوګي کې په پوسته برید، ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ په شیلام سیمه کې د مزدوري اردو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له امله ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره ۱ عسکر مړ او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۱۹– ۰۷– ۲۰۱۴

سرکانو کې په پولیسو برید وشو

د کونړ ولایت په سرکانو ولسوالۍ د ماشم اربکي پوستې ته څېرمه د پولیسو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې پولیسو ته د اوښتي مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۱۹– ۰۷– ۲۰۱۴

سرکانو کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت دسرکانو ولسوالۍ په نواپاس سیمه کې د سرحدي پولیسو پوسته تربرید لاندې راغله، دبرید په مهال ۱ پولیس ژوبل شو او ودانۍ هم زیانمنه شوه. په عیني وخت کې د ماشم اربکي پوستې ته نژدې په سرک جوړونکو عسکرو او اربکیانو هم برید ترسره شو چې له امله یې عسکر او اربکیان له سیمې وتښتېدل. ۱۹– ۰۷– ۲۰۱۴

مروره کې په پوسته برید شوی

د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په مورګام سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰– ۰۷– ۲۰۱۴

چپه دره کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت د چپه درې ولسوالۍ په ګوسلک سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید وشوچې په ترڅ کې یې ۱ عسکر ووژل شو او دپوستې ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۲۰– ۰۷– ۲۰۱۴

مروره کې په پوسته برید، ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت دمروري ولسوالۍ په غاخي کنډو سیمه کې دسرحدي پولیسو په پوسته برید ترسره شو، په برید کې ۱ پولیس ووژل شو او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰– ۰۷– ۲۰۱۴

څوکۍ کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د څوکۍ ولسوالۍ په ترناب سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۱-۰۷-۲۰۱۴

سرکانو کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالۍ په ګنجګل سیمه کې یو تن اربکی (فضل مولا) چې د ماشم اربکي په پوسته کې یې دنده ترسره کوله، له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۱-۰۷-۲۰۱۴

سرکانو کې په پولیسو چاودنه وشوه

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالۍ په نواپاس سیمه کې په هغو سرحدي پولیسو چاودنه شوې چې پوستې ته یې اوبه وړلې، دچاودنې له امله ۱ پولیس مرګونی ټپي شو. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

چپه دره کې په بیس برید، ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت د چپه درې ولسوالۍ په ګوسلک سیمه کې د مزدوري اردو په بیس برید ترسره شو، په برید کې ۱ عسکر مړ او ۲ نور ټپیان شول، په دې سربېره ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

اسمار کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د کونړ ولایت داسمار ولسوالۍ په شال سیمه کې دوسلوال برید په ترڅ کې ۱ عسکر ووژل شو او بل سخت ټپي شو. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

اسمار کې په پوسته برید، قومندان یې ووژل شو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ په شال سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته په داسې حال کې برید وشو چې

قومندان یې بهر راوتلی وو، له برید سره سم قومندان پوستې ته د تښتېدلو هڅه وکړه خو وویشتل شو او ځای په ځای ووژل شو، په برید کې د پوستې ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

مروره کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د مروري ولسوالۍ په مور ګام او دریدم سیمو کې د مزدوري اردو په پوستو بریدونه نرسره شول چې په ترڅ کې یې دښمن ته مالي او ځاني تلفات واوښتل. ۲۳-۰۷-۲۰۱۴

ماڼوګي کې په پوسته برید، ۳ عسکر ټپیان شول

